# د منازعې سره د حساسې پوهنې

## په اړه

### د INEE لارښود یاددښتونه



INEE

An international network for education in emergencies
Un réseau international pour l'éducation en situations d'urgence
Una red internacional para la educación en situaciones de emergencia
Uma rede internacional para a educação em situações de emergência
الشبكة العالمية لوكالات التعليم في حالات الطوارئ

# د منازعی سره د حساسې پوهنې

**په اړه**

**د INEE لارښود یاددښتونه**

INEE

An international network for education in emergencies
Un réseau international pour l'éducation en situations d'urgence
Una red internacional para la educación en situaciones de emergencia
Uma rede internacional para a educação em situações de emergência
الشبكة العالمية لوكالات التعليم في حالات الطوارئ

An international network for education in emergencies
Un réseau international pour l'éducation en situations d'urgence
Una red internacional para la educación en situaciones de emergencia
Uma rede internacional para a educação em situações de emergência
الشبكة العالمية لوكالات التعليم في حالات الطوارئ

په بیړنیو حالاتو کې د پوهنې لپاره د مؤسسانو تر منځ نړیواله شبکه (INEE) د نړیوالو فعالینو او پالیسي جوړوونکو یوه نړیواله شبکه ده چې په بیړني حالاتو کې با کیفیته پوهنې او خوندي درسي چاپیریال ته د وګړو د لاس رسي د تضمین په برخه کې کار کوي.

د INEE او ددې د کاري ګروپونو په اړه د لا ډیرو معلومات لپاره دې ویب پاڼې www.ineesite.org ته لاړ شئ

د INEE لږ تر لږه معیارونو په اړه د لا ډیرو معلوماتو لپاره دې ویب پاڼې www.ineesite.org/minimum-standards ته لاړ شئ

د پوهنې او بیړني حالتونو په اړه مواد او توکي تر لاسه کولو لپاره دې ویب پاڼې www.ineesite.org/toolket ته لاړ شئ

د INEE لخوا چاپ شوی

د آی آر سي په مرسته

۱۲۲ ختیځ ۴۲ سرک

نیو یارک، نیویارک ۱۲۸۹-۱۰۱۶۸

د امریکا متحده ایالات

INEE©2013

د چاپ حق خوندي دی. که څه هم ددې موادو حقونه خوندي دي خو بیا هم ښایي چې د ځینو پوهنیزو موخو لپاره بیا ځلې چاپ شي. خو په نورو ځایونو او حالتونو کې د کارولو لپاره د کاپی کولو په اړه باید د چاپ د حق د لرونکي څخه اجازه وغوښتل شي: minimumstandards@ineesite.org

انخورونه: یونیسف او د ناروې د کډوالو اداره

© یادګیرنه: د یونیسف د ټولو انځورونو د چاپ حقوق خوندي دي او د یونیسف د لیکلی اجازې څخه پرته په هیڅ ځای کې د کارولو حق نلري.

د کتاب د پوخ انځور: د غزې په تراړه کې، یو نجلۍ د پوځي برید په پایله کې د نړیدلی ښوونځي د سوري دیوال څخه بهر ته ګوري. © یونیسف/ Iyad El Baba/۲۰۰۹-۶۲۰۰NYHQ

# لړلیک


**لومړۍ برخه** **پیژندنه**

د لاربښوونو یاددښت ولې جوړ شوی؟ ۷

د لاربښوونو د یاددښت موخه څه ده؟ ۹

د لاربښوونو دغه نوټ د چا لپاره دی؟ ۹

د لاربښوونو په دې نوټ کې څه څه ځای په ځای شوي؟ ۹

د لاربښوونو دغه نوټ څنګه تنظیم شوی؟ ۱۰

د لاربښوونو د دغه نوټ سره نور کوم اضافي مواد شامل دي؟ ۱۲

د منازعې لخوا د اغیزمنې کیدونکې پوهنې یو څو اړین مفاهیم ۱۲

**دویمه برخه** **د منازعې سره د حساسې پوهنې لپاره ستراتیژۍ**

د منازعې سره د حساسې شننې،

ګډون او همغږۍ لپاره ستراتیژۍ ۱۵

د منازعې سره د حساسې لاسرسی او د منازعې سره د حساس

ښوونیز چاپیریال لپاره ستراتیژۍ ۲۵

د منازعې سره د حساسې ښوونې او زده کړې لپاره ستراتیژۍ ۲۹

د ښوونکو او د پوهنې د نورو کارکوونکو لپاره د منازعې سره د حساسو

فعالیتونو ستراتیژۍ ۳۴

د منازعې سره د حساسې پوهنیزې پالیسی لپاره ستراتیژۍ ۳۸

**دریمه برخه** **سرچینې**

لومړۍ ضمیمه - د منازعې سره د حساسې پوهنې لنډ ماخذ ۴۳

دویمه ضمیمه - د منازعې د شننې د فعالیتونو او وسایلو لړلیک ۵۴

دریمه ضمیمه - څیړنیزې بیلګې ۵۶

څلورمه ضمیمه - د موضوع پر اساس ماخذونه ۶۵

پنځمه ضمیمه - ماخذونه ۷۰

## یادګیرنه

د لارښووونو دا یاددښت د INEE د لړ تر لړه معیارونو د کاري ډلی لخوا جوړ شوی دی. د لارښوونو دا یاددښت د سینتیا کونز لخوا لیکل شوی او د آریانا سلوټ او سویټمیرا لایوب (INEE) لخوا ورته مفهوم ورکړل شوی. د دې یاددښت لپاره نور اړونده مواد د INEE د سکرتریت، د لږ تر لږه معیارونو په اړه د کاري ګروپ/ډلي او د حساسي پوهني په اړه د INEE د یوې بلې کاري ډلي لخوا برابر شوي دي. د لاندې کسانو څخه د هغوی د ارزښتناکه مرستې لپاره مننه کوو: انیا ازاریفا (UNICEF)، آریانا سلوټ (INEE)، کارولین والډچن (UNICEF)، الیزابیت کول ( د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوټ)، فریډزیک افولټر (UNICEF)، جیسیکا اولیفر (د کاناډا د پراختیا نړیواله ایجنسي)، جونتن پینسن (کامن ویلت نړیاول)، لینډسی برډ (UNESCO)، مارګاریت سینکلیر (تر ټولو مخکې زده کړه) ماریا لوشیا یورایب توریس (INEE)، مارټا ریشي(INTERSOS)، مورټین سیګسګارډ (UNESCO-2EP)، اوسکار روډریګز (Norwegian Refugee Council)، پیټر هیل لارسن (Action Aid)، سیلي سیواګ سکې (Norwegian Refugee Council)، سویټویمیرا لایوب (INEE)، ویلنټینا پیرټو (INTERSOS)، او زینیب ایم. ترکمن ساندوک (د ماوی کالیم د ټولنیزې مرستې او چندې اتحادیه)

د انځورونو مرسته د ان ډینیز (UNICEF) او مالي کمیمورا (UNICEF) لخوا.

تصحیح: لینډزی فریزر، آریانا سلوټ او تزیتومیرا لوب (INEE).

ډیزاین او طرح: 2D Studio.

INEE غواړي چې د UNICEF څخه ددې لارښود د جوړولو په بهیر کې د مالي مرستې څخه مننه وکړي. همدارنګه INEE د ۲۵ نورو ادارو، مؤسسو او انستیټیوټونو څخه ددې شبکې سره د لومړۍ ورځې څخه د مرستې لپاره مننوی دی. د مرسته کوونکو د بشپړ لیست لپاره د INEE ویب پاڼې www.ineesite.org/acknowledgements ته لاړ شی.

# ۱

# پیژندنه

## د لاربښوونو دا  یاددښت  ولې جوړ شوی دی؟

د لاربښوونو دا  یاددښت  د لاندې شیانو د پیژندلو په غبرګون کې جوړ شوی:

- پوهنه یو بشري حق دی.
- د وسلوالو نښتو له امله اغیزمن شوي هیوادونه  د 'پوهنه د ټولو موخو لپاره'  (Education for All Goals) او د زریزې پراختیایی موخو  (Millennium Development Goal) له مخې باکیفیته پوهنې ته د ټولو د لاس رسي ترلاسه کولو کې تر ټولو پاتې هیوادونه دي. (یونیسکو، ۲۰۱۱:۲، نړیوال بانک، ۲۰۱۱: ۵۰).
- د منازعې له لاسه اغیزمن شوي هیوادونو کې د پوهنی پروګرامونو او پالیسیو د منازعې او شخړې فکتورونه هم یی بنه کړي او هم یې لاپسې جدي کړي دي (UNESCO، ۲۰۱۱: ۱۶۰، ۲۲۱)
- د منازعې او شخړې  سره د حساسي زده کړې د ملاتړ په بنسټ کارکوونکي کولای شي چې  منازعې ته د لمن وهلو پر ځای د سولې راوستلو لپارخ کار وکړي.

معیاري او باکیفیته پوهنې ته لاسرسی یو بشري حق دی. د پوهنې دغه حق په نړیوالو سیاسي ژمن لیکونو  کې لکه 'پوهنه د ټولو موخو لپاره'  (Education for All Goals) او د زریزې پراختیایی موخو  (Millennium Development Goal) کې رانغاړل شوی، او هم په نورو نړیوالو حقوقي اسنادو کې (چې لاندې لیست شوي دي) ځای پر ځای شوی:

- د ۱۹۴۸ کال د بشري حقونو نړیواله اعلامیه (دویمه او شپږویشتمه ماده)
- د کال ۱۹۴۹ د جینیوا ځلورم کنوانسیون (درېمه، ځلورویشتمه، او پنځوسمه ماده)، او د کال ۱۹۷۷ دویم اضافي پروټوکول (درېمه او ځلورمه ماده)
- د  کال ۱۹۵۱ د کډوالو د وضیعت په اړه کنوانسیون (درېمه او دوه ویشتمه ماده)
- د کال ۱۹۶۶ د سیاسي او مدني حقونه په اړه نړیوال ژمن لیک (دویمه ماده)
- د کال ۱۹۶۶د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو په اړه نړیوال ژمن لیک (دویمه، دیارلسمه او څوارلسمه ماده)
- د کال ۱۹۷۹ د ښځو پر وړاندې د هر ډول تعصب او تاوتریخوالی له منځه وړلو کنوانسیون (لسمه ماده)
- د کال ۱۹۸۹ د ماشوم د حقونو په اړه کنوانسیون (دویمه، دوه ویشتمه، اته ویشتمه، نه ویشتمه، دیرشمه، اته دیرشمه، او نه دیرشمه ماده)
- د کال ۱۹۸۸ د روم د مجرمینو د نړیوالې محکمې اساسنامه (۸,۲ ای او ۸,۲ اي ماده)
- د کال ۱۹۹۸ د داخلي بې ځایه کیدنې لاربښوونې (درویشتم پرګراف)
- د کال ۲۰۰۶ د معلولینو د حقونو په اړه کنوانسیون (ځلورویشتمه ماده)
- د بین الملل د عمومي راټولیدنې ځلور شپیتمه تصویب نامه (۲۹۰ ناسته، په بیړني حالت کې پوهنه ۲۰۱۰)
- په ښوونځیو د بریدونو(۲۰۱۱) د ځار لپاره د ملګرو ملتونو د امنیتي شورى ۱۹۹۸ تصویب نامه

د  منازعې له امله په ځپل شویو محتواو او شرایطو کې د ماشومانو او ځوانانو لپاره د پوهنې حق په بشپړه توګه لا ندی ورکړل شوی. په نړیواله کچه له هغو ۶۱ ملیونو ماشومانو څخه چې د لومړنیو زده کړه څخه پاتې دي، ۲۸ ملیونه هلکان او نجونې —— چې د نړۍ ۴۲ ٪ سلنه جوړوي، په جګړه ځپلو هیوادونو کې ژوند کوي. (UNESCO، ۲۰۱۱: ۲). په ملیونونه نور ځوانان په ورته محتوا او شرایطو کې د کار موندلو لپاره اړونده زده کړو او مهارتونو ته لاس رسی نلري. د نورو هیوادونو په پرتله، په منازعه ځپلو هیوادونو کې منځني ښوونځیو کې د داخلیدو عمومي کچه ٪۳۰ سلنه ټیټه ده، او نور ٪۲۱ سلنه ځوانان یی نالوستي دي.(UNESCO ۲۰۱۱: ۱۳۲). په اوسطه توګه هغو هیوادونو چې د ۱۹۸۱ کال څخه تر ۲۰۰۵ کال پورې یې یوه لویه جګړه او ناامني تجربه کړې ده، د فقر کچه یې د هغو هیوادونو په پرتله چې په ورته وخت کې یی کومه جګړه یې درلوده، ٪۲۱ سلنه لوړه ده . (The World Bank, 2011:5). په پراخه کچه جنسیتی تاوتریخوالی، پر ښوونځیو بریدونه او نورې زورونې په خوندي چاپیریال او معیاري زده کړه ته د نجونو، هلکانو، د ځوانو ښځو او سړیو د لاس رسي مخه نیسي..

اوس دا په پراخه کچه منل شوې چې منازعه او شخړه د پوهنې سره دوه اړخیزه او مغلقه اړیکه لري (د بیلګې په ډول بوش او سالتیرالي، ۲۰۰۰). په ښکاره توګه جګړه او شخړې د پوهنې بهیر ځنډني کوي. په ډیرو جګړه ځپلو ځایونو کې لکه په سیرالیون، نیول شوی فلسطین، عراق، افغانستان او پاکستان کې د پوهنې سستم او بهیر په مخامخه توګه اغیزمن شوی دی. د دې تر څنګ، پوهنه هم  منازعې ته لاره هوارولی شي،  لکه د هغه  انګېرنو او رویو خپرول چې کولای شي د ډلو او ګروپونو تر منځ کشالۍ  نورې هم ډیرې کړي. دا کار په جګړه ځپلې  بوسنیا هرزګوینه کې د ۱۹۹۵ کال نه وروسته وشو چې فرقه یې زده کړه به ورکول کیده ( میګل، ۲۰۱۰: ۱۴-۱۴)، او همدارنګه دا کار ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کلونو په اوږدو کې په افغانسان کې هم وشو چې د توند محتوا لرونکي نصابي کتابونه چاپ او خپاره شول (کریک، ۲۰۰۲ ۹۴-۹۰: سپینک، ۲۰۰۵: ۱۹۵).  په معکوس ډول  پوهنه کولی شي داسې یو ټولنیز بدلون رامنځته کړي، چې یوه ویستل شوې او رد شوې ډله یا ټولنه بیرته شتون او وجود ومومي. دا کار په روانډا کې د ترسره کیدو په حال کې دی چرته چې د سولې ټینګولو نصاب او لارښودونکي فعالیتونه نوي نسل ته د یووالي او درناوي ارزښتونه په ګوته کوي (کینګ، ۱۴۹-۲۰۱۱:۱۴۵). په ګویتیمالا کې، د ۱۹۶۶ د سولې په راوستنه کې داسې ژمنې او تعهدات شامل وو چې د ځایي وګړو لپاره یی د بین الکلتوري او دوه ژبه نیزې پوهنې ته وده ورکړه، تر څو د محرومیت او ویستنې کچه راټیټه او د سولې په ټینګولو کې مرسته وکړي. (UNESCO, 2011:223).

په پیچلي شرایطو کې دا د پوهنې ځواک او قدرت پورې تړلې ده چې پوهنه دې په روغه جوړه، سولې او په شخړو او ماغه ښکاره اغېزه ولري، او د پوهنې پالیسي جوړونکي دې ته اړ کړي چې د ټولو وګړو د پوهنې حق خوندي کړي. د پوهنې هغه پالیسۍ او پروګرامونه چې یوازې تخنیکي حل لارې  په نظر کې نیسي، بسنه نه کوي چې په جګړه ځپلي شرایطو کې شته ستونزې او ننګونې په ګوته کړي. که چیرته د پوهنې  په پالیسیو او پروګرامونو کې منازعې او شخړې ته پام ونه شي،   دا ویره شته چې د پوهنې لپاره پانګه اچونه به اندېښنې لا نورې هم زیاتې کړي.  په جګړه ځپلو شرایطو کې د پوهنې پلیسۍ او پروګرامونه باید د منازعې سره حساس وي، یعني د پوهنې پالیسۍ اوپروګرامونه باید له یو اړخه منفي اغیزې راکمې، او بلې خوا ته د مثبتو اغېزو د ډېرولو په هڅه کې وي.

که څه هم نن ورځ ډیرې معلومات د منازعې او جګړې/ یا پوهنې په اړه شتون لري (لکه UNESCO 2011، -Dryden Peterson and Mundy, 2011 Save the Children, 2010) او یا هم د  منازعې د حساسیت په اړه (لکه  Gaigals and Leonhardt 2000; Conflict Sensitivity Consortium, 2012; Bush, 1998; APFO et al, 2004)، خو داسې ډیرې لږې سرچینې دي، چې مونږ ته دا را وښایي چې څنګه کولای شو د  منازعې سره حساس پوهنیز پروګرامونه او پالیسۍ جوړې کړو (لکه Sigsgaard, 2012; UNESCO-2EP, 2011). نو ځکه د  منازعې سره د حساسې پوهنې په اړه د INEE د لارښوونو دغه  یاددښت  په دې موخه جوړ شوې چې د پوهنې فعالینو او پالیسي جوړوونکو ته د سرچینو داسې یوه وسیله برابره کړې تر څو د منازعې سره حساسه پوهنه وړاندې کړي.

## د لارښووونو ددې  یاددښت موخه څه ده؟

په کال ۲۰۱۰ کې، د  منازعې او د شخړې د راکمولو په هکله ډیر څه د آیي این اي اي (INEE) د پوهنې لپاره لږ تر لږ معیارونو کې ځای په ځای شوي وو: چمتووالی، غبرګون او بیا رغونه ـ یو داسې لاسي کتاب چې د بیړني حالاتو په ټولو پړاوونو کې د پوهنې د کیفیت او د لاس رسی لږ تر لږه کچه څرګندوي. دا لاسي کتاب، حکومتونو او بشري مرسته کوونکو ته د وسایلو او اوزارو د برابرولو په موخه جوړ شوی، تر څو اړونده پوهنې ته د خلکو لاس رسی پیاوړی کړي، او د ورته مرستو په وړاندې کولو کې رونتوالی او شفافیت رامنځته کړي.

د لارښوونو د دې  یاددښت یوه موخه دا هم ده چې د INEE لږ تر لږه معیارونه پراخه کړي تر څو د  منازعې سره د حساسې پوهنې لپاره د ماخذ یوه وسیله وګرځي، او د هغو کارکوونکو لپاره چې په جګړه ځپلو محتواوو کې کار کوي،  سرچینې وړاندې کړي.

یادې ستراتیژۍ  نه د فکري تحرک او خوځښت په موخه او نه د یوې وړاندیز شوې نسخې په موخه دې: د هرې نادرې محتوا او شرایطو سره عیارېدل یې اړین دي. دغه لارښود د  منازعې په ټولو پړاونو کې د زده کړې  رسمي او غیر رسمي ډولونو ـ لکه د ښوونځي څخه مخکې، لومړنی ، منځنی او تر هغې لوړې زده کړو ته په کتو سره جوړ شوی دی.

## د لارښوونو دا یاددښت د چا لپاره دی؟

د لارښوونو دا  یاددښت  پوهنې د هغو فعالینو او پالیسي جوړوونکو لپاره دی چې په جګړه ځپلو محتواوو او شرایطو کې کار کوي. اختیاري ستراتیژۍ کولای شي چې حکومت، پراختیایي او بشردوستانه خبر او آګاه کړي . د لارښوونو  یاددښت  کیدای شي نورو ډلو ته هم د ګټې وړ وي لکه بشردوستانه او پراختیایي ډونران، او  هغه وګړي چې په نورو سکتورونو کې کار کوي: د ماشوم خوندیتوب او ساتنه، روغتیایی ښوونځي. ، اوبه او حفظ الصحت، د ناورین او آفت خطر راکمول، سوله راوستل، د ماشوم لومړنی پراختیا او معیشت.


## د لارښوونو په دې  یاددښت  کې کوم شیان ځای په ځای شوي دي؟

**لومړۍ برخه** د لارښوونو د  یاددښت  پیژندګلوي ده، او هغه اساسي تصور او مفهوم وړاندې کوي چې د منازعې او  منازعې سره د حساسو پوهنیز پروګرامونو سره تړاو لري.

**دویمه برخه** هغه ستراتیژۍ تشریح کوي چې باید د منازعې سره حساس پوهنیز پروګرامونو کې پلي شي.

**دریمه برخه** ګټورې سرچینې په ګوته کوي چې په کې ۱) د منازعې سره د حساسې پوهنې لنډ او چټک ماخذونه ، ۲) د منازعې د شننې د فعالیتونو او وسایلو لیستونه، ۳) څیرنیزې بیلګې، او ۴) د مضمون پر اساس د سرچینو لیستونه وړاندی کوي.

## د لاربښوونو دا  یاددښت  څنګه تنظیم شوی؟




د لاربښوونو ددې  یاددښت  جوړښت د پوهنې لپاره د لږ تر لږه معیارونوـ چمتو والی، غبرګون، رغول، پر اساس ولاړ دی: په ځانګړې توګه دویمه برخه او د  منازعې سره د حساسې پوهنې د سرچینو لنډ او چټک ماخذ د ای این اي اي د لږ تر لږه معیارونو د پنځو ځېرکو پر اساس ولاړ دیی (لاندې آسماني رنګه بکسونه وګورئ): بنسټیز معیارونه، ښوونه او زده کړه، ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي او  او د پوهنې پالیسي. د هر معیار لپاره په هر  ځېرکی د  منازعې سره د حساسې پوهنې لپاره ستراتیژۍ  ورکړل شوې دي.

ولې باید د آی این اي اي د لږ تر لږه معیارونو جوړښت د  منازعې سره د حساسې پوهنې په اړه د چوکاټ په توګه وکارول شي؟ د آین این اي اي د لږ تر لږه معیارونو د ۲۰۱۲ کال د ارزونې په راپور کې داسې کښل شوي دي:

- د آی این اي اي د لږ تر لږه معیارونو لاسي کتاب په پراخه کچه په جګړه ځپلو محتواوو او شرایطو کې کارول کیږي (په جګړه ایزو محتواوو کې ٪۵۰ سلنه کاروونه)
- د آی این اي اي د لږ تر لږه معیارونو د جوړښت پنځه (۵) ځېرکي او  د نولس (۱۹)معیارونو جوړښت ښوونې د پوهنې په کارونو کې تر ټولو ډېر کاریدونکی او منل شوی جوړښت دی ( زیاتره د نړیوالو مؤسساتو لخوا د چمتووالي په فعالیتونو کارول کیږی).
- د آی این اي اي لږ تر لږه معیارونه د یوې لوړې کچې مشورتي پروسې نه وروسته جوړ شوي دي.
- د آی این اي اي معیارونه د پوهنې ډیر اړخونه د پوښښ لاندې نیولي دي، لکه د یو داسې ګټور چوکاټ په توګه چې کولای شي د پوهنې لپاره نوی ډګر او برخې په ګوته کړي، لکه د منازعې حساسیت.

د پوهنې لپاره لږ تر لږه معیارونه:
چمتووالی، غبرګون، بیا رغونه

# نقشه

INEE

## بنسټیز معیارونه

**د ټولنې د ونډې اخیستنې معیارونه:** ونډه اخیستنه او سرچینې — **د همغږۍ معیار:** همغږي — **د شننې معیارونه:** لومړنۍ ارزونه، د غبرګون ستراتیژۍ، څارنه او وروستۍ ارزونه

### لاسرسی او د زده کړې چاپېریال

**لومړی معیار: مساوي لاس رسی** — ټول خلک اروند او با کیفیته پوهنیزو فرصتونو ته په مساوي ډول لاس رسی لري.

**دویم معیار: خوندیتوب او هوساینه** — د زده کړې چاپېریال خوندي او مستقل دی، او د زده کوونکو، ښوونکو او د ښوونې او روزنې نورو کارکوونکو خوندیتوب او رواني هوساینه پیاوړې کوي.

**دریم معیار: آسانتیاوې او خدمتونه** — د پوهنې اسانتیاوې او خدمتونه د زده کوونکو، ښوونکو او د پوهنې نور کارکوونکو هوساینه او خوندیتوب چې د روغتیا، تغذیې او خوندیتوب سره تړاو لري، پیاوړی کوي.

### ښوونه او زده کړه

**لومړی معیار: نصاب** — د خاڅګړي محتوا کلتوري، ټولنیز، ژبني اصولو او د زده کوونکو د رسمي او غیر رسمي زده کړو د اړتیاو سره سم اړونده او مناسبه نصاب کارول کیږي.

**دویم معیار: روزنه، مسلکي وده او مرسته** — ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي د اړتیاوو او شرایطو سره سم نوبتي، اړونده او منظم ترینګونه او روزنې تر لاسه کوي.

**دریم معیار: ښوونه او زده کړې پروسې** — د ښوونې او زده کړې پروسې باید شاګرد پاله، مشارکتي او هر اړخیزه وي.

**څلورم معیار: د زده کړې د لاسته راوړنو ارزونه** — د زده کړې د لاسته راوړنو د ارزونې او ارزښت ورکونې لپاره مناسب میتودونه کارول کیږي.

### ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي

**لومړی معیار: استخدام او انتخاب** — یو شمېر ور او په مناسبه توګه روزل شوي ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي د شفاف، ازاد رقابت، د برابرۍ او د تنوع معیار په نظر کې په نیولو سره ګومارل شوي دي.

**دویم معیار: د کار شرایط** — ښوونکو او د پوهنې نور کارکوونکو ته د کار شرایط په ښکاره او واضح ډول بیان شوي او مناسب تنخا او معاش ورکول کیږي.

**دریم معیار: مرسته او سپروېژن (څارنه)** — د ښوونکو او د پوهنې نور کارکوونکو د څارنې او مرستې لپاره جوړ شوي میکانزمونه په اغیزناکه توګه کار کوي.

### د پوهنې پالیسي

**لومړی معیار: د پوهنې قانون او پالیسي جوړول** — د پوهنې چارواکي باکیفیته زده کړو د پانګه او بیا رغونې تر څنګ د پوهنې هر اخیزه ګولو او وړیا ګولو ته لومړیتوب ورکوي.

**دویم معیار: د پلان جوړول او پلي کول** — د پوهنې فعالیتونه د پوهنې د نړیوالو او ملي پالیسیو، قانون، پلانونو او معیارونو تر څنګ د خپل شویو وګړو د اړتیاو سره سم برابرېږي.

**کلیدي موضوعګانې:** د منازعې راګمول، د ناورین ګواښونه راګمول، د ماشوم‌توب د لومړي پړاو زده کړې، جندر، HIV/AIDA، بشري حقونه، هر اړخیزه زده کړې، د سکتورونو خپل منځه اړیکې، خوندیتوب، د رواني هوساینه او ټکي خوانان

### د لاربښوونو د دې یاددښت سره د آی این اي اي نورې کومې وسیلې مل دي؟

د دې لارښود د بشپړولو لپاره د آیي این اي اي دوه سرچینې دي چې د آیي این اي اي په ویب پاڼه شتون لري

http://www.ineesite.org/en/education-fragility

### د منازعې سره د حساسې پوهنې لپاره د تشخیص اوزار

د منازعې سره د حساسې پوهنې لپاره د تشخیص اوزار د پوهنې د کارکوونکو او نورو هغه اړونده شریکانو لپاره دی چې په حساسو، منازعې او جنګ ځپلې شرایطو کې د پوهنې په اړه اندېښمن دي. د تشخیص وسیلې او اوزار کولای شي چې د پروګرام په ټولو پړاوونو کې د منازعې سره د حساسې پوهنې د پرمختګ او پیاوړتیا په برخه کې وکارول شي: د INEE لږ تر لږه معیارونو په اساس ولاړ دې لارښود کې د ارزونې، طرح، تطبیق /مدیریت، څارنې او ارزیابی، د ټولنې د ګډون اصول ، مساوات، لاس رسی، کیفیت او څرنګوالی، ورته والی او خوندیتو ځای په ځای شوي.

### د پوهنې پالیسیو او پروګرامونو کې د مناعې سره د حساسې پوهنې د ادغام په اړه لارښود اصول

دا لارښود اصول د هغه ټولو اړونده شریکانو لپاره دي چې په جګړه ځپلو شرایطو او محتواوو کې د پوهنې په برخه کې کار کوي. د دې اصولو کارول دا ډاډ ورکوي چې د منازعې سره د پوهنې حساسیت ته په پوهنیزو پالیسیو، پروګرامونو، وړاندیزونو (Proposals) کې ورته پام شوی دی.

### د منازعې سره د حساسې پوهنې اساسي مفاهیم

د منازعې سره حساسه پوهنه څه ده؟

**د منازعې سره حساسه پوهنه د لاندې شیانو پروسه ده:**

۱. د هغه شرایطو او محتوا پوهه چې ښوونه او روزنه په کې ترسره کیږي

۲. د پوهنیزو پروګرامونو او پالیسیو او د شرایطو او محتوا تر منځه د دوه اړخیزه اړیکې شننه (پراختیا، پلان، سپارنه او رسونه ); او

۳. د یو اداري د لومړیتوبونو تر څنګ په داسې ډول کار کول چې پوهنې پالیسی او پروګرامونه د منازعې او شخړې منفي اغېزې راکمې او مثبتې اغېزې ډېرې کړي.

د منازعې سره د حساسې پوهنې د پروګرامونو د رسولو په لار کې لومړی او مهم ګام **د منازعې او شخړې شننه** ده.دا د منازعې د تاریخچې،اساسي لاملونو، فعالانو او محرکاتو هغه سیستماتیکه زده کړه او مطالعه ده کوم چې سولې او یا هم منازعې ته لاره هواروي، او د پوهنې د پالیسیو او پروګرامونو سره تړاو لري. (یونیسف، ۲۰۱۲:

په دې لارښود کې **منازعه ځپلې او حساس شرایط** هغه حالت ته ویل کیږي چې د وسلوالې نښتې لخوا اغیزمن شوی وي (یا هم ښایي چې اغېزمن شي). ځانګړې پاملرنه او توجه د منازعې له لاسه اغېزمن شوې پوهنې ته شوې. منازعه ځپلې پوهنه د زده کړې هر هغه چاپېریال (رسمي او غیر رسمي، د ښوونځي څخه د مخکې زده کړو څخه تر د لویانو زده کړو پورې) ته ویل کیږي چې یا خو د منازعې له لاسه ځپل شوی وي او یا هم ښایي چې وځپل شي. که څه هم دا لارښود د لومړیو زده کړو څخه مخکې او تر منځنی زده کړو پورې د پوهنې په فعالیتونو تمرکز کوي، خو بیا هم ډیری لارښوونې کېدای شي د لویانو لپاره وکارول شي.

**د سولې جوړونه او د منازعې حساسیت** ډیری  وخت د یو بل پر ځای کارول کیږي، او ځیني وخت د ځینواړونده شریکانو لخوا په بیلابیلو معناوو کارول شوی دی.لکه څرنګه چې پورته وویل شو، د دې لپاره چې سیمه یی راټوله او په پراخه توګه یی وضاحت وشي، دا لارښود یاددښت د منازعې سره د حساسي پوهنې په یو ځانګړي تعریف او معنا تمرکز کوي: د منازعې شرایطو ته په کتو سره د پوهنې پالیسی او پروګرامونه په داسې توګه وړاندې شي چې د شخړې او منازعې منفي اغېزې (لکه شخړې او  منازعې ته لمن وهل) او مثبتې اغیزې لا ډیرکړي . د لارښوونو په دې  یاددښت  کې د سولې جوړوني اصطلاح په دې معنی اخستل شوې چې هغه فعالیتونه دي چې د  منازعې اساسي لاملونه څیړي او د سولې په راوستلو کې مرسته کوي.

پرتله: د  منازعې حساسیت او سوله راوستنه

(د وودروWOODROW  او چیګاس CHIGAS څخه اخیستل شوی، ۲۰۰۹:۱۰،یونیسف UNICEF، ۲۰۱۲)

| د منازعې او شخړې حساسیت | د سولې راوستنه |
|---|---|
| **تعریف:** هغه وړتیا ده چې:<br>• په هغه شرایطو او محتوا پوهېدل په کوم کې چې یوه اداره کار کوي، په ځانګړې توګه د ډلو او ګروپونو خپل منځه اړیکې;<br>• د محتوا، د ډلو او د خپل مینځګړیتوب په مداخله او اړیکو بنه پوهیدل<br>• د اړیکو او د مداخلې د پوهاوي په بنسټ کار کول تر څو منفي اغیزې کمې او مثبتې اغیزې یی زیاتې کړي | **د سولې راوستنې تعریف:** هغه طرح شوې لارې چارې چې:<br>• سوله بیزې اړیکې پیاوړې کول<br>• په سیاسي، ټولنیزه، اقتصادي او په کلتوري ډول انستیټیوټونه او بنسټونه پیاوړي کول تر څو د منازعې د اداره کولو وړتیا ولري; او<br>• د سولې د پایښت لپاره د اړینو حالاتو او داسې نور مېکانزمونو پیاوړي کول |
| **موخه:** د منازعې په عواملو او فکتورونو باندې کار وکړی تر څو په ټولنیزه کچه سوله رامنځته شي. | **موخه:** د منازعې او د  منازعې په محتوا او شرایطو کې کار وکړی  تر څو د منفي اغیزو مخنیوی وشي او که چیرته شوني وي، د ناوتریخوالي او منازعې په اړه د پروګرامونو مثبتې اغیزې ډیرې شي |

# ۲

# د منازعې سره د حساسې پوهنې ستراتیژۍ

د لاربښوونو د یاددښت راتلونکې برخه په لنډه توګه د INEE د لږ تر لږه معیارونو د هر یو ځپرکی لپاره د منازعې سره حساسېت لرونکی پوهنیزې ستراتیژۍ تشریح کوي:

۱. بنسټیز معیارونه

۲. لاس رسی او د زده کړې چاپیریال

۳. ښوونه او زده کړه

۴. ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي ، او

۵. د پوهنې پالیسي

د دویمې برخې لپاره محتوی او توکي د آیي این اي اي د پوهنې لپاره د لږ تر لږ معیارونو: د چمتووالی، غبرګون او د رغونې ۲۰۱۰ لاسي کتاب د مهم ګامونو او اوسنی لیکونو او مضمونو څخه راخیستل شوي دي.

د پوهنې لپاره د آی این اي اي د لږ تر لږه معیارونو د هر یو ځپرکي او معیارونو لپاره لاندې برخې ورسره ګډې شوې دي:

- **هغه ستراتیژۍ** چې کولای شي د منازعې سره حساسه پوهنه پیاوړې کړي
- که چیرته د پوهنې کارونه په ریښتیا هم د منازعې سره حساسي وي، باید **انعکاسي پوښتنې** پام کې ونیول شي، او
- د منازعې سره د حساسې پوهنې **بیلګې**

# لومړی څپرکی

## د منازعې سره د حساسې شنني، ګډون او همغږۍ لپاره ستراتیژۍ

د آی این اي اي د لږ تر لږه معیارونو لومړۍ څپرکی : بنسټیز معیارونه *

د شنني معیارونه

۱. **ارزونه:** په بیړني حالاتو کې د پوهنې پر وخت، هر اړخیزه، رښه او ګډه ارزونه تر سره کیږي.

۲. **د غبرګون ستراتیژۍ:** د هر اړخیزه زده کړو د غبرګون ستراتیژۍ د ځان سره د شرایطو او محتوا ښکاره وضاحت او بیان، د پوهنې د حق پر وړاندې شته خنډونه او ننګونې او د ورته ننګونو له منځه وړلو ستراتیژۍ رانغاړي.

۳. **څارنه:** د پوهنې د غبرګون کارونه او فعالیتونه په منظمه توګه څارل کیږي تر څو د اغیزمن شویو وګړو د پوهنې تولې اړتیاوو ته ځواب وویل شي. .

۴. ارزیابي: بې طرفه او سستماتیکي ارزیابی د پوهنې د غبرګون فعالیتونه ښه، او حساب ورکونه پیاوړې کوي..

* د دې لاربنود موخو لپاره، په دې فرعي برخه کې، لومړي څپرکی کې، معیارونه د آی این اي اي د لږ تر لږه معیارونو د ترتیب په شان ندي راوړل شوي د شنني معیارونه د ګډون او د همغږی د معیارونو څخه وړاندې راوړل شوي دي

په دې څپرکي کې د آیي این اي اي معیارونه د پاتې معیارونو د پلې کولو لپاره بنسټ ګڼل کیږي. دا د یو اغیزمن پوهنیز غبرګون لپاره چې د منازعې سره حساسیت لري ، اړین او لازمي دي. په دې څپرکي کې د آیي این اي اي (غټ او برجسته شوي) معیارونه د منازعې سره د حساسې پوهنې لپاره ستراتیژۍ په مفصل ډول بیانوي.

د یوه پوهنیز پروګرام یا پالیسي د عملي کولو لومړۍ ګام د شرایطو **ارزونه** ده. که چیرته یوه ارزونه د منازعې سره د حساسیت پر بنه ترسره نه شي نو دا به د ډلو او ګروپونو ترمنځه شخړې او منازعژ لا نورې هم زیاتې کړي. او کیدای شي په غیر ارادي توګه یو طرفه پوهنیز پروګرامونه او پالیسې په لاره واچوي. لاندې ستراتیژۍ په پام کې ونیسی تر څو دا ډاډ تر لاسه شي چې یوه ارزونه د منازعې سره حساسه ده ( منازعې سره د حساسې اتحادیې څخه را اخستل شوې دي، ۲۰۱۲، ۸):

- د لومړنۍ ارزونې په ترڅ کې باید د دې خبرې پخلی وشي، چې د احتمالي ګټه اخیستونکو تمه او هیلې ډېرې لوړې نه شي، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د پانګه اچونې او بسپنه ورکونې ډاډ نه وي تر لاسه شوی.
- دا په پام کې ونیسی چې کوم وګړي د پوهنې لومړنۍ ارزونه ترسره کوي، هغوی د چا لخوا ټولنې او یا دولت ته ورپیژندل شوي دي. آیا ځایي استازي د معلوماتو د راټولو لپاره استازي ټاکي، او یا هم باید استازیتوب ترې وشي، آیا داسې خو نه انګېرل کیږي چې دا هم د منازعې یو اړخ دی؟
- دا په پام کې ونیسئ چې د پوهنې د ارزونې بهیر او پروسه څوک اداره کوي. آیا د تنظیموونکي اداري مشر (یا هم ډونر او بسپنه ورکوونکي) لخوا داسې انګېرل کیږي چې د منازعې یو اړخ او یا هم بله کومه ځانګړې اجنډا پر مخ بیول کیږی، او یا هم دوي د ډلو تر منځه د همکارۍ او د بې طرفۍ کومه بېلګه وړاندې کوي؟

- دا په پام کې وساتئ چې د پوهنې اړوند معلوماتو لپاره د چا سره او په څه ډول سلامشوره کیږي تر څو دا ډار له منځه لاړشي چې یوې ډلې یا ګروپ په پرتله د بلې ډلې یا د ګروپ طرفداري شوی.

- د امکان تر حده د پوهنې اړونده معلومات د بیلابیلو سرچینو څخه لاس ته راوړئ (لکه د ملي پوهنې د مدیریت معلوماتي سستم، د ملکرو ملتونو د راپور ورکونې او څارنې میکانزم، او یا هم د پوهنې کلستر د ارزنې معلومات) تر څو تاسو وکولای شی چې معلومات سره پرتله کړئ او توپیر یې وګورئ
- د پوهنې د اوسنیو کارکوونکو او هغه وګړي چې د پوهنې معلومات وړاندې کوي، د هغوي د ځواک محرکات او وړتیا په نظر کې ونیسئ. په دې هم وپوهیږئ چې ورکړل شوي معلومات کیدای شي په ناارادي ډول په یو اړخیزه قضاوت ولاړ وي.

- د منازعې او د پوهنې د یو بل سره د اوسنیو او تاریخي متقابله اړیکو و تاریخ تړاو ته په کتود هغو خلکو د امنیت او خوندیتوب په اړه فکر وکړئ چې د پوهنې په اړه معلومات راټولو کې بوخت وي.

که غواړئ چې د پوهنې ارزونه د منازعې د حساسیت په ډول ترسره شي،تاسې باید په داسې پروسه کې د منازعې شننه، تحلیل او تجزیه هم ترسره کړئ. د منازعې تحلیل او شننه لاندې شیان برابروي:

- د هغو لاملونو، محرکاتو او ځواکونو په ښه ډول پیژندنه ده چې یا خو وسلواله نښته تقویه کوي او یا هم سوله
- یوداسې فرصت چې د منازعې اصلي لاملونه راڅرګند او لومړیتوب ورکوي، تر څو د پوهنې پروګرامونو (پراختیایي، بشردوسته، په هره کچه سوله راوستنه —پروژه ، پروګرام او سکتور) د خبراوي اساس وګرځي. (یونیسیف، ۲۰۱۳)

## د منازعې شننه څه ده؟

(د منازعې د حساسیت د اتحادیې ۲۰۱۲، ۶-۴ او د یونیسیف۲۰۱۲ : ۱۴-۱۲ څخه راخیستل شوی)

- **د منازعې شننه څه ته وایي؟**

د منازعې شننه ، د پوهنې د پروګرامونو او د پالیسیو سره د یوې منازعې د محرکاتو، کارکوونکو او فعالانو، اساسي لاملونو او د منازعې د تاریخ او تېر حال، هغه سستیماتیکه زده کړه ده، چې د سولې په راوستنه کې او یا هم د توندې منازعې او کړکیچ په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

- **ولې باید داسې شننه ترسره کړو؟**

د منازعې د شننې اصلي موخه دا ده چې د منازعې او پلان شوي ښوونیز پروګرام او پالیسي ترمینځ محرکات، برخه وال او اړیکې وڅیړل شي. له بلې خوا د منازعې شننه د شرایطو او محتوا د پوهاوي په اړه د ټولو شریکانو د یو نظر راټولو فرصت دی، تر څو د داسې ښوونیز کارونو په اړه معلومات ورکړل شي چې ناوړه اغېزې راکمې او مثبتې زیاتې شي.

- **د منازعې په شننه کې باید څوک برخه واخلي؟**

د منازعې په شننه کې: دولتي او نادولتي اداري، ملي او نړیوالې اداري، مدني ټولنې، ماشومان او ځوانان، د پوهنې د پروژو کارکوونکي، شریک لوري، د ټولنې عام وګړي، په ورته سیمه کې بوختې بشرپاله اداري، د پوهنې ځایي چارواکي او د نورو سکتورونو کارکوونکې او شریکان برخه اخیستلای شي. که څه هم کوم داخلي یا بهرنی چمتو کوونکی به د شننې د پروسې مشري په غاړه لري، خو بیا هم د سیمه ییزو ژمنو او هوکړو ترلاسه کولو لپاره یو ځایي چمتو کوونکی په دې پروسه کې راګډ کړی.

- **دا شننه په کوم ډول ترسره کيږي؟**

کړنلارې توپير لري خو پروسه په عمومي توګه لاندې پړاوونه لري.

۱. پلټنه او تحقيق
۲. طرح
۳. مشورې: سروې او ټول پوښتنې ، د مهمو معلوماتو ورکوونکو سره مرکې، ترکيز شوې ډلې، ګډون کوونکي او ورکشاپونه
۴. راپور
۵. د لاسته راوړنو وړاندې کول
۶. د منازعې د شننې بياليدنه او د پوهنيز پروګرام يا پاليسي غوره کول

- **کوم فعاليتونه او کارونه په کې شامل دي؟ (د منازعې د شننې د فعاليتونو او وسايلو په اړه د جزياتو لپاره دويمه ضميمه وګورئ)**

په عمومي ډول د منازعې د شننې فعاليتونه په لاندې ډول ليست شوي دي.

- د وضيعت شننه
- د مشترکينو شننه
- د لاملونو شننه
- د منازعې د محرکاتو شننه
- د پوهنې پاليسيو او پروګرامونو ته لومړيتوب ورکونه

- **چرته ترسره کيږي؟**

دا بايد د پروګرام او يا هم منازعې ځپلي جغرافيوي سيمې په کچه ترسره شي

- **څه وخت بايد ترسره شي؟**

د منازعې او د پوهنې شننه بايد د پيل څخه نيولې د مداخلې او د مينځګړيتوب تر پای پورې په سستيماتيکه توګه بياځلي وکتل شي، تر څو په داوامداره ډول منازعې د پوهنې د پروګرام، طرحې، څارنې او ارزيابی په اړه کره معلومات ورکړي.

**څرنګه د منازعې شننه تر سره شي. (د جزياتو لپاره د ماخذونو ليست وګورئ)**

- د سولې اندازه او معيار: په منازعه ځپلي جغرافيوي سيمه کې د پراختيايی پروژو په سولې او شخړې د تاثير ارزونې (۳۱-۲۵مخ، د بوش ک لخوا
- د منازعې حساسيت څرنګه تنظيم او اداره کړو – لاربنود ۶-۴ مخ، د منازعې د حساسيت د اتحاديې لخوا
- پراختيا، بشردوسته مرستې او د سولې راوستنې لپاره د منازعې د حساسيت لارې چارې منازعې : د سرچينو يوه کڅوره، دويم څپرکی، د ای ايف پی او ايټ ال لخوا
- د منازعې ارزونه ترسره کول: د ستراتيژی او د پروګرام د پراختيا لپاره يو جوړښت، ۴۱-۳۸ مخ د USAID لخوا
- د منازعې د ارزونې ترسره کول: د لارښوونو يادښتونه ، د DFID لخوا
- د سولې او منازعې د اغيزو د ارزونې لاسي کتاب، د CPR د شبکې لخوا
- د منازعې د شننې او لومړيتوبونو وسيله، د بين الملل د کارکوونکي د پوهنځي لخوا

د منازعې شننه ښايي چې يوځېنۍ فعاليت وي، او يا هم کيداى شي چې د يوې پراخې ارزونې پروسې سره په ګډه تر سره شي، لکه د پوهنې د ملي سکتور تشخيص. د منازعې د شننې لاسته راوړنې بايد د پوهنې د نورو ارزونو سره يو ځاى په نظر کې ونيول شي لکه د پوهنې د سستم کار او کړنه، د فزيکي جوړښت او د بشري منابعو مقاومت، د پالیسۍ مديريت او چاپيريال، د لګښتونو، مالی برخې جوړښت او سياسي اقتصاد (UNESCO-2EP, 2011: 36-46). (د منازعې د شننې اړونده جزيات په دويمه ضميمه کې او په ۵۴ مخ وګورئ).

د دې خبرې په منلو سره چې هغه مرسته چې د منازعې پر مهال ورکړل کيږي، د منازعې څخه د باندې نه شي پاتې کېدلاى. (اندرسن ۱۹۹۹: ۱) ، نو دا ځکه مهمه ده چې په يو منازعه ځپلي او کمزوري محتوا کې بايد د پوهنې د غبرګون ستراتيژۍ مثبتې اغيزې ډيرې او منفي يې راکمې کړي. د لاربووونو د دې يادښت په راتلونکي برخه کې د منازعې سره د حساسې پوهنې د غبرګون يو څو واضحه او بشپړه ستراتيژۍ يادې شوي دي. د غبرګون د ستراتيژۍ د جوړولو پر مهال لاندې انعکاسي پوښتنې پام کې ونيسۍ. (د غبرګون په ستراتيژۍ او پروګرام کې د منازعې حساسيت رانغښتلو په اړه نور جزيات د منازعې سره د حساسيت د اتحاديې AFPO et al, 2004: Chapter 3; Conflict Sensitivity Consortium, 2012, 8-22; UNESCO-2EP, 2011; 51-62 کې ترلاسه کړئ )

- **څه؟ د غبرګو ن د ستراتيژۍ د ځانګړو موخو ټاکل:**
  - آيا تاسو د منازعې محرکات، فعالين، مهال ويش او ګواښونه په نظر کې نيولي دي (لکه څرنګه چې د منازعې په شننه کې په ډاګه شوي)؟
  - آيا د پوهنې فعاليتونه دا موخه لري چې د منازعې ځپلي وګړو د هر اړخيزه او با کيفيته زده کړو اړتياوې او ضرورتونه په داسې بڼه مرفوع کړي چې د ډلو ډلګيو او د نوروخلکو د خفګان لامل ونه ګرځي ؟

- **څوک؟ که چيرته د غبرګون ستراتيژي ملي لاس رسۍ ونلري نو دا اړينه ده چې د ګټه اخيستونکو ټاکنه او انتخاب بايد د منازعې سره د حساسيت په اساس ترسره شي.**
  - د منازعې په اړه د بو لړ ځانګړو ډلو اړيکې او آندونه څه دي؟
  - په ځايې او سيمه يزه کچه يو لړ اصطلاحګانې ( لکه کډوال، جګړه ځپلي، راستنيدونکي او داسې نور) څنګه تعريف شوي دي؟
  - بيلابيلې ډلې به د پوهنې پاليسي او پروګرامونو ته څنګه لاسرسی ولري؟
  - د کارکوونکو يا فعالانو/ادارو او دولت هڅه او ميلان په کوم لوري دی؟د يوې ډلې سره کار کول د بيلتون غوښتونکو يا نورو ډلو ترمنځ کړکيچ خو نه ډيروي؟

- **چرته؟**
  - د ټولنيزو ډلو او د جغرافيوي سيمې تر مينځ اړيکه څه ده؟
  - څرنګه منازعه جغرافيوي سيمه ترځپلي اغيزې لاندې راولي؟
  - که چيرته جغرافيوي پوښښ ګټه اخيستونکي او نه ګټه اخيستونکي ولري، ورته مرستې او غبرګون څرنګه کولی شي د ډلو تر منځ کړکيچ راکم کړي؟

- **کله؟**
  - د کال په اوږده کې د منازعې محرکات څه دي؟ د بيلګې په ډول، آيا دا د باراني او وچ موسم سره ځي او راځي؟ د پوهنې د پاليسيو او پروګرامونو د دا ډول بدلونو سره څرنګه ځان عياروي؟
  - آيا د پوهنې پروګرام يا پاليسي د پوهنې د ملي سستم سره همغږي لري؟
  - که چيرته جغرافيوي پوښښ ګټه اخيستونکي او نه ګټه اخيستونکي ولري، ورته مرستې او غبرګون څرنګه کولی شي د ډلو تر منځ کړکيچ راکم کړي؟

په سهیلي سوډان کې Save the Children International د داخلي بې ځایه شویو او راستنانه شویو ماشومانو لپاره د مساوي لاس رسي په موخه، په بیړني حالاتو کې د پوهنې پروګرام پیل کړ.

د معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره، د ټولنې په کچه د لومړنۍ ارزونې په ترڅ کې د منازعې په اړه د خلکو د نظر په اړه یو لړ پوښتنې ترسره شوې وې. د بیلګې په ډول، د پلرونو او میندو څخه وپوښتل شو چې آیا د داخلي بېځایه شویو او بیرته راستنیدونکو اصطلاحګانو سره کلیوال بلد دي.. کله چې د Save the Children د پوهنې کارکوونکي په دې ښه وپوهیدل چې ورته اصطلاحګانې د ټولنې په کچه څرنګه منل شوي، دوي وکولای شو چې د پوهنې فعالیتونه په داسې ډول وړاندې کړي چې د ډلو ترمنځ کړکیچ لا نور هم زیات نه کړي. (کونز، ۲۰۱۲)

د منازعې ځېلې او کمزوري محتوا د متحرک او اوښتونکي فطرت له امله باید ښوونیز فعالیتونه او د هغوی اړیکه او اغیزه پر چاپیریال په دوامداره توګه په نظر کې ونیول شي تر څو دا جوته شي چې دغه فعالیتونه د پلان شویو موخو په لور روان دي، او په نااراداي عواقبو مخنیوی کوي.په لاندې برخه کې د منازعې د حساسیت په بنه د نظارت او ارزیابی د ترسره کولو یو څو ستراتیژۍ یادې شوې دي. (نور جزیات دلته بیاموندلی شئ: ( SDC, 2006; DFID, 2010: 7-13 and UNESCO-2EP, 2011; 65-78; APFO et al., 2004: Chapter 3; OECD, 2008

- دې ته پام وکړی هغه وګړي چې سلا مشوره ورسره کیږي، د څارنې او ارزیابی ترسره کوونکو په اړه څه نظر لري، او ادا چې د دوي نظر او اخیستنه به په راټول شوي معلومات څه اغیزه ولري.
- د بیلابیلو ټولنیزو ډلو د غړو سره سلا مشورې ترسره کړی. انتخاب شوي او نه انتخاب شوي ګټه اخیستونکي دواړو راګډ کړی.
- موخو د بدلون لپاره د کیفی او کمي مقیاس او اندازه ګیری لار غوره کړی. که چرته شوني وي، ټول معلومات بیاځلي وګوری.
- د دې خبرې پخلی وکړی چې راټول شوي معلومات د ټولو هغه وګړو، دولتي ادارو او د همغږۍ د میکانزمونو سره په داسې ډول شریک شوي دي چې د ډلو تر منځ کړکیچ نه رامنځته کوي.

کوم معلومات چې راټولیږي، هغه به پرته له کوم شکه الف) د پوهنې فعالیت او ب) د منازعې شرایط او محتوا په نظر په نیولو سره وټاکل شي. په عمومي توګه باید په نظارت او ارزیابی کې هغه محوالات شامل شي چې د پوهنې د موخو پر خوا د پرمختګ اندازه، د شرایطو او محتوا سره د فعالیتونو اړیکې ، انګېرنې او دا چې په څنګه او په کومه اندازه ټاکل شویو ګټه اخیستونکو ته رسیدنه شوې ده. لاندې د منازعې سره د حساس او ځانګړو محوالات ذکر شوي دي (DFID, 2010: 8-9; Sigsgaard, 2012:30)

- پر ښوونځیو بریدونه
- د ښوونځیو او زده کوونکو لپاره د ګواښونو فکتورونه
- د ښوونکي او زده کوونکي ډیموګرافی
- په مختلفو سیمو کې د پوهنې لپاره مالي ویش او تقسیم
- د پوهنې سره اختلاف او تناقض
- د زده کړې د چاپیریال د خوندیتوب په اړه انګیرنې
- د منازعې د فکتورونو شاخصونه، د بیلګې په ډول د بشري حقونو څخه سرغړونه
- د سولې راوستنې شاخصونه، د بیلګې په ډول په ښوونځیو ته د کډوالو زده کوونکو بیرته ورتګ
- د بیلابیلو ټولنیزو ډلو د غړو سره سلا مشورې ترسره کړی. انتخاب شوي او نه انتخاب شوي ګټه اخیستونکي دواړو راګډ کړی.

د امکان په صورت کې د پوهنې معلومات باید د سیمې، قوم، مذهب، جنسیتي او د نورو ډلو ځانګړتیاوو پر اساس طبقه بندي شي. ځینې طبقه بندي شوي معلومات منازعې ته لاره هواروي. د منازعې شننه به دا مرسته وکړي چې کوم معلومات باید درونېوالي او حساب ورکونې لپاره عوامو ته ښکاره او او کوم معلومات پټ وساتل شي، تر څو د پوهنې د برخه والو ښه والي او امنیت ته ګواښ ورپېښ شي.

**د فلسطین په نیول شویو** سیمو کې UNICEF، UNESCO، او داسې نورو ادارو د څارنې او ارزیابۍ یو شفاف او روڼ میکانزم او د راپور ورکونې په ترڅ کې پر ښوونځیو د بریدونو څخه دفاع کړې ده. په کال۲۰۰۱ کې، د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د کال ۱۹۹۸ پریکړه د رایو په اتفاق ومنله، چې ښوونځي او روغتونونه د ماشومانو لپاره خوندي ځایونه دي دا مسوده وایي چې پر ښوونځیو او روغتونونو برید کوونکي به مسؤل او ګرم ګڼل کیږي. (UNICEF, 2011: 2). د بریدونو بې طرفه څارنه او په جغرافیایی، قومي او مذهبی ډلو د معلوماتو ویشنه دا فرصت برابروي چې د پوهنې په برخې افراطیت برملا کړي او دا چې د منازعې منازعې سره د حساسې پوهنې د طرفدارۍ لپاره بنسټ کیږدي.

د آی این اي اي د لږ تر لږه معیارونو لومړی څپرکی : بنسټیز معیارونه (تیر پسي)

**د ټولني د ګډون او ونډې اخیستنې معیارونه**

**۱. ګډون:** د ټولنې غړي د پوهني د فعالیتونو په شننه، پلان، طرح، پلي کولو، څارلو او ارزولو کې په فعاله، د تعصب پرته او په شفافه توګه ونډه اخلي.

**۲. سرچینې:** د زده کوونکو د عمر سره سم د زده کړې فرصتونه په برابرولو کې د ټولنې سرچینې پیژندل شوي، هڅول شوي او کارول شوي دي.

د منازعې سره د حساسي پوهني لپاره د ټولني مساویانه او روڼ **ګډون** د ډېر ارزښت وړ دی. د بیل څخه، که چرته دا په سمه توګه ترسره نه شي ، نو دا به د یوه پروګرام په پلي کولو او عملي کولو کې د موجوده نابرابریو په اساس د ډلو ترمنځ اختلافات او کړکیچ ډیر کړي. هو، که چیرته ګډون په سمه او برابر ډول ترسره شي چې د ټولې ټولنې استازیتوب وکړي، نو د زده کړې هغه احتمال چې یوه ټولنه به د سولې لور ته راکاږي، ډیر شي. (منازعه ځیلي او کمزوري شرایطو او محتواوو کې د ټولنې لخوا د لارو چارو په اړه جزیات په Haider, 2009 کې موندلی شئ)

- د دې په نظر کې نیولو سره چې، د پوهنې د پروګرام یا پالیسی ټاکل شوی 'ټولنه/اجتماع' کومه یوه ده؟ پیل یی کړئ. د پوهنې د فعالیت په اندازه، ټولنه د یو کلي وګړي هم کیدای شي او یا هم د ملت ټولو خلکو ته ویل کیږي. دا په یاد ولرئ چې ټولنه په یو شان نه وي، بلکه د د اړیکو او د وګړو یو داسي پېچلې جال دی، چې د یو بل سره د ځواک، جنس، عمر، اقتصاد، ګټې او نورو ځانګړتیاوو پر اساس توپیر لري.
- د منازعې د شنني څخه ګټه واخلئ او هغه وګړي او اړیکي بیاموميْ چې ټولنه یي جوړه کړې ده.
- د ټولنې ګډون کوونکي په مشارکتي ډول وټاکی تر څو جوته شي چې موخه د شته تنوع (قوم، مذهب، معلولیت، جنس، عمر او سیاست) استازیتوب کول دي. ځوانان او ماشومان په معنی داره توګه شامل کړئ. (د ماشومانو او ځوانانو د مشورو په اړه اړونده سرچینې د سرچینو په لیست کې موندلی شئ)
- د ټولنې د اوسني ابتکار پر اساس وړاندې لاړ شئ، لکه هغه څه چې یوې ټولنې د پوهني په برابرولو کې له مخکې څخه پیل کړي وي، او یا هم هغه ډول چې والدینو د خپلو د اولادونو د پوهني لپاره په نظر کې نیولي دي.
- د ډلې د ځانګړتیاوو نه پرته د ټولنې د غړو اوسنی وړتیاوې وګورئ
- د پوهني د پروګرام او پالیسی په شنني، طرح، عملي کولو، نظارت او ارزیابی کې د ټولنې یو شمیر غړي راګډ کړئ.
- دا په یاد ولرئ چې که د پوهنې د پروګرام په پیل کې د ټولني هر څه تعریف چې وي، د ټولنې د ګډون نظریات باید په دوامداره توګه وڅیړل شي او د پروګرام د عمر په اوږدو کې ورسره عیار شي.

په نیپال کې Save the Children، UNICEF، World Education او نورو برخه والو د ټولنې د ونډې اخیستنې او ګډون څخه ملاتړ وکړ تر څو د ښوونځیو څخه د خوندي او د محفوظ ځای په توګه کټه واخیستل شي. یعني د ماویستي ډلو او د پوځ د مداخلې څخه یې وژغورل. د ټولنې غړو په ښوونځیو د منازعې اغیزې و ارزولې او د ښوونځي په اړه یې پر ځینو قوانینو هوکړه وکړه. په ځینو ښوونځیو کې دغه قوانین پر دیوالونو په انځوریز ډول کښل شوي وو او د والدینو او د ښوونکو د کمیټو لخوا څارل کیدل. ( Save the Children, 2009; Smith, 2010: 261). د ټولنې د ونډې اخیستنې او د ګډون څخه ملاتړ کول د منازعې د محرکاتو په شننه او د مناسب غبرګون لپاره د ستراتیژۍ طرحه کول، د منازعې سره د حساسې پوهنې وړاندې کولو بیلګې دي.

ډیرۍ وخت د سرچینو له اړخه په یوه فقیر جګړه ځپلي چاپیریال کې د پوهنې رسونه د د ټولنې د سرچینو(بشري، علمي، ژبني، مادي او پولي) او پلټنې سره تړلې وي. د محلي سرچینو په کار اچولو ګټې دا دي چې ځایي ملکیت پراختیا ترڅو فعالیتونه پیاوړي او ځواکمن شي او د موجوده مهارتونو ارزښت ومنل شي. لیکن د سرچینو د اړخه په یوه فقیر چاپیریال کې د سرچینې هر تبادله باید د منازعې د حساسیت په بنه ترسره شي. لاندې پوښتنې په نظر کې ونیسئ تر څو پوه شی چې آیا د سرچینو په کار اچول د منازعې د حساسیت په بنه ترسره شوې که یه.

- سرچینې د چا لخوا لاسته راځي؟ بسپنه ورکوونکي (ډونر) ته د ټولنې نور غړي په کومه سترګه ګوري؟
- د توکو لومړنۍ سرچینه کومه وه؟ آیا دا د منازعې دکومې ځانګړې خوا سره اړیکه لري؟
- دا سرچینې به د پوهنې د فعالیت او د منازعې د محرکاتو ترمنځ پر اړیکو څه اغیزې ولري؟
- آیا د دې سرچینو کارول به په منفي توګه د کوم ځانګړي ډول زده کوونکي د پوهنې پر لاس رسي اغیزه ولري؟

د آین این اي اي د لږ تر لږه معیارونو لومړۍ ځپرکۍ : بنسټیزه معیارونه (ادامه)

د همغږۍ معیار

**۱. همغږي:** د پوهنې لپاره د همغږۍ میکانزم پلي کیږي، او د شریک لوریو سره مرسته کوي چې باکیفیته او معیاري پوهنې ته د لاسرسي او دوام د باوري کولو لپاره کار وکړي.

د ټولنې د غړو د ګډون نه پرته ، د همغږۍ د لارې د اړونده ادارو ګډون او برخه اخیستنه د منازعې سره د حساسي پوهنې لپاره ډیر اړین دی. په هره محتوا کې چې وي، د همغږۍ کړنلارې کولای شي رونوالی، حساب ورکوونه، او د پوهنې بشپړې ستراتیژۍ تقویه کړي. په یوه منازعه ځپلي محتوا کې، د همغږۍ کړنلارې کولای شي نورې ګټې د ځان سره ولري ، لکه په لاندې درې بیلګو کې چې راغلي دي.

- د پوهنې کارکوونکي کولای شي د سولې جوړونې د همغږۍ په کړنلارو کې ګډون وکړي تر څو د پوهنې سکتور ته د سولې جوړوونې د پانګو د متوجه کیدو دفاع وکړي. که خوش باوره اوسو، پوهنه به بیا د ټولنې، حکومت او د سولې جوړوونې د نورو ایجنسیانو لخوا د سولې د مضروب په حیث و پیژندل شي. دبیلګې په ډول، د سولې د ګټو څخه به وشمیرل شیږ.
- د همغږۍ کړنلارې لکه د پوهنې کلسټر کولای شي ادارې سره یوځای کړي تر څو د منازعې بشپړه شننه او همدارنګه د معلوماتو د راټولولو ارزونه ترسره شي.
- د منازعې د تل بدلیدونکي محتوا کې، د همغږۍ کړنلارې کوی شي د پوهنې د فعالانو سره مرسته وکړي چې د نوو ننګونو او فرصتونو لپاره چې د منازعې نه تر سولې پورې په لاره کې ولاړیږي پوهنیزې ستراتیژۍ او فعالیتونه غوره کړي.

کله چې د منازعې سره حساسه پوهنه وړاندې کیږي نو د چا سره باید همغږي ترسره شي؟ دا ډیره اړینه ده چې د پوهنې ځانګړې و ډلې په پام کې ونیسی، لکه د پوهنې کلسټر. د پوهنې د کارکوونکو سره سره ، هغه وګړي هم په پام کې ونیسی کار کوي.




پرته له کوم شکه، همغږي وخت ته اړتیا لري، خو د پوهنې کارکوونکي دې ته اړتیا لري چې د سولې راوستونکو څخه (داخلي او بهرني فعالان، مدني ټولنې، ملګري ملتونه، دولت او نادولتي) د احتمالي او راز راز فعالانو ته لومړیتوب ورکړي. د ملګرو ملتونو د سولې راوستونکو او فعالانو لیست لاندې ورکړل شوی، چې باید په پام کې ونیول شي.

- د بحران د مخنیوي او بیا رغولو لپاره د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام اداره (UNDP/BCPR)
- د ملګرو ملتونو د سیاسي چارو څانګه (DPA)
- د ملګرو ملتونو د سوله ساتي عملیاتو څانګه (DPKO)
- د ملګرو ملتونو د سولې راوستنې صندوق (PBF)
- د ملګرو ملتونو د سولې راوستنې د مرستې دفتر
- د سولې په هکله د OECD نړیوالې خبرې اترې

لاندې د آین این اي اي د لږ تر لږه معیارونو د لومړي ځیرکی: **بنسټیزو معیارونو لپاره انعکاسي پوښتني** ځای په ځای شوي دي. دا پوښتني په منازعه ځپلي شرایطو او پیچلي محتوا کې د منازعې سره د حساسي پوهني د پروګرامونو د طرحي او عملي کولو د فکري وسیلې څخه را اخستل شوي دي، کوم چې تاسي د آی این اي اي په ویب پاڼه کې هم موندلی شئ:
www.ineesite.org/conflict-sensitive-education

| د آین این اي اي د لږ تر لږه معیارونو لومړی ځیرکی : بنسټیزه معیارونه | د منازعې سره د حساسي پوهني لنډې انعکاسي پوښتني پرسش |
|---|---|
| **د شنني لومړی معیار: ارزونه** | آیا د پوهني برخه والو د منازعې د محتوا شننه ترسره کړې ده او دا چې د پوهني وړاندې شوی پروګرام یا پالیسي د منازعې سره څرنګه تړاو لري ؟ آیا د منازعې شننه د پوهني د راز راز برخه والو (د والدینو او د ښوونکو اتحادیه، دولتي چارواکي، ځوانان، ښځې او سړي، نجوني او هلکان، بېلا بېلي قومي، مذهبي یا ټولنیزې ډلې او داسي نور) ډول ډول اړخونه رانغاړي؟ |
| **د شنني دویم معیار: د غبرګون ستراتیژي** | آیا د پوهني پروګرام یا پالیسی په موخو، مهال ویش، د ګټه اخیستونکو په ټاکنه کې د منازعې فعالان، محرکات او وخت (لکه څرنګه چې د منازعې په شننه کې وویل شو) په نظر کې نیولي دی ؟ |
| **د شنني دریم معیار: نظارت** | آیا د پوهني معلومات پر سیمې، قوم، مذهب، جنس او نورو اړونده ډلیزو ځانګړتیاوو ویشل شوی تر څو د پوهني خلاوې رابرسیره او ښوونیز غبرګون معلوماتي کړي؟ |
| **د شنني څلورم معیار: ارزونه** | آیا د ښوونیز پروګرام ارادي او نا ارادي پایلې، او د منازعې د محرکاتو سره د دوي تړاو ارزول شوی دی؟. او یا هم په راتلونکي کې یې د ارزوونې کوم پلان شتون لري؟ |
| **د ټولنې د ګډون لومړی معیار: ګډون** | آیا د ټولنې غړو (د والدینو او ښوونکو اتحادیه، دولتي چارواکي، ځوانان، ښځې، سړي، انجوني، هلکان، د ځواک بیلابیل جوړښتونه، قوم، قومي یا ټولنیزې ډلې او داسي نورو) ته د پروګرام یا پالیسۍ په اړه معلومات ورکړل شوي، یا هم په اوږدو (دورانیه): ارزونه، طرح، پلي کول، څارنه او ارزیابۍ کې راګډ شوي دي؟<br>آیا د پروګرام یا د پالیسۍ د په اوږدو (دورانیه سایکل) کې: ارزوونه، طرح، پلی کول، څارنه او ارزیابۍ کې کوم وګړي ویستل شوي یا بې برخي پاتې شوي دي؟ |
| **د ټولنې ګډون، دویم معیار: سرچینې** | آیا د پروګرام یا پالیسۍ د میتود له مخې د سرچینو لټه او هڅونه د منازعې د محرکاتو او د پوهني پر اړیکو اغېزه (منفي او یا هم مثبته) لري؟ |
| **د همغږۍ لومړی معیار: همغږي** | آیا د پوهني کارکوونکي او فعالان د پوهني او د سولې د راوستنې د همغږۍ په هغه میکانزمونو کې ودرګډ او شامل دي چې په برابره توګه د منازعې سره د حساسي زده کړې فعالیتونه وړاندې کوي؟ |

# دویم څپرکی

## د منازعې سره د حساس لاس رسي او زده کړې چاپیریال لپاره ستراتیژۍ

د آی این اي اي د لږ تر لږه معیارونو دویم څپرکی : لاس رسی او د زده کړې چاپیریال

**۱. مساوي لاس رسی: ټول** خلک اړونده او با کیفیته پوهنیزو فرصتونو ته لاس رسی لري.

**۲. خوندیتوب او هوساینه:** د زده کړې چاپیریال خوندي او محفوظ دی، او د زده کوونکو، ښوونکو، او د ښووني او روني نورو کارکوونکو خوندیتوب او رواني هوساینه پیاوړی کوي.

**۳. آسانتیاوې او خدمتونه:** د پوهني اسانتیاوې او خدمتونه د زده کوونکو، ښوونکو او د پوهني نور کارکوونکو هوساینه او خوندیتوب چې د روغتیا، تغذيي او خوندیتوب سره تړاو لري، پیاوړی کوي.

په جګړه ځپلو محتواوو کې، د زده کړې خوندي چاپیریال او معیاري پوهني ته لاس رسی په عمومي ډول لږ وي. د پوهني خوندي اسانتیاوو او خدمتونو ته لاس رسی د ځېل شویو خلکو سره مرسته کوي تر څو د حالاتو سره مبارزه وکړي او خپل ژوند بیرته عادي حالت ته راوګرځوي. راتلونکي برخه د آی این اي اي د هر یو معیار لپاره د منازعې سره حساسېت لرونکی ستراتیژۍ بیانوي.

د پوهني نابرابرۍ زیاتره وخت رامینځته کوي او منازعې ته لاره هواروي. په منازعه ځپلو محتواوو کې د پوهني ریفورم کولای شي د پوهني پر وړاندې شته خنډونه له مینځه یوسي. که په ملي کچه وي او که د پروژې په کچه ، ښوونیز فعالیتونه باید د ټولو لپاره د باکیفیته پوهني او **مساوي لاس رسي** لپاره کار وکړي. تر څو د اسي پالیسۍ او پروګرامونه وړاندې کړو چې منازعې سره د حساسیت په اساس مساوي لاس رسی پیاوړی کړي، لاندې ستراتیژۍ په نظر کې ونیسۍ. پوهنه پیاوړې کړي، (د لاس رسی په وړاندې شته خنډونه، لکه د زده کړې ژبه، نصاب او د ښوونکو ګومارل، په راتلونکي برخو کې تشریح شوي.)

> په افغانستان کې د محیطی شرایطو د شنني څخه وروسته، د ښځینه ښوونکو په واسطه د کورني ټولګیو له لارې د نجونو لپاره د زده کړې آسانتیاوې او خدمتونه برابرول یوه خوندي او پایپدونکي لار بلل شوي ده. څرنګه چې دا کورني ټولګي په مشارکتي ډول رامنځته شوي وو، څکه د ټولني خلکو په داړه زړه خپل ماشومان دې ښوونکو ته د زده کړې لپاره ولیږل. (وینتراپ او کرک، ۲۰۰۸). کله چې د غبرګون ستراتیژۍ د منازعې شننه په ترسره کولو سره د پوهني په وړاندې شته خنډونه له مینځه یوسي، وئیلی شو چې دا د منازعې سره حساسه پوهنه ده.

- د پوهني د هغه پروګرامونو او پالیسیو څخه ملاتړ چې د ټولو لپاره زده کړه د لاس رسی وړ ګرځوي، په دې کې: کمکي عسکر ماشومان، داخلي بې ځایه شوي او کډوال، کوربه ټولني، په اقلیتي ژبو غږېدونکي او نورې ویستل شوې او محرومې ډلې.
- د لاس رسی د فعالیتونو او د منازعې د محرکاتو سره د اړیکو په اړه معلومات وڅارۍ او شریک (د ګټه اخیستونکو او نه ګټه اخیستونکو سره) یې کړۍ. په ځانګړې توګه هغه مهال چې له مخکې څخه د محرومه او ویستل شویو ډلو لپاره د پوهني ملاتړ کوی

د کینیا په درداب سیمه کې د کډوالو لپاره د نړۍ تر ټولو لوی کیمپ کې د اوسیدونکو ۱۵٪ سلنه ځوانان دي . په ورته کیمپ کې د ډیری ځوانانو لپاره د کینیا د پوهني رسمي سیستم له مخې د پوهنې برابر شوي خدمتونه یو څه نا ستونزمن دی، ځکه چې د دوي عمرونه د ښوونځي د ټاکل شوي عمر څخه زیات وو، په انګریزی ژبه نه پوهیږي، او بل دا چې دوي له دې مخکې هیڅ ډول زده کړې نه دې کړې. NRC د ځایي او کډوالو ځوانانو لپاره د YEP په نامه د مسلکي روزنې او زده کړو یو مرکز چلوي، ځایي او کډوال ځوانان د مسلکي روزنو په بشپړه کولوترسره کولو سره د کینیا د دولت لخوا منل شوی د سوداګرۍ ملي برپلیکونه تر لاسه کوي. اوسنۍ ارزونو دا په ډاګه کړې ده چې ٪۶۰ سلنه فارغانو دوه (۲) کاله وروسته هم د خپلو مهارتونه او مسلک څخه په ښه توګه ګټه اخیستله. د ځایي خلکو او کډوالو لپاره د دولت لخوا د پوهنې او زده کړې منل شوې فرصتونه په مساوي ډول برابرول، د کوربه او میلمنه ټولنې ترمنځ د خپګان او کشالې مخنیوی کوي او بل دا چې کډوال په میلمه هیواد کې د کار کسب او زده کړې اسانتیاوو ته هم لاسرسی پیدا کوي. دا د منازعې سره د حساسې پوهنې یوه بیلګه ده. (مګومبا او اسکیبي، ۲۰۱۲)

- د لاس رسي په وړاندې اداري خنډونه په نظر کې ونیسئ او له مینځه یې یوسئ: کوم چې اداري دي لکه د ښوونځي فیس، د اسنادو نه شتون، او د هغو سندونو نه منل چې په بل هیواد کې لاسته راوړل شوي دي
- هغه پوهنیزې ستراتیژۍ په نظر کې ونیسئ کوم چې هغه خنډونه بیانوي چې د تاوتریخوالي د یوه عمومي کلتور له امله مینځ ته راغلي، لکه د ښوونځیو دننه او بهر د انجونو پر ضد جنسي زورزیاتی .
- د هغو ماشومانو پوهنې او رواني هوساینې ته لومړیتوب ورکړئ چې له د ې مخکې عسکر وو

دا منل شوې چې پوهنه کولای شي د ماشوم د خوندیتوب ګواښ لوړ کړي. د بیلګې په توګه، ښوونځي کیدای شي د ماشومانو لپاره په عسکري ډلو کې د جلبیدو ځای وګرځي، او نجوني، ښایي د د ښوونځي پر لاره زیان منې شي. خو بیا هم ځیرني وایي چې په منازعه ځپلو محتواوو کې د ښوونځیو شتون کولای شي د ماشومانو د رواني هوساینې ستونزې راکمې کړي (وینروپ او کرک ۲۰۰۸: ۶۳۹) : د منازعې سره د حساسې پوهنې اساسي دنده داده چې د ښوونځي اړونده غړو هوساینه او خوندیتوب تضمین کړي. په لاندې ډول یو څو ستراتیژۍ بیان شوې چې څنګه د منازعې سره حساسه او خوندې پوهنه وړاندې شي.

- د ټولنې د بیلابیلو غړو نه پوښتنې وکړئ چې څنګه کولای شو چې پوهنیز فعالیتونه په داسې ډول وړاندې کړو چې ښوونکي، زده کوونکي او د ښوونځي چاپیریال په کې خوندي وي.
- هغه ستراتیژۍ په نظر کې ونیسئ چې درسي چاپیریال – او هغې ته د تګ راتګ لارې- د نیونې او تاوتریخوالي څخه پاکې کړي. د بیلګې په توګه د وسلوالو ډلو سره داسې هوکړې ته رسیدل چې ښوونځی دې د سولې زون وي.
- د زده کړې سیمه د نورو ټولنیزو خدمتونو(روغتیا، ارواء، او حقوقي) د برابروونکو سره د حوالې د میکانزم له لارې ونښلوئ (داسې لړۍ رامنځته کړئ چې ښوونکي وکولای شي اړتیا لرونکي ماشومان د نورو خدمتونو مرکزونو ته ور پیژني. )
- د شکایتونو یوه داسې پروسه رامنځته کړئ، چې د ښوونځي اړونده غړي هغو ته مخ امنیتي ګواښونه ووایي او اړونده غبرګون ترلاسه کړي. د شکایتونو پروسه باید د شخص هویت ښکاره نکړي او یو ملي ډیټابیس سره نښتې وي تر څو پالیسي جوړوونکي او فعالان دا معلومات وکاروي او د منازعې سره په حساسې بڼه اړونده غبرګون ښکاره کړي

- د ښوونکو، زده کوونکو او والدینو سره د منازعې د حساسیت او ژوند ژغورونکي معلومات شریک کړی، لکه ماین لرونکو سیمو په اړه خبراوی، د ناچاودو توکو په نخښه کول او یا هم د منازعې په اړه معلومات.


څه باید ترسره شي چې د پوهنې تسهیلات او خدمتونه په داسې شکل ترسره شي د منازعې سره حساس وي؟ هر هغه ستراتیژي چې د زده کړې اسانتیاوې او خدمتونه پیاوړي کوي باید د منازعې د شننې په ځانګړو لاسته راوړنو تدبر وکړي. یو څو ستراتیژۍ په لاندې شکل د بیلګې په ډول راوړل شوې دي.

- د ټولنې بیلابیل غړي را ټول کړئ او د منازعې د شننې لاسته راوړنې وکاروئ تر څو د زده کړې د ځایجوړولو او رغولو پریکړې ترسره شي تر څو د ټولو لپاره د خوندې زده کړې لاس رسی تضمین شي.
- د پریکړې اخستنې، پلان، او د جوړولو د عملي کولو په اړه باید په دوامداره توګه د ټولنې د آند څارنه وشي تر څو په نا ارادي توګه منازعې ته لمن ونه وهل شي. دا تضمین کړئ چې جوړوونه په دې معنی وانخستل شي چې یوې ډلې ته پر بلې برتري ورکړل شوې ده
- د عمومي منازعې په صورت کې، خوندي ښوونیز چاپیریال، اوبو او مبرزونو ته د ښځینه او نارینه زده کوونکو لاس رسی په پام کې ونیسی. د زده کړې ځایونه په ښکاره نخښو او خوندي پولو او بریدنو څرګند کړی.
- •د زده کړې سیمه د خوندي چاپیریال په صفت ومنۍ او هغه هم د هغو ستراتیژیو له مخې لکه د ښوونځي قوانین، د وسلوالو ډلو سره هوکړې، خوندي خنډونه او منظم مراقبت.

په سیرا لیون کې د یوې لسیزې اوږدې جګړې په ترڅ کې د انجونو او ښځو پر وړاندې په ښوونځیو کې جنسي زور زیاتې ډیر شوي وو. په زرګونو ښځې او ماشومان د خپلو کورونو نه بې ځایه شوي وو. د افریقایي ښځو د بیړني کمپ ښوونځي فورم د منازعې له امله بې ځایه شویو ماشومانو ته زده کړه او ټولنیز رواني خدمتونه رسوول. په ټولنیزو رواني خدمتونو کې دا شیان شامل وو: د دوو اوونیو د ټروما د ډلې مشورتي ناسته، د اړتیا پر وخت انفرادي ناستې، د ژوند مهارتونه د ځوانو میندو لپاره اود جنسي تیري د تاوتریخوالي د ناروغانو لپاره طبي درملنه. (مکانډلس، ۲۰۱۲، ۳۲). د ټولنیزو خوندي خدمتونو د عرضې د لارې د جګړه ځپلو ماشومانو د اړتیاوو مرفوع کول مقاومت منځ ته راوړلی شي او د سولې د ګټې په سترګه ورته کتلی شو.

د آی این ای ای د لږ تر لږه معیارونو د دویم څپرکی (لاس رسي او د زده کړې چاپېریال) لپاره لاندې انعکاسي پوښتنې لیست شوې دي. دا پوښتنې په جګړه ځپلي او کمزورې محتوا کې **د منازعې سره د حساسې پوهنې د پروګرامونو د طرح او عملي کولو د فکري وسیلې څخه** را اخستل شوي دي چې د آی این ای ای په ویب پاڼې یې دلتهموندلی شئ: www.ineesite.org/conflict-sensitive-education

| د آین ای ای د لږ تر لږه معیارونو دویم څپرکی : لاس رسی او د زده کړې چاپېریال | د منازعې سره د حساسې پوهنې په اړه لنډې او چټکې فکري پوښتنې |
|---|---|
| **لومړی معیار: مساوي لاس رسی** | آیا د پوهنې اړونده برخه والو د پوهنې (رسمي، غیررسمي، لومړنی او منځنیو زده کړو) په وړاندې د خنډونو او د منازعې ترمنځ د تړاو او اړیکو ارزونه ترسره کړې، او اړتیاوو ته یې غبرګون ښودلی دی؟ |
| **دویم معیار: خوندیتوب او هوساینه** | آیا د ټولنې د بیلابیلو غړو یوې ډلې د ښوونکو او زده کوونکو مخې ته د ولاړو ګواښونو په ګوته کولو کې برخه اخستې ده؟ آیا د زده کړې لپاره ټاکل شوې ځایونه ټولو ته د لاس رسي وړ، خوندي او د احتمالي بریدونو څخه لرې دي. |
| **دریم معیار: اسانتیاوې او خدمتونه** | د پوهنې اسانیتاوو او خدمتونو د لا ښه والی په موخه په لاره اچول شویو پروګرامونو د منازعې اوسنۍ او مخکینې حالات په نظر کې نیولي دي؟ ده. |



*د کانګو په دیموکراتیک جمهوریت کې د شمالي ولایت کیوو په حتیځ مرکز ګوما کې پخواني پوځي ماشومان د یوې محلي مؤسسې CAJED له خوا په یو انتقالي ښوونیز مرکز کې د انګلیسي ژبې زده کړه کوي.. ©UNICEF/NYHQ2011-0351/OlivierAsselin*

# دریم  څپرکی

## د  منازعې سره د حساس تدریس او زده کړې ستراتیژۍ

د آین این اي اي د لږ تر لږه معیارونو دریم  څپرکی : ښوونه او زده کړه

**۱. نصاب:** د ځانګړي محتوا کلتوري، ټولنیز، ژبنی اصولو او د زده کوونکو د رسمي او غیر رسمي زده کړو د اړتیاو سره سم  اړونده او مناسبه نصاب کارول کیږي

**۲. روزنه، مسلکي وده او مرسته:** ښوونکي او د پوهني  نور کارکوونکي د اړتیاوو او شرایطو   سره سم نوبتي، اړونده او منظم ټرینګونه تر لاسه کوي

**۳. ښوونه او او زده کړې پروسې:** د ښووني او زده کړې پروسې باید شاګرد پاله، مشارکتي  او هراړخیزه وي.

**۴. د زده کړې د لاسته راوړنو ارزوونه:** د زده کړې د لاسته راوړنو د ارزووني او ارزښت ورکوني لپاره مناسب میتودونه کارول کیږي.

ښوونه او روزنه

پوهني ته لاس رسی هغومره ارزښت لري لکه څومره چې د ښووني او او زده کړې کیفیت ارزښت لري. د  منازعې په محتواوو کې که د غبرګون ستراتیژۍ، د ښوونکو روزنه، د زده کړو د پایلو ارزونه او د نصاب جوړونه که چرته د منازعې سره په حساسه بڼه ترسره نه شي، منازعه او کړکیچ زیاتولی شي. لاندنی برخه آی این اي اي د  لږ تر لږه معیارونو په دې  څپرکی  کې د هر یو معیار لپاره د منازعې سره د حساسي پوهني یو څو ستراتیژۍ بیانوي

د  منازعې سره حساس **نصاب** کې د سولې په اړه اړه موضوعات خپرویږي، او  د هیڅ یوې ډلې پلوي نه کوي. د سولې په اړه موضوع ګانو کې ښایي چې: تفکر، بشري حقونه،  تابعیت پوهنه،  عدم تشدد، د  منازعې د مخنیوی او حل لارې شاملې وي.  (سیکسګارډ، ۲۰۱۲: ۳۶-۳۵). ددې لپاره چې بې طرفه او بې پلوه نصاب رامنځته شي، باید د بیلابیلو ډلو لکه د پخوانیو  عسکرو ماشومانو، سترو ماشومانو، او په نورو ژبو د غږیدونکو د زده کړې اړتیاوې په نظر کې ونیسي. . د ژوند مهارتونه، د دندې اړوند مهارتونه او وړتیاوې  او د ورځنی کارګرۍ او بازار اړونده د ژبې مهارتونه ښایي چې د زده کړو اړتیاوې وي . بې طرفه نصاب کولای شي د هلکانو/انجونو، ښځو/سړیانو، تجربي په مساوي او برابره توګه بیان کړي.

په جګړه ځپلو محتواوو کې، د نصاب، متن، او نورو موادو ریفورم د پورته اساساتو د رعایت کولو لپاره اړین دي. د  منازعې سره حساس د نصاب ریفورم یوې داسې پروسې ته اړتیا لري چې تدریجي، مشارکتي او د  منازعې د ښنني لخوا معلوماتي شوې وي. (د نصاب د ریفورم اړوند جزیات ، تر ټولو مخکې زده کړه کې موندلی شی ، ۲۰۱۲: ۲۹۷-۲۹۴.)

- د بیا رغولو په لومړي پړاونو کې، پوهني لپاره انتقالي ستراتیژۍ کولاي شي طرفداره مواد له مینځه یوسي، اوسني بڼه مشقونه و څیړي، او د مختلفو ډلو او جنسونو څخه ښوونکي استخدام کړي
- د منځني پړاو په ترڅ کې د زده کړې ستراتیژۍ کولای شي ښوونکو ته داسې روزنه ورکړي چې د  زده کړې په وړاندې کولوسره بې طرفي او بې پلوي، عدم تشدد یا د تاوتریخوالي نشتوالی او دوه اړخیزه احترام او درناوی کړي.

په لایبر یا کې د کډوالو لپاره د ناروې شورا (این آر سي) له خوا د ځوانانو د زده کړېد کڅوړه (بسته) د ځوانانو هغو اړتیاو ته ځواب وایي چې دوی د جنګ له امله د زده کړو فرصت د لاسه ورکړي دي. د جنګ څخه وروسته زیات شمیر ځوانانو د کارکولو ډیر لږ فرصتونه درلود، او ډیری ځوانانو په ټولنه کې ځان ناباوره ګڼلو. . د ځوانانو د زده کړې د کڅوړې (بستې) پروګرام لاندې ښوونکي وروزل شوچې د اټکل شوي ژوند جوړښت، ورځني کارونه او د پوهنې اړونده فعالیتونه د جنګ لا لاسه رامنځته شویو ګډوډویو له منځه وړلو لپاره مهمې برخې دي. د ځوانانو د زده کړې د کڅوړې (بستې) پروګرام ارزونې د ځوانانو لپاره زیات شمیر ګټې درلودې، لکه:د ورځني عاید لپاره یی مسلکي روزنه تر لاسه کړه او په ټولنه کې یی یو ښه هویت او پیژندګلوي تر لاسه کړه. د ځوانانو د زده کړې د کڅوړې (بستې) پروګرام په اوږدو کې زیات شمیر جرمونه کم شوي وو. کله چې د ښوونکو سره د جنګ ځپلوځوانانو لپاره په داسې ډول اړونده زده کړو برابرولو کې مرسته وشوه چې د بیلابیلو ډلو منلو ته یی غاړه کیښوده، دا په اصل کې د منازعې سره د حساسي پوهنې وړاندې کول دی. (موبرګ

د بیا رغولو په اوږد مهاله پړاو کې ملي تعلیم، د ښوونکي روزل،او د ښوونځي اداري پالیسی او ازموینې کیدای شي د اساسي محتویاتو او پروسو څخه پاکه شي او د ښاروندی په مسؤلیتونو ،د ښونځي په اداره کولو ، د بشر په حقوقو او د بشریت په نورمونو او شخړو حوارولو باندې مبدله شي.اصلاح شوی نصاب،او درسي مواد باید چې ټولو سیمو او ګروپونو ته په مساویانه توګه تقسیم شي په شمول د مهاجرینو،بې ځایه شویو خلکو او تحلیل شویو عسکر روزونکو ته.

په یوه جنګ ځپلي محتوا کې **د ښوونکی روزنه ،مسلکي وده اومرسته** کولای شي په یو هوسا ،محترم او مدني نفوس باندې د تاثیر کولو فرصت ورکوي.لاندې یوڅو د شخړو سره حساسې حسي کړنلارې شاملې دي :د روزنې پروسه ،د روزنې محتویات او د روزونکو لپاره مرسته ده.

- د روزنې پروسه - د تعصب پرته، هرې ډلې ته لکه کډوال، بې ځایه شوي، نارینه او ښځینه ښوونکو ته د روزنې فرصت برابروي.هغه ګروپونو ته چې مخکې د روزولو، له ګروپ څخه ویستل شوي وه ، په اړونده برخه کې اساسي روزنه برابروي چې ددوی اړتیاو ته ځواب ووایي. د پوهنې د وزارت سره همکاري کول دا تامینوي چې آیا د هر ګروپ لپاره په اړونده برخه کې روزنه ځانګړې شوې ده.
- د ټریننګاو روزنې محتویات- د منازعې سره د حساس د ښوونکو په روزنه او ټریننګ کې د برخه اخیستنې وړتیاوي میتودولوژی، دبشر حقوق، د منازعې محرکات، د هویت مسالې، ښاري مسؤلیت، پخلا کیدنه او پیوستون او تاریخي یادونې شاملې دي.
- د ښوونکو سره مرسته-د منازعې سره حساس موضوعات باید په دوامداره او معیاري توګه تعقیب شي(مساوي روزنه،د سرپرست همکاري، بیا ځلي روزنه او د موادود ویشل).زیات شمیر ښوونکو په منازعه ځپلې محتواو کې زوز زیاتې تیرکړی چې رواني مرستو ته اړتیا لري.د اړتیا د پوره کولولپاره ، د روزونکو ترمینځ مساویانه همکاری جوړې کړی ترڅو وکولی شي چې د شخړو راکمولو مهارتونه زیات کړي،ښه تمرینونه په خپل مینځ کې سره شریک کړي او رواني فشارونه کم کړي. روزونکي د تشویقي پروګرامو له لارې تشویق کړی لکه(اقتصادي او نور)چې د روزلو قوې ته راتاوو یا پکې پاتې شي،په ځانګړي ډول هغو ته چې په سختو او شخړو ځپلو سیمو کې دي.

په هغه ښه چې یو ښوونکې په منازعه ځپلې سیمه کې علم او پوهه وړاندې کوي، د ټولنیز بدلون لپاره ښایي چې یوه ښه وسیله وي. خو د دې تر څنګ، د ښوونې میتوډ کولای شي نابرابرئ او تعصب په دایمي ډول رامنځته کړي. دې لپاره، باید د منازعې سره حساسیت په اساس **لارښووني او د زده کړې پروسې** وړاندې شي.

په بوسنیا او هرزګونیا کې ګډ ښونځیو د بریکو په خپلواکه والسوالۍ کې بیرته راستنیدونکو، او بې ځایه شویو خلکو ته په مذهبي عنعناتو سمبال پروګرام وړاندی کړ،چې د مذهبي درسونو سره مخالف وه.دغه کار یوه داسې چاره برابره کړه چې ښوونځي په بله نامه یاد شو، او په پای کې یې ټولنیز اتحاد برابر کړ (ای ان ای ای د تعلیم او وړتیا کاري ډله) د دې لپاره د نصاب بیا کتنه تر سره کول چې د ځانګړو ډلوپه اړه یو اړخیزه قضاوت له مینځه یوسي او د منازعو د حوارلو لپاره ټولنیز اتحاد پراخه کړي، د منازعې سره د حساسې پوهنې بیلګې دي.

د منازعې شننه د ځان سره باید د محتوا او د ځانګړو میتودونو معلومات ولري، خو بیا هم د منازعې سره د حساسې لارښوونو په اړه لاندې یو څو ستراتیژۍ وړکړل شوي دي. ( د سولې د راوستلو د اړونده لارښونو میتودونه د آی ان اي اي د سولې پراختیایي پروګرام ۲۰۰۸-۲۰۰۴ کڅوړه کې موندلی شئ).

- د ټریننګ او زده کړې محتویات او میتودونه د ټولنې د مشرانو او والدینو سره همغږه او د قبولولو وړ دي، د خپلې پام وړ ډلې ته یی ننګونې په سترګه نه ګوري.
- د منازعې په شننه کې لاسته راوړل شوي معلوماتو انعکاس ورکړی، هغه ښوونکي استخدام او وروزۍ کوم چې په اقلیتي ژبه د خبرو اترو وړتیا لري، په مورنۍ یا هم په زیاتو ژبو د زده کړو برابرول په پام کې ونیسی . (سګکارد ۳۹-۳۸-۲۰۱۲). د هغه ځوانانو لپاره، چې په منځني ښوونځیو کې، او یا هم په سیمه یز اقتصاد کې ورګډیدو لپاره د یوې نوې ژبې زده کړې اړتیا په متبادله پروګرامونو کې په پام کې ونیسی.
- د منازعې د محرکاتو او د شخصي تمایلاتو او یو اړخیزه قضاوت پوهه تمثیل او څرګنده کړی او ورته اساس یی قبول کړی
- هغه میتود وکاروی چې ټولو ته، راګډ شوي پخواني پوځي ماشومان، بې ځایه شویو او کډوالو، د په نورو ژبو غږېدونکي او نور قومونو د منلو وړ وي



*د یوګندا په یونیوای ولسوالی کې د کیسیو په ابتدایه ښوونځي کې یوه ښوونکې د جیمس کاوا سره د انګلیسي ژبې لوست په لیکلو کې مرسته کوي.UNICEF/NYHQ/2010 - 1482 Shehzad Noorani*

- د تاوتريخوالي نشتوالی (عدم تشدد)، ژور فکر، په سوله يزه توګه د شخړو هوارول او توپير لرونکو نظرونو ته د درناوي په اړه لاربښوونې او په نمونه يی ډول يی وړاندې (يونيسيف، ۲۰۱۰: ۲۳و ۵۴؛ د حساسي پوهنې په اړه د آيي اين اي اي کاري ډله، ۲۰۱۱ : ۴۷ مخ)

څرنګه د **زده کړې د لاسته راوړنو ارزونه** د منازعې سره د حساسيت په اساس ترسره کړو؟ په منازعه ځپلي شرايطو کې د زده کړې د لاسته راوړنو ارزونه کيدای شي يو خنډ او يا هم د يو فرصت وسيله وي. که چرته په ملي کچه غوښتل شوی ازموينه يوازې د هغه خلکو په ژبه کې وي چې په واک او راس کې دي، او يا هم د ازموينې محتويات په کلتوري ډول د يوې ځانګړې ډلې پورې تړاو لري، نو دا باکيفيته پوهنې په وړاندې يو خنډ دی. برسيره پردې که يوه ملي ازموينه بې طرفه او ټولو زده کوونکو ته د لاس رسی وړ وي، نو دا د پوهنې او راتلونکې کې د کارموندنې يو مساوي فرصت او چانس دی. د منازعې سره د حساسيت په اساس د زده کړو د د لاسته راوړنو د ارزولو ستراتيژی لاندې ليست شوې دي:

- د ځينو کارونو لکه ژباړه، د يو اړخيزه قضاوت څخه د موادو پاکونه او د سيمې په کچه په مساوي ډول د ازموينو ويش په تر سره کولو سره ارزونې ښه او د ټولو د لاس رسی وړ وګرځوی.
- د پوهنې د وزارت سره مرسته وکړی ترڅو د ارزونې اړونده موضوعات برسي کړي لکه، د نورو هيوادونو د ارزونې تصديق پاڼې وپيژني اويا د داخلي غير دولتي موسساتو تصديق نامو برابرونکي ( لکه د مهاجرينو په کمپونو کې چې پوهه برابروي) وپيژني
- په ارزونو کې د منازعې سره حساسي موضوع ګاني لکه د ښاروندی مسؤليت او د منازعې بدلون هم ور اضافه کړی.
- د منازعې د حساسيت سره سم، د ارزونې معلومات د ډلو په ځانګړنو باندې وويشی تر څو د پوهنې په برخه کې شته خلاوې او هغه سيمې په ګوته کړي کوم چې د باکيفيته زده کړو ته د زده کوونکو د لاس رسي لپاره اضافي پانګه اچونې ته اړتيا لري. لکه څرنګه چې پورته د څارنې او ارزيابی په برخه کې وويل شو چې ويشل شوی او طبقه بندي شوي معلومات کيدای شي د ډلو ترمنځ د کړکيچ او شخړو لامل وګرځي، په کار ده چې په حساسه او منظمه توګه اداره شي.
- د ارزونو پايلې د زده کړی د کيفيت او ورته والي معلومولو لپاره وکاروی ـ د بيلګې په توګه، د ورځنې بازار سره سم د حرفوي او مسلکي زده کړو ورته والی ـ په نصاب اوميتود کې د بدلون راوړلو لپاره دي

په روانډا کې د ټولوژنې څخه وروسته ښوونځيو ته د پخلاينې په بهير کې يو مهم رول ورکړل شوی وو، تر څو د سولې او پخلاينې په هکله پوهنيز نصاب کې د سولې، عدالت، ملي پيوستون او د درناوي ارزښتونه ځای پر ځای شوی وو. د دې ترڅنګ، ښوونکو په تدريسي چارو کې دا کوښښ کولو چې د زده کړې او پوهنې پروګرامونه هراړخيزه او د ټولو لپاره د لاسرسی وړ وګرځوي، لکه يو ښوونکی زده کوونکو ته داسې وايي 'تاسې ټول زما اولاد ياست، تاسې ټول د روانډا ياست او تاسې ټول يو برابر او يو شان ياست.' (ګنګ ۲۰۱۱:۱۴۹-۱۴۷). کله چې ښوونکي د منازعې په محرکاتو او په خپلو ګټو وپوهيږي، او په تدريسي چارو کې د پيډاګوژۍ هغه تمرينونه پلي کړي چې ټول زده کوونکي په سمه او مساوي توګه زده کړه وکړي، دا د منازعې سره د حساسې پوهنې بيلګې دي.

لاندي د آيي اين اي اي د دريم څپرکي د هر معيار لپاره انعکاسي پوښتني ورکړل شوي دي: ښوونه او زده کړه: دا پوښتني **د منازعې سره د حساس پروګرام وسيلي** څخه راخيستل شوي دي، کوم چې تاسي د آيي اين اي اي په ويب پاڼه تری لاسه کولای شی.
www.ineesite.org/conflict-sensitive-education

| د آيي اين اي اي لږ تر لږه معيارونه دريم څپرکی: ښوونه او زده کړه | د منازعې سره د حساسي پوهني په اړه لنډې انعکاسي پوښتني |
|---|---|
| **لومړی معيار: نصاب** | آيا داسي پروسه شتون لري چې دا جوته کړي چې نصاب او د ښوونيزو توکو محتويات بې طرفه او د ټولو زده کوونکو اړتياو ته ځواب ووايي. (لکه نژادي، مذهبي، جنسيتي،ژبنيز يي او د نورو ځانګړتيا وو لرونکي)؟ |
| **معيار ۲: ترينګ، انکشاف و حمايت تخصصی** | آيا د خدمت (Pre-Service) نه مخکې او په خدمت کې (In-Service) د ښوونکو په روزنه او ټريننګونو کې د منازعې سره د حساسيت ورتياوو موضوع ګاني ګډې دي، لکه بين الکلتوري |
| **معيار ۳: تدريس و روند آموزش** | آيا د ښوونکو سره د راز راز زده کوونکو د زده کړې اړتياوو او د منازعې محرکاتو سره سم د اړونده زده کړو په برابرولو کې مرسته شوې؟ |
| **معيار ۴: ارزيابی نتايج آموزش** | آيا د زده کړې د لاسته راوړنو ارزونه محتوياتو له مخې بې طرفه او د ټولو د لاس رسی وړ وه، لکه هغه کډوال چې په نورو ژبو غږيږي، لوړ عمر لرونکي، پخواني پوځي ماشومان او داسي نور؟ |

ښوونه او روزنه

# خلورم څپرکی:

ښوونکو اود پوهنې نور کارکوونکو لپاره د منازعې سره د حساسو تمرینونو ستراتیژۍ:

> د آیي این اي اي لږ تر لږه معیارنونه څلورم څپرکي: ښوونکي او پوهني نور کارکوونکي
>
> **۱. استخدام او انتخاب:** یو شمیر وړ او په مناسبه توګه روزل شوي ښوونکي او د پوهني نور کارکوونکي د شفاف، ازاد رقابت ، د برابرۍ او د تنوع معیار په نظر کې په نیولو سره ګومارل شوي دي
>
> **۲. د کار شرایط:** ښوونکو او د پوهني نور کارکوونکو ته د کار شرایط په ښکاره او واضح ډول بیان شوي او مناسب تنخا او معاش ورکړل کیږي.
>
> **۳. مرسته او سپرویژن (څارنه):** د ښوونکو او د پوهني نور کارکوونکو د څارني او مرستې لپاره جوړ شوي میکانزمونه په اغیزناکه توګه کار کوي.

په دې څپرکي کې د هر معیار لپاره د منازعې سره د حساسي پوهني ستراتیژۍ په لاندې ډول بیانوي.

**د ښوونکي ټاکنه او ګومارنه** باید د منازعې د شنني د معلوماتو او حساسیت په بنسټ په شفافه او مشارکتي ډول داسي ترسره شي چي د کومې ډلې طرفداری ونه شي. که داسي وشي، د ښوونکو کاري قوه به د نابرابریو مخنیوی وکړي، او د سولې په اړه به له مخکي څخه د ویستل شویو او محرومه پاته وګړو په زیان او ګټه به یوهه شي. خو بیا هم، که چیرې ګومارنه د منازعې د اصولو سره سمه ترسره نه شي، کولای شي چي د ډلو تر منځ د ناراضۍ او تاوتریخوالی رامنځته کړي (سیسګارد، ۲۰۱۲: ۳۳). د منازعه د حساسیت سره سم د ښوونکو په ګومارنه لاندې ورکړل شوي ستراتیژۍ وګورئ.

- د منازعې سره د حساسو وړتیاو په اړه د ټاکلو لارښووني او بې تعصبه لایحې جوړې کړئ. (په ۳۵ مخ جدول وګورئ).
- د منازعې د لاسه وتل شویو وګړو په ګډه، د ښوونکو د ټاکنې لپاره داسي کمیټه جوړه کړئ چي په ټولنه کې د هرې ډلې نمایندګي وکړي.
- د تنوع، جنسیت، د ټولنې منبت، د منازعې سره د حساسیت د وړتیاوو او د دندې د لایحې په پام په نیولو سره د ښوونکي او د پوهني د نور کاروکوونکو وټاکئ.
- د مناسبې تنخا (او نورو ګټو) په ورکولو سره د منازعې له لاسه ځپل شویو سیمو ته په عادلانه او شفاف ډول ښوونکي ولیږئ
- د یو اوږد مهاله، عادلانه، د بشري سرچینو او امتیازاتو د سیستم د رامنځته کولو لپاره د پوهني د ورازت سره همغږي او مرسته وکړئ.

د منازعي سره د حساس ښوونکو او د پوهني نور کارکوونکو وړتیاوې (د ښونکو د ګوماني په اړه د منازعي سره د حساسیت اتحادیی لخوا منل شوی ۲۰۱۲: ۲۳، ۳۹)

- په منازعه، د منازعي په اساسي لاملونو، محرکاتو او د منازعي د بدلون په اړتیا پوهیدل
- په دې پوهیدل چي ښوونه او روزنه د ټولو حق دی
- د چاپیریال خوا شا کي په شته تعصب، یو اړخیزه قضاوت او طرفداریٔ سره سره ځان په دې پوهول چي د روزني په چاپیریال کي دننه / خواشا کي بیلالي بیلي ډلي په بیلابیل شرایطو کي څنګه خپل کاروونه ترسره کولی شي.
- زده کوونکو د کلتورونو او د کورنیو په حساسیت پوهیدل زده کونکو سره د شخړو په هکله د خبرو اترو وړتیا درلودل
- باکیفیته زده کړو ته د لاس رسي او د شخړو د مخنیوي او راکمولو تر منځ په اړیکو پوهیدل
- د ننګونو په اړه د راز راز معلوماتو راټولو او شنني وړتیا درلودل

په نازکه شرایطو کي نابرابره اجوره (تنخا) ورکول ښایي چي شخړې او منازعي رامنځته کړي. دې لپاره دا ډیره اړینه ده چي د پوهني پالیسۍ او پروګرامونه **کاري شرایط او اجوره (تنخا)** باید د منازعي سره د حساسیت په اساس پلي کړي. هره ستراتیژي، د ځایي شنني سره سره ، باید د ځایي اقتصادي او سیاسي محرکاتو د شنني په اساس ولاړه وي. (نور اړونده معلومات د ښوونکو د کاري شرایطو او اجورې په اړه په نازکو شرایطو، د بې ځای کیدو او د بحران څخه لاربښوونکي یاددښتونو (۲۰۰۹) کي INEEوروسته بیا رغونه کي د تر لاسه کولای شی.

په **حبشه** (ایتهوپیا) کي دې ته اړتیا وه چي ښوونکي دې د کډوالو په کیمپ کي زده کړې وړاندې کړي. ځایي خلکو د اریتریا څخه د کونوما ښوونکي ځکه **وګومارلي**، ځکه چي هلته په کیمپ کي پوازې همدوی ډیرې لوستي ښځي وې. د ولس د ملاتړ په ترڅ کي ټاکل شویو ښوونکو د هغه ماشومانو لپاره پوهنه برابره کړه،ځوک چي له دې مخکي بې برخي او محرومه پاتي شوي وو (کرک او وینتروپ، ۲۰۰۷). د ښرړنکو په ګومارنه او ټاکنه کي د ټولني برخه اخیستل شفافیت او باور پخوي، او د ټولني د منلو وړ په ګرځیدو سره هغه کشالي له منځه یوسي چي کیدای شي د شخړې د رامنځته کیدو لامل وګرځي.

لاندې د منازعي د حساسیت سره سمي یوشمیر ستراتیژۍ په پام کي ونیسی.

- د ورځني بازار سره سم ښوونکو او نورو کارکوونکو ته په مناسب ډول تنخا او اجوره ورکړی..ن دا کار به نامنظمه او بې ترتیبه اجورو مخنیوی وکړي، کوم چي کیدای شي کاري ناخوښی او د شخړې رامنځته کړي.
- کډوالو، داخلي بې ځایه شویو او نورو ټولنیزي ډلو ته په مساوي ډول کاري شرایط او اجوره (تنخا) ورکړی. د ښوونکو د اجورې او اداینې لپاره غیر مالي لارې چارې په نظر کي ونیسی تر څو سخت شرایط لرونکو سیمو ته ښوونکي واستول شي چرته چي د پوهني په برخه کي شته ننګوني منازعي او شخړې رامنځته کولای شي. غیر مالي اداینه ښایي چي ترانسپورت، استوګنځای او خوراک څښاک شامل دي.
- د کارکولو په شرایطو او او د اداینې او اجورې په طرح کولو کي کي له دولت سره، د پوهني کلسټر او د پوهني په برخه کي د نورو برخه والو سره همغږه کړی
- د کارکولو په شرایطو او او د اداینې او اجورې په طرح کولو کي کي له دولت سره، د پوهني کلسټر او د پوهني په برخه کي د نورو برخه والو سره همغږه کړی.

ښوونکي او د پوهني نور کارکوونکي

- د ځايي اداريي سيستم څخه د اداريي يو ملي سيستم ته د اووښتو لپاره (که چيري ځايي خلک د ښوونکو سره مرستي کوي) مخکې له مخکې پلان جوړ کړی تر څو د اداريي په وړاندې شته خنډونه له منځه لاړ او د ډلو تر منځ کړکيچ زيات نه کړي.

د پوهنې يو عښتلي او مساويانه کاري قوي د درلودو لپاره د ښوونکو او د نورو کارکوونکو **د څارنې (سپرويژن) او ملاتړ ميکانزمونه** ډير اړين دي. د ښوونکو او د نورو کارکوونکو د مسلکي ودې او پرمختګ څخه ملاتړ د پوهنې کاري ځواک کولای شي چې د کړکيچ او شخړو مخه ونيسي. مناسبه څارنه او سپرويژن په ترسره کولو سره د کارکوونکو پام هغه سيمو ته راګرځوي چرته چې د پوهنې د کيفيت او څرنګوالي کچه ټيټه ده، او په همدې ډول د نابرابريو او د ناراضيو مخه نيسي.

- د ښونکي ملاتړ– د منازعي ورته يا هم داسي حالاتو کې چرته چې د ښوونکو ځايي بشري زيرمي لږې وي، هلته بايد د مسلکي ودې او د تصديق پاړو داسي پروسي په کار واچول شي چې نوي يا هم محصل ښوونکو سره مرسته وکړي. هغو ډلو ته بايد ځانګړې پاملرنه وشي څوک چې له مخکې نه محرومه پاتي دي، يعني بايد د نژادي، مذهبي او جنسيتي ډلو څخه هم ښوونکي وګومارل شي. د ګډې زده کړې (Peer Education) پروګرام کولای شي هغه ښوونکو سره د رواني هوسايني په اړه مرسته وکړي چې په سختو شرايطو او محتوا کې کار کوي. خصوصي مرستې (سرچيني يا هم تخنيکي مرستې) کولای شي ملي روحيه او زيرمي پياوړی کړي.
- د ښوونکو څارنه او سپرويژن ــ د ښونکو څارنه او سپرويژن بايد په بي طرفه او شفاف ډول ترسره شي. د دندې د لايحې سره سم، د اجراتو ارزونه ترسره او سندي شي. ګومارونکي اداره، ښوونکي او د پوهنې کميټه بايد د دندو په لايحو او معياري کړنو سره هوکړه وکړي. دواړه سندونه کولی شي چې د ښوونکو د اجراتو د ارزيابۍ لپاره د يو چوکاټ په ډول وکارول شي. له والدينو اوزده کوونکو سره سپرويژن او څارنه شريکه کړی تر څو د شکايتونو څيړنه او د ښوونکو او د نورو کارکوونکو د کار او کړنو په اړه د دوي فيډ بک او نظر واوريدل شي، په ځانګړې توګه په ټولګي کې د منازعي سره سم د ښونکو کړنلارې. (د اړونده معياري کړنو تفصيل د سميټ ۲۰۱۲: ۲۶۱ ګڼه کې موندلی شئ.)

په **سوماليه** کې ورلډ ويژن (World Vision) د ښوونکو د مسلکي پياوړتيا او ملاتړ په هکله هڅه کوي: الف) د ټولني د ښيږه وندې اخيستني لپاره مالي مرستې کوي ب) په ټولنو کې د ښوونکو اهميت او د هغوي د رول په اړه څرګندوني ج) د ښوونکو لپاره مسلکي زده کړې او روزنه د) ښوونکو ته د هغوي د کرهني لپاره کرهنيزو وسايلو او توکو ويش او توزيع او ه) ښوونکو ته تدريسي او د ښونځي مواد برابرول (INEE, 2009, 17). ښوونکو ته په مساوي، شفاف او ځواب ورکونکي ډول د اجورې برابرول د ټولنو ترمنځ د کشاليو او ناندريو کچه راټيټوي، او څارنې او کنټرول يوه ښه بيلګه رامنځته کوي – او په هم دې ډول د منازعي سره د حساسي پوهنې په اړه مرسته کوي.

په ځلورمه برخه کې د آیي این اي اي د لږ تر لږه هر معیار لپاره انعکاسي پوښتنې لاندې ورکړل شوي دي :

ښوونکي او د ښوونې او روزنې نور کارکوونکي. دا پوښتنې د منازعې سره د حساس پروګرام وسیلې څخه راخیستل شوي دي، کوم چې تاسې د آیي این اي اي په ویب پاڼه ترې لاسه کولای شئ. www.ineesite.org/conflict-sensitive-education

د INEE د لږ تر لږه معیارونو ځلورمه برخه:

| د آیي این اي اي د لږ تر لږه معیارونو ځلورمه برخه: ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي | د منازعې سره د حساسې پوهنې په اړه لنډې انعکاسي پوښتنې |
|---|---|
| **لومړی معیار:** ګومارل او ټاکل | آیا د ښوونکو د انتخاب او ګومارلو پروسه په شفافه، مشارکتي او د منازعې د شننې معلوماتو په بنسټ ترسره شوې، او د کومې ډلې پلوي خو نه کوي؟ |
| **دویم معیار:** کاري شرایط | آیا د ښووونکو د ادایني او اجورې پروسه په شفافه، عادلانه او د حساب ورکونې په توګه ترسره شوې؟ |
| **دریم معیار:** ملاتړ او څارنه (سپرویژن) | آیا د پوهنې د ټولو کارکوونکو، د کم تجربه او له مخکې څخه بې برخې ډلو د ملاتړ او څارنې لپاره سیستم شته؟ |

ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي

# پنځم څپرکی

## د منازعې سره د حساسیت پوهنې پالیسی لپاره ستراتیژی

د INEE د لږ تر لږ معیارونو پنځم څپرکی: د پوهنې پالیسي

**۱. د قانون او پالیسی جوړول:** د پوهنې چارواکي باکیفیته زده کړو د پاینت او بیا رغونې تر څنګ د پوهنې هر اخیزه کولو او وړیا کولو ته لومړیتوب ورکوي.

**۲. پلان جوړول او پلي کول:** د پوهنې فعالیتونه د پوهنې د نړیوالو او ملي پالیسیو، قانون، پلانونو او معیارونو تر څنګ د ځپل شویو وګړو د اړتیاو سره سم برابریږي.

لکه څنګه چې په نړیوالو قانوني سندونو او سیاسي ژمنو کې دا په ډاګه شوې چې پوهنه یو بشري حق دی. د پوهنې د پالیسی جوړول او پلي کول هغه میکانزم دی چې د پوهنې کارکوونکي کولای شي دا حق تر لاسه کړي. که چیرې د پوهنې پالیسی د منازعې د حساسیت په اساس جوړې نه شي، دا ښایي چې د ډلو تر منځ کړکیچ او دښمني، د ناندریو لړی، د نابرابریو زیاتوالي او ځیني وخت ښایي چې نور تاوتریخوالی رامنځته کړي.. د منازعې د حساسیت په بنسټ جوړې شوې پالیسی ټولنیزې اړیکی ، د ملي هویت پیژندني او درناوی، د ټولو لپاره د مرستو په یو شان رسونه، بې طرفي، تنوع او د درناوي وړ ښوونیز چاپیریال او د زده کړې پروسې پیاوړی کوي.

څرنګه کولای شئ چې تاسې د منازعې سره د حساسیت په بنسټ پوهنې پالیسی کړی؟

- د پوهنې نوې پالیسیو د رامنځته کولو لپاره د منازعې د شننې څخه کار واخلی تر څود پوهنې او د ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي، امنیتي او محیطي محرکاتو تر منځ اړیکو باندې وپوهیږی
- د منازعې سره د حساسې پوهنې پالیسیو ته د نیستی او فقر له منځه وړلو، د سولې راوستنې، د ثبات او پاینت ، د اقتصاد بیا جوړوني، د ځوانانو لپاره د کار موندنې او د ټولنیز پیوستون د پالیسیو سره تړاو ورکړی. (برسیره پردې د بشري حقونو ژمنې په ۷ مخ وګوری).
- له مخکې څخه پاتې او محرومه ډلو په ګډه د پوهنې یو لړ برخه والو سره د پوهنې د نوې پالیسیو د پوهاوي او منلو په اړه همغږي وکړی. (لاندې ورکړل شوې لیست، او هم په ۲۳ مخ د همغږی په برخه کې ورکړل شوې لیست ګوری)
- په دوامداره توګه، د نوی پالیسی د وړاندې کولو په اړه د راز راز ډلو د پوهې او نظرونو څارنه او ارزونه ترسره کړی او د راولاړې شوې لانجې له منځه وړلو لپاره یې جوړې او تیارې کړی.
- په تدریجي ډول د پوهنې پرمختلونکې بدلون او د منازعې نه وروسته د سمدستي مرستو د پاینت لپاره لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پالیسی په پام کې ونیسی. (یوروتریندس، ۲۰۰۹: ۴۴ – ۴۹)

د منازعې سره د حساسې پوهنې پالیسی د جوړولو په بهیر کې باید څوک څوک برخه واخلي؟(یونیسکو – IIEP، ۲۰۱۱: ۶۰ څخه راخیستل شوی) (د یونیسکو له خوا قبول شوی ۲۰۱۱)

- د خصوصي تعلیم سکتور
- مدني ټولنې
- د پوهنې کلسټر

د پوهنې پالیسي

- د ملي ازموينو اداره
- مسلكي اتحاديې لکه د ښوونکو اتحاديه، مذهبي ډلې
- ملي نړيوالي نادولتي اداري
- د پلان جوړوني، ماليې ، د ټولنيزو چارو، مدني او د کارګرو وزارتونو چارواکي
- د پوهنې د وزارت څانګې ( د اسانتياوو، نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ښونځيو د بيا رغونې څانګې).

د منازعې سره د حساسې پوهنې پاليسۍ کوم اړخونه ته بايد لومړيتوب ورکړي؟

د منازعې شننه دا په ډاګه کوي چې آيا کومې نوې پاليسۍ ته اړتيا شته، او که نه اوسنۍ پاليسۍ دې بياځلي وکتل شي ترڅو دا جوته کړي چې د منازعې د حساسيت په اساس پوهنمه وړاندې شوي. د بيلګې په توګه، که چيرې د منازعې شننه دا په ډاګه کړي چې پخواني پوځي ماشومان زده کړو ته لاس رسي نه لري، ښايي چې د متبادل ښوونيز پروګرام لپاره پاليسي جوړه شي. په ټوله کې د منازعې سره د حساسې پوهنې پاليسي بايد لاندې اړخونه د پوښښ لاندې راولي: (د منازعې سره د حساسې پوهنې د پاليسۍ تفصيلي ليست لپاره د يونيسکو – IIEP: ۲۰۱۱: ۵۵ – ۵۶ او د سيسګارد، ۲۰۱۲: ۲۰ – ۲۱ وګورئ)

**په لايبيريا کې**، د هغه پخوانيو عسکرو لپاره د زده کړو برابرول، چې د روغې جوړې يابيښت لپاره د ګواښ يو ځانګړی فکتور ګڼل کيږي، او په عمومي کچه د پوهنې وړاندې کولو له ځان سره پروګرام ډوله ناچارۍ درلودلې. د پخوانيو عسکرو په هکله د پروګرام څخه د بې برخه خلکو خپګان څه نا څه په کال ۲۰۰۱ کې د وړيا او اجباري پوهنې برابرولو، او بيا وروسته د کال ۲۰۰۳ د 'ښوونځي ته بيا ورتګ' د کمپاين په ترڅ کې راکم کړو. په عمومي توګه پوهنې ته د لاسرسۍ د دوارو نوښتونو پايلې مثبتې وې"( په نازکه شرايطو کې د INEE کاري ډله، ۲۰۱۱ الف: ۴۷). ټولو لپاره ـــ هغه ډلې چې په شخړه کې ښکيل وې (لکه پخواني عسکر) ـ او هغه ډلې چې په نادريو کې يې لاس نه درلوده، د وړيا او اجباري زده کړو د پاليسۍ په پلي کولو سره برينګلي اړيکې ښه کوي، دا د منازعې سره د حساسې پوهنې يوه بيلګه ګڼل کيږي.

- د منازعې د شننې په بهير کې د رامنځته شويو لاملونو په ډاګه کولو او د منازعې سره د حساسې پوهنې د وړاندې کولو لپاره وړتياوې جوړې او سياسي تمايلات وهڅوئ.
- په هره کچه زده کړو ته لاس رسۍ پياوړی کړئ
- نصاب، ښوونه او ژبه د منازعې د حساسيت سره سم برابر کړئ
- د بيړنيو حالاتو لپاره د چمتووالي سره سره پوهنه له بريدونو څخه خوندي وساتئ. او
- د منازعې د شننې په ملي پروسه کې په ګوته شوي مسالې او لانجې په ډاګه کړئ.

د نوې پاليسۍ د جوړولو پروسه د جوړې شوې پاليسۍ د پلان جوړونې او پلي کولو لپاره ښايي چې د لاربنود په توګه هم وکارول شي. لکه پلارن جوړول او پلي کول. په منازعه ځپلي شرايطو کې د يوې نوې پاليسۍ **پلان او پلي کول** بايد د منازعې او د پوهنې د محرکاتو د يو بل سره د اړيکو د حساسيت په بنسټ ترسره شي. د بيلګې په ډول، که چيرې په يو منازعه ځپلې سيمه کې د نورو سيمو په پرتله په ښوونځيو کې د داخليدو شرح ټيټه وي، په داسې وخت کې بايد د خصوصي سکټور پلان او سرچينې دې پلې شي ترڅو په ورته سيمه کې پوهنې ته د مساوي لاس رسۍ ډاډ ورکړي. که څه هم د شرايطو سره سم ځانګړي پلانونه به د يو بل سره توپير ولري، خو په ټوله کې بايد د پوهنې د پاليسۍ موخه دا وي چې باکيفيته پوهنې ته د کډوالو، داخلي بې ځايه شويو او بې برخې ډلو په ګډون د ټولو لاس رسۍ پياوړی کړي. د منازعې د حساسيت په اساس د پلان او پاليسۍ د پلي کولو لپاره لاندې يو څو عمومي ستراتيژۍ ورکړل شوي دي.

د پوهنې پاليسي

- د پوهنې سکتور او کاري پلانونه باید د منازعې د شننې لخوا معلوماتي او وخت پر وخت نوی شي
- په ملي کچه په مشارکتي ډول دا وڅيړي چې د همغږۍ د میکانزم په درلودو سره څرنګه کولای شو چې د منازعې د حساسیت په اساس د پوهنې فعالیتونه ترسره کړو تر څو د هرې ډلې (نژادي، مذهبی ټولنيزې او جنسیتي) او برخه والو (دولتي، نادولتي، پوهنيز او غیر پوهنيز، ځايي، بهرني، ملګري ملتونه او داسې نورو) ښکارندوی وي.
- د پوهنې د پلان او پلي کولو فعالیتونه په نورو ملي ستراتيژيو لکه د بيړني حالت د غبرګون ستراتيژي، د فقر او نيستی له منځه وړلو او يا د سولې د راوستنې په ستراتيژيو کې ځای پر ځای شي ترڅو بې برخي ډلي او یا سیمي د پوښښ لاندې راولی.
- پلان جوړونې، څارنې او د نادولتي ادارو لخوا د پوهنې د اداري او مدیریت لپاره د دولت وړتیاوې جوړې کړی تر څو د پوهنې د خدمتونو رسول پایښت ومومي او د نیمګړتیاو له امله رامنځته شوي کړکیچ مخنیوي وشي.
- د پوهنې د موخو او راتلونکي فعالیتونو لپاره سرچيني پلان کړی تر څو د ځینې کارونو په ترسره کولو سره لکه د بودیجې تخصیص، له مخکې څخه پلان شوي نوم لبکنې او د عقیدی، نژاد او د سیمې په کچه د ښوونکو د استخدام په ترسره کولو سره مساوي لاسرسی رامنځته او نیمګړتیاوې په ګوته کړي. (سیسګارد، ۲۰۱۲: ۳۰).
- په دوامداره توګه د پوهنې د کارونه څخه څارنه او لیدنه وکړی تر څو د بیلابیلو سیمو او ټولنیزو ډلو بدلیدونکي اړتیاو ته پرته له کوم تبعیضه ځواب ووايي.

په کال ۲۰۱۲ کې، د سویلي سوډان په جوبا ښار کې د پوهنې کلستر د پوهنې د فعالانو د یوې ډلې لپاره اوونيز ورکشاپ پیل کړ چې د هیواد اوسنې حالاتو او شرایطو سره د آیي این اي اي لږ تر لږه معیارونه برابر کړي. دی غړو په سویلي سوډان کې د پوهنې او منازعې د یو بل سره اړیکو ځانګړې لارو چارو په پام په نیولو سره هغه معیارونه ولیکل چې ورته اندیښنې په ګوته او باکیفیته پوهنې د لاس رسی پیاوړی کړی وو.په پایله کې، د سویلي سوډان د پوهنې وزارت د پوهنې نوي معیارونه د پوهنې  په نوی جوړه شوی ملي پالیسی کې ځای پر ځای کړ (کونز، ۲۰۱۲). . د پالیسی د جوړونې په کچه  د پوهنې د راز راز فعالانو همغږې د راز راز برخه والو توافق او هوکړه لوړې، او د شته کړکیچ د زیاتیدو مخنیوی کوي، ځکه دا د منازعې سره د حساسي پوهنې څرګندونه ده.

د پوهنې پالیسي

په پنځم څپرکي د INEE د لږ تر لږه هر معیار لپاره انعکاسي پوښتني لاندې ورکړل شوي دي: د پوهني پالیسي

دا پوښتني د منازعي سره د حساس پروګرام وسیلي څخه راخیستل شوي دي، کوم چې تاسي د آیي این اي اي په ویب پاڼه ترې لاسه کولای شی.

www.ineesite.org/conflict-sensitive-education

| د آیي این اي اي لږ تر لږه معیارونه: پنځم څپرکی | د منازعي سره د حساسي پوهني په اړه لنډې انعکاسي پوښتني |
|---|---|
| لومړی معیار: قانون او پالیسي جوړول | آیا د پوهني د پالیسی په جوړولو کې د راز راز ډلو استازي راګډ وو. آیا د منازعي د شنني څخه مو پیل کړی؟ |
| دویم معیار: پلان جوړونه او پلي | آیا د پوهني د پالیسی د تطبیق په کارونو کې مو د منازعي د شنني څخه زده کړې او پند ته انعکاس ورکړی، په ځانګړې ډول د پوهني نیمګړتیاو څخه چې کیدای شي د پلان شوې پالیسی له مخې زیاتې او یا هم له منځه ولاړې شي؟ |

د پوهني پالیسي

٣

# سرچینې

لاندې ضمیمې د منازعې سره د حساسې پوهنې لپاره ګټورې سرچینې وړاندې کوي

**لومړۍ ضمیمه** ـ د منازعې سره د حساسې پوهنې لنډه او چټکه وسیله

**دویمه ضمیمه** ـ د منازعې د شنني کړنې او وسیلې

**دریمه ضمیمه** ـ موردي لوستونه

**څلورمه ضمیمه** ـ د مضمون ماخذونه

**لومړۍ ضمیمه:**

## د منازعې سره د حساسې پوهنې لنډه او چټکه وسیله

دا جدول د دویمې برخې د لارښود یاددښتونو بشپړوونکې دې. دا د منازعې سره د حساسې پوهنې په اړه د فکري تحریک لپاره لنډ او چټک وړاندیزونه دي، نه د کومې توصیه شوې نسخې په مانا. د دې کاروونکې کولای شي د منازعې د شننې په اساس د ځانګړې شرایطو او محتوا لپاره، چې دوی په کې کار کوي، غوره کړي.

**د آیي این ای ای معیارونه لومړۍ څېرکی:**
**بنسټیز معیارونه حوزه اول معیارهای حداقل INEE:**

| | |
|---|---|
| **د شننې لومړی معیار: ارزونه**<br><br>په بیړني حالاتو کې د پوهنې پر وخت ارزونه په شفافه، مشارکتي او په هر اړخیزه ډول ترسره کیږي | **د منازعې شننه**<br>• د پوهنې هر کار د منازعې د شننې څخه پیل کیږي تر څو د منازعې او د پوهنې د غبرګون د ستراتیژۍ اړیکې، برخه وال او ډاینامک (تحرکات) تحلیل او تجزیه شي.<br>• د منازعې په شننه کې د کارکوونکو (تعلیمي او غیر تعلیمي) ډلې، د شخړې اساسي، منځنې او اوږد مهاله لاملونه، او د معنا ډکې سرچینې په هر اړخیزه ډول رانغاړي.<br>• د پوهنې د اړتیاوو او بیلابیل ډولونو لپاره د ټولنیزو ډلو او برخه والو په ګډه په پراخه کچه ارزونه ترسره کیږي.<br><br>**ارزونه**<br>• د پوهنې د ارزونې معلومات د سیمې، نژاد او یا هم د مذهبي ډلو په اساس وړاندې کیږي ترڅو د پوهنې په وړاندې خنډونه، نیمګړتیاوې او د شخړې سره اړیکې راڅرګندې شي.<br>• د منازعې او د پوهنې د کارونو په هکله د ګټه اخیستونکو او نورو وګړو انګیرنې، پوهه او مهارت په هکله معلومات راټول شوي.<br>• تاسې ورسره نور څه زیاتوی؟ |
| **د شننې دویم معیار: د غبرګون ستراتیژۍ**<br><br>د هر اړخیزه پوهنې د غبرګون ستراتیژۍ له ځان سره د محتوا، د پوهنې د حق پر وړاندې د خنډونو او د ورته ننګونو له منځه وړلو لپاره ښکاره پیژندنه لري. | • د غبرګون ستراتیژۍ (څه، څوک، چرته او کله) په سمه توګه د ارزونې معلومات د شرایطو او د منازعې شننې ته انعکاس ورکوي او په دوامداره ډول د منازعې د شرایطو او محتوا سره قبول شوي.<br>• د پوهنې غبرګون په دوامداره ډول د ځپل شویو خلکو د هراړخیزه او باکیفیته پوهنې اړتیاوو ته په مساوي توګه ځواب وایي، او د ډلو تر منځ کشالې نه زیاتوي.<br>• د غبرګون ستراتیژۍ په داسې بڼه طرح او پلې شوي چې ګټه اخیستونکو یا د ورته خدمت برابروونکو ته کوم زیان نه رسوي، او شخړې او منازعې ته لمن نه وهي.<br>• د منازعې د شننې او معلوماتو په اساس د څارنې ښکاره میکانزمونه پرځای شوي او د ګټه اخیستونکو ټاکنه په شفافه او واضحه توګه ترسره شوي.<br>• تاسې ورسره نور څه زیاتوی؟ |

## څه

### د شننې دريم معيار: څارنه

په دوامداره توګه د پوهنې د غبرګون د کارونو او په تدريجي ډول د ځپل شويو وګړو د پوهنې اړتياوې څارل کيږي

- د منازعې د شننې معلومات ښايي چې: د پوهنې د بيلابيلو قسمونو کې په اساس د داخليدو تولـه/يا هم سوچه کچه؛ د پوهنې بل پړاو ته اوښتو اندازه؛ د زده کړې د ارزښت اندازه؛ د پوهنې لپاره له مخکې څخه تخصيص شوې بوديجه؛ په مناسب ډول روزل شوي ښوونکي؛ د ښوونکي/زده کوونکي تناسب؛ د ښوونکو ډيموګرافي ( نژاد، مذهب او داسې نور)؛ په ښوونځيو بريدونه؛ له مخکې پلان شوې داخليدل او جلبول؛ د راتلونکې لپاره د بوديجې اختصاص؛ د راتلونکي لپاره د ښوونکو ليږدونه؛ د مرستو ويش (سيسګارډ ۲۰۱۲: ۲۷ او ۳۰) او د تاوتريخوالي د ګواښ عاملونه؛ د سولې د رامنځته کولو فرصتونه؛ په منازعې د کار او فعاليت منفي او مثبتې اغيزې (ايس ډې سي، ۲۰۰۶)؛ د پوهنې د کارونو په اړه پوهه او انګيرنې.
- د هر ډول او کچې پوهنې لپاره د پوهنې معلومات (اي ايم آيي ايس او داسې نورې سرچينې) د سيمه يزو، نژادي او مذهبي ډلو په اساس ويشل شوي تر څو د پوهنې نيمګړتياوې په ډاګه شي.

## څرنګه

- د پوهنې د غبرګون د کارونو او د منازعې سره د اړيکو څارلو لپاره اغيزمن، مشارکتي او دوامداره سيستم شتون لري تر څو د دې خبرې پخلې وکړي چې د سرچينو څخه په سمه توګه ګټه اخيستل کيږي او د بيلابيلو ډلو لپاره بوديجه په مساوي ډول اختصاص شوې ده.
- د ټولنې راز راز ډلو سره دوامداره سلامشوره، د معلوماتو راټولو لپاره په بيلابيلو ميتودونو روزل شوي او د څارنې په کارونو کې ښکيل دي.
- د پوهنې معلومات وخت پر وخت شنل شوي او د اړونده برخه والو سره، په ځانګړې توګه د مخالف لوري د ځپل شويو ډلو سره (که چيرته شخړې ته لمن نه وهي) سره شريک شوي دي.
- د پوهنې نادولتي اداري په ټولو سيمو کې د پوهنې سکتور مسؤل او د څارنې وړ کرځولو لپاره د پوهنې وزارت ملاتړ او مرسته کوي.
- تاسي ورسره نور څه زياتوئ؟

### د شننې څلورم معيار: ارزيابي

سيستماتيکه او بې تعصبه ارزيابي د پوهنې د غبرګون کارونه، مسؤليت او ځواب ورکونه پياوړې کوي.

- بيلابيل برخه وال د ځپل شويو وګړو او د پوهنې چارواکو په ګډون، د پوهنې لپاره د منازعې د حساسيت په بنسټ د شواهدو په اساس مدرک رامنځته کولو او د ارزيابی په کارونو کې ښکيل دي.
- د پوهنې د غبرګون کارونو ارزيابی کې په کاري چوکاټونو کې د منازعې د محرکاتو په ځانګړې توګه په منازعه د پوهنې د کارونو اغيزې شاملې دي.
- د ارزيابی په اوږد مهاله ملي کاري چوکاټونو او د همغږۍ په ميکانزمونو (لکه د پوهنې کلستر) کې ارزيابي ځای پر ځای شوي تر څو د راپور ورکونې د تکرار مخنيوی کوي.
- د ارزيابی د تطبيق پروسه د منازعې د شننې په بنسټ د بيلابيلو ډلو او د سيمو په ځانګړنو ويشل کيږي تر څو د پوهنې نيمګړتياوې په ډاګه کړي.
- د منازعې سره د حساسې پوهنې په اړه ښه تمرينونه او زده کړې په پراخه کچه داسې شريک شوي چې د راتلونکې پاليسيو، پروګرامونو او ملاتړ لپاره د ملي/سيمه يزه مؤسسو او انستيټوټونو ظرفيت لوړ کړي.
- تاسي ورسره نور څه زياتوئ؟

### د ټولنې ونډه اخيستنه لومړی معيار: ګډون

د ټولنې غړي د پوهنې د فعاليتونو په شننه، پلان، طرح، پلي کولو، څارلو او ارزولو کې په فعاله، تعصب نه پرته او په شفافه توګه ونډه اخلي.

- د ټولنې د غړو (نجونې/هلکان، تنکي ځوانان، ښځينه/نارينه او نورې ځانګړې ډلې) په وکالت يوه ډله د منازعې په شننه، د غبرګون په ستراتيژيو، تطبيق، څارنه او ارزيابۍ کې په فعاله توګه ونډه اخلي.
- د ډلو د ځانګړنو پرته د ټولنې د پوهنې کميټې هر اړخيزه
- دي.
- د ډلو د ځانګړتياو پرته ــ د پوهنې کارونه د ټولنې اوسنی ځواک او توانايي لوړوي.
- د ټولنې د ونډې اخيستنې او د ګډون ميکانزم له لارې د کوربه/بې ځايه شويو/کډوالو ټولنو تر منځ اړيکی پياوړې شوي.
- د ټريننګ او روزنې وخت او ميتودونه د ځواک د چوکاټ څخه ويستل شويو او له مخکې څخه بې برخه پاتې شويو وګړو لپاره د لاسرسی وړ دي.
- د منازعې محرکات او ټولنه، او د دوې يو بل سره اړيکې او تړاو په داومداره توګه څارل کيږي.
- تاسې ورسره نور څه زياتوی؟

### د ټولنې ونډه اخيستنه دويم معيار سرچينې:

د زده کوونکو د عمر سره سم د زده کړو فرصتونه په برابرولو کې د ټولنې سرچينې پيژندل شوي، هڅول شوي او کارول شوي دي.

- سرچينې د منازعې د شننې او معلوماتو په بنسټ هڅول شوي، او لاندې پوښتنو ته ځواب وايي:
- څوک دا ډول سرچينې تمويلوي او په ټولنه کې د نورو ډلو انګيرنې څه دي؟
- د اجناسو او اموالو اصلي سرچينه کومه يوه ده؟ آيا دا د منازعې د کوم ځانګړې لوري او اړخ سره تړاو لري.
- دا سرچينه به د منازعې د محرکاتو او د پوهنې د کارونو په اړيکو څه اغيزه ولري؟
- آيا د ورته سرچينې کارول به د کومې ځانګړې ډلې پوهنې ته مساوي لاسرسی په منفي ډول اغيزمن کړي؟
- د منازعې سره د حساسې او باکيفيتې پوهنې ته د پياوړې لاسرسې لپاره د منازعې د شننې د معلوماتو په بنسټ ټولنې، د پوهنې کارکوونکې او زده کوونکې ځايي سرچينې په ګوته کوي او هڅوي.
- د پوهنې چارواکې، ځايي ټولنه او بشرپاله برخه وال د ټولنې د هرې ډلې اوسنې مهارتونه او پوهه رابرسيره کوي او د پوهنې داسې پروګرامونه جوړوي چې د ورته وړتياو په کارولو سره د منازعې سره حساسه پوهنه وړاندې کړي.
- د پوهنې چارواکې، ملګري ملتونه، نادولتي اداري، ټولنې او نور برخه وال د ښوونيزو کارونو ملاتړ لپاره وخت پر وخت، شفافه، مساوي او همغږه مالي جوړښتونه کاروي.
- د تعصب پرته ټولو ډلو لپاره، په کافي اندازه داسې سرچينې شتون لري چې په مساوي او دوامداره توګه د باکفيته پوهنې کارونه ترسره کړي.
- تاسې ورسره نور څه زياتوی؟

| | |
|---|---|
| **د همغږۍ لومړی معیار: همغږي**<br>د پوهنې لپاره د برخه والو ترمینځ د همغږۍ میکانزم پلي کیږي تر څو باکیفیته پوهنې ته لاسرسی دوامداره او پیاوړی کړي | • دا د پوهنې د چارواکو دنده ده چې د منازعې سره د حساسي پوهنې د غبرګون په کارونو کې مشري په غاړه واخلي تر څو پوهنې ته د لاسرسی حق ځای پر ځای کړي.<br>• د پوهنې چارواکي او فعالان د همغږۍ په میکانزمونو (پوهنه او د سولې راوستنې) کې برخه اخلي.<br>• د منازعې د شننې او معلوماتو په بنسټ د همغږۍ میکانزم شفافیت، حساب ورکونه، د پوهنې بشپړه او قبول شوي پالیسی او پروګرامونه پیاوړي کوي.<br>• د همغږۍ کړنلاره او ستراتیژي واضحه او د ټولو ډلو لپاره هراړخیزه ده، او د پوهنې وزارت او د پوهنې د نوي سکتورپلان سره قانوني مرسته کوی.<br>• تاسې ورسره نور څه زیاتوۍ؟ |

| | |
|---|---|
| **د آیي این اي ای معیارونو دویم څپرکی**<br>**لاس رسي او د زده کړې چاپیریال** | |

| | |
|---|---|
| **لومړی معیار: مساوي لاس رسی**<br>ټول خلک باکیفیته او اړونده د پوهنې فرصتونه ته لاس رسی لري | • د تعصب ډکې پالیسۍ او ورته کارونو له امله هیڅ یو وګړی یا هم ټولنیزه ډله پوهنې او زده کړې ته د لاس رسۍ څخه بې برخې شوي نه دي ( دا ښایي چې د بې برخې او وتلې ډلو لپاره د را ګډولو سهمیه او برخه ورکړي.)<br>• د پخواني پوځي ماشومانو، داخلي بې ځایه شوی او کډوالو، او په غیر حاکمو ژبو غږیدونکو په ګډون د زده کړې مناسب ځایونه او جوړښتونه د ټولو لپاره د لاس رسۍ وړ دي.<br>• په ښوونځي کې د شاملیدو په وړاندې خنډونه، لکه د اسنادو نشتوالی، د نا منلي تصدیق پاڼو، د ښوونځي فیس او نورې اړتیاوې له منځه شوي.<br>• په نورو هیوادونو کې د لاسته راوړنو (تصدیق پاڼې، آزموینې او فراعت) د تصدیق پروسې شتون لري.<br>• د منازعې له امله رامنځته شوی ګډوډیو څخه وروسته زده کوونکي دا فرصت لري چې ژر تر ژره د رسمې زده کړو په بهیر کې بیاځلي شامل شي.<br>• د کډوالو لپاره د پوهنې پروګرام باید د پوهنې د ځایي چارواکو او د کډوالو د اصلي هیواد لخوا په رسمې ډول پیژندل شوي.<br>• د ځپل شویو وګړو لپاره د پوهنې خدمتونه داخلي بې ځایه شوي/کډوال او کوربه ټولنو سره مرسته کوي.<br>• پوهنې ته د لاس رسي په اړه د هرې ډلې خپګان او نارضایتي د منازعې په شننه او د غبرګون په ستراتیژیو کې په پام کې ونیسی.<br>• د پخواني جګړه مارو لپاره د ترخیص، بې وسلې کولو، د بیا ورګډیدنې او استقرار په پروګرامونو کې د پخواني جګړه مارو د ملاتړ او مرستې په موخه د پوهنې او رواني هوساینې ته لومړیتوب ورکوي.<br>• پوهنه د ټولنې د اړتیاوو ته ورته او مناسبه ده؛ په ځانګړې توګه زده کوونکو ته د کار موندنې مهارتونه ور په برخه کوي.<br>• تاسې ورسره نور څه زیاتوۍ |

| | |
|---|---|
| **دویم معیار: خوندیتوب او هوساینه**<br>د زده کړې چاپیریال او ځایونه خوندي دي، او د | • د زده کړې چاپیریال او ځای د زده کوونکو، ښوونکو او د پوهنې نورو کارکوونکو لپاره د هر ډول خطر او ګواښ څخه پاک دی.<br>• ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي د منازعې د محرکاتو، د خپلو ګټو |

زده کوونکو، ښوونکو او د پوهنې د نورو کارکوونکو خوندیتوب او رواني هوساینه پیاوړی کوي

او هغه پوهه او مهارت لري چې دوی یې د یو خوندي ښوونیز چاپیریال د جوړولو لپاره ورته اړتیا لري.

- د زده کړې چاپیریال ته تګ راتګ لاري، د اوبو ځایونه، او مبرزونه خوندي او د ټولو د لاس رسۍ وړ دي.
- د زده کړې چاپیریال او ځایونه د بریدونو، سیاسي او پوځي مداخلو او نیونو څخه پاک دی.
- ټولنه د پوهنې د کارونو او پالیسیو په هکله خپل نظر څرګندوي تر څو دا جوته شي چې زده کوونکي، ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي د بریدونو څخه خوندي او محفوظ دي. ښايي چې د وسله والو ډلو سره په دې اړه خبرې اترې وشي چې په ښوونیزو ، روزنیزو او د زده کړې په ځایونو د بریدونو څخه ډډه وکړي.
- د شکایتونو میکانزم زده کوونکو، ښوونکو، والدینو، د ټولنې وګړو او همدارنګه د پوهنې نور کارکوونکو ته دا موقع په لاس وررکوي چې د فزیکي خوندیتوب، ټولنیزې رواني هوساینې او د ښوونکو د ځانګړي چلند په اړه راپور او معلومات ورکړي.
- د پوهنې غبرګون کې د زده کوونکو، ښوونکو او د پوهنې نور کارکوونکي لپاره د خوندیتوب او ساتنې ټریننګونه شامل وي.
- تاسې ورسره نور څه زیاتوی؟

## دریم معیار: اسانتیاوې او خدمتونه

د پوهنې اسانتیاوې د زده کوونکو، ښوونکو او د پوهنې نور کارکوونکو خوندیتوب او رواني هوساینه پیاوړی کوي، او له روغتیا، تغذیې، رواني او امنیتي خدمتونه سره تړاو لري.

- د زده کړې چاپیریال، ځایونه او جوړښتونه خوندي او د خطر څخه پاک، او ټولو زده کوونکو، ښوونکو، د پوهنې نور کارکوونکو لپاره په خوندي ډول د لاس رسۍ وړ دي.
- د اړتیا سره سم په مساوي او برابره توګه ټول وګړي د پوهنې د پوښښ لاندې راوړلو لپاره لنډ مهاله او دایمي د زده کړې ځایونه رغول شوي او ودان شوي دي.
- د منازعې د مخنیوي لپاره د ساختماني شریک لوریو انګیرنې او ورته نارضایتۍ څارل شوي دي.
- د ټولنې راز راز غړي د زده کړې د ځایونو په ګوته کولو، ودانولو، مراقبت او ساتنه کې برخه اخلي.
- د زده کړې ځایونه د ټولنې لخوا په ښکاره او څرګند ډول د سولې او امن سیمو او نقطو په توګه پیژندل شوي او د هر راز تاوتریخوال یا پوځي نیونې او مداخلې څخه خوندي دي.
- ټولګي او په ټولګیو کې دننه ناسته د زده کوونکو د شمیر او د ښوونکي د تناسب په بنسټ داسې ترتیب او تنظیم شوي چې د شاګرد محوری او په ګډه د زده کړې کړنلارې پیاوړی کړي.
- د عمر، جنسیت، معیوبیت او معلولیت په نظر کې نیولو سره د څښاک پاکې اوبه، مبرزونه او داسې نورو اسانتیاوو ته ټول په خوندي او مساوي ډول لاس رسۍ لري.
- په ځانګړې توګه له مخکې څخه بې برخې پاتې ډلو او سیمو ته په کتلو سره، ښوونځې او د زده کړې ځایونه د روغتیا، تغذیې، ماشوم ساتنې، ټولنیزې او رواني هوساینې مرکزونو سره نږدې تړاو او اړیکی لري.
- تاسې ورسره نور څه زیاتوی؟

## د آيي اين اي اي معيارونو دريم څپرکې:
## ښوونه او زده

لومړی معيار: نصاب

د ځانګړي محتوا کلتوري، ټولنيز، ژبنی اصولو او د زده کوونکو د رسمي او غير رسمي زده کړو د اړتياو سره سم اړونده او مناسبه نصاب کارول کيږي

### د پوهنيز نصاب جوړول/ اصلاح

- د خپريدو څخه مخکي د پوهني د چاروا‌کو په مشرۍ د شخړې د بيلابيلو شريک لوريو او بې برخي ډلو يوه هراړخيزه کميټه د نصاب او درسي کتابونه بيا کتنه ترسره کوي.
- نصاب، درسي کتابونه او بشپړوونکي توکي د يو اړخيزه قضاوت او طرفدارۍ څخه پاک، او د سيمه يزه شرايطو، عمر، پراختيايي سويو، ژبې، کلتور او د زده کوونکو د اړتيا سره سم او مناسب دی.

### محتويات

- نصاب، درسي کتابونه او بشپړوونکي توکي د بنسټيزې پوهني د ټولو وړتياو سره سره د منازعي د حساسيت وړتياوې: لکه ټولنيزې، بشري حقونه، تفکر، د شخړو مخنيوی او بدلو مهارتونه رانغاړي.
- نصاب، درسي کتابونه او بشپړوونکي توکي د جنسيتی (جنډر) حساسيت په بنسټ د تبعيض مخنيوي کوي او د ټولو زده کوونکو لپاره د درناوي قايل دي. دا د بيلابيلو ټولنيزو ډلو، دود دستور، ژبې، کلتور او تاريخ سره حساس دي.
- درسي نصاب د پخوانيو پوځي ماشومانو، جګړه مارو او د ټولني د اړتياوو او ضرورتونو سره سمي، ورته او مناسب زده کړې برابرې کړی، لکه د معيشيت جوړونه، د حرفوي مهارتونه زده کړې او پوهه، په رسمي ښوونځيو کې شامليدل او پوهني او زده کړې داسي نورې چارې. د دې لپاره چې د يو اړخيز قضاوت او د ورته ان انګيرتو مخنيوي وشي، د پوهني فعاليتونه او مرستي د ټولي ټولني لپاره په يو شان برابرې کړی.

### ژبه

- د ژبې پاليسي بايد د شنني د معلوماتو په بنسټ او د بيلابيلو ډلو ضرورتونه او اړتياوې راونغاړي. ښايي چې د لومړني ټولګيو لپاره په مونی ژبه ښوونه وشي، د کډوالو او بې ځايه شويو وګړو لپاره په کډو ژبو (ځايي او د کډوالو اصلي ژبه) او د هغو ځوانانو لپاره چې د بلې ژبې اقتصادي او ورځني بازار او محتوا ته ور داخليږي، ته په نوې ژبې ښوونه ترسره شي.

### موافقت او هوکړه

- د درسي نصاب پورې تړلو مسايلو لکه دولتي نصاب او ازموينو څخه ګټه اخيستل، د متبادله او نورو زده کړو منښت او د تصديق پاڼو باوري کول، بايد د پوهني دولتي او نادولتي کارکوونکو تر منځ همغږه شي.

### توکي او مواد

- د جغرافيايي پوښښ لاندې سيمي او د ټولينزو ډلو لپاره په کافي اندازه د زده کړې توکي د ښوونکو او زده کوونکو لپلره په مساوي توګه برابر شوي.
- تاسي ورسره نور څه زياتوی؟

## دويم معيار: روزنه، مسلکي وده او ملاتړ

ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي د اړتياوو او شرايطو سره سم اړونده، منظمې او په نوبتي توګه مسلکي روزنه ترلاسه کوي.

### د روزنې (ټريننګ) بهير

- پرته له کوم تبعيضه، نارينه، ښځينه او د پوهنې نور کارکوونکو ته د ضرورت او اړتياو سره سم روزنيز فرصتونه د لاس رسۍ وړ دي.
- د کېدوالو ښوونکو ځانګړې اړتياوې، لکه د ښوونکو د زده کړو او تصديق پاڼو منښت، د کار روزګار حق، مسلکي وده او ملاتړ په پام کې نيول شوي دي.
- تکړه روزنکي، چې د خپلو ګټو او د منازعې د محرکاتو ښه پوهه لري، روزنيز کوروسونه او ټريننګونه دې په داسې ډول ترسره کړي چې ټولو ښوونکو ته د لاس رسۍ وړ وي، او د منازعې د بدليدونکو محرکاتو، د شخړې له منځه وړلو، د تاوتريخوالي مخنيوی او د ونډې اخيستنې په اړه ورسره په دوامداره توګه مرسته وشي.
- د دوامداره ملاتړ او د روزنيز کورسونو/ ټريننګونو په پايله کې ښوونکي کولای شي چې د منازعې حساسيت ميتودونه او کړنلارې نمونه يې کړي، د بيلګې په توګه د تبعيض پرته، په ښه سلوک او په هراړخيزه او په جامع ډول ښوونه وړاندې کوي.
- د تبعيض پرته، د پوهنې د چارواکو لخوا د روزنې او ټريننګ محتويات په رسمي ډول پيژندل شوی او منل شوي دي.

### د روزنې (ټريننګ) محتويات

- د ټريننګ او د روزنې په محتوياتو کې بشري حقونه، مسؤليت پيژنده تابيعت، د پخلاينې، د منازعې د محرکاتو او بدلون، د تابيعت موضوع، د تاوتريخوالي له منځه وړلو انډولونه او تاريخي ياګيرنو وړتياوې شاملې دي، تر څو ښوونکي په ورته موضوعګانې وڅيړي او خبرې اترې پرې وکړي.

### ملاتړ

- روزنيز پروګرامونه د ښوونکو تر منځ جوړه يې او مسلکي جوړښتونه پياوړی کوي تر څو د کړو وړو مهارتونه لوړ، ښه تمرينونه او لوستونه شريک او رواني دباو راکم کړي.
- تاسې ورسره نور څه زياتوئ؟

## دريم معيار: د ښوونې او د زده کړې پروسې

د ښوونې او زده کړې پروسې شاګرد پاله (شاګرد محوري)، مشارکتي او هراړخيزه دي.

- د بې ځايه شويو، کېدوالو، او د نورو مليتونو يا تابيعت لرونکو ماشومانو او ځوانانو په کېدون د روزنې کړنلارې او ميتودونه د عمر، د پرمختګ او ودې کچې، ژبې، کلتوراو د زده کوونکو د وړتياوو او ضرورتونو سره سم دي.
- ښوونکې د منازعې د محرکاتو، د يواړخيزه قضاوت او تنګ نظرۍ په اړه پوهه څرګندوي، او ښوونې او زده کړې په اوږدو کې يې کاروي
- ښوونکې د تاوتريخوالي د منځه وړلو ماډل پلې کوي او د وهلو ټکولو (د زده کوونکو فزيکي زورنې) څخه ډډه کوي.
- والدين او د ټولنې مشران د زده کړې کارول شوی ميتودونه او محتويات مني او د هيڅ يوې ډلې لپاره يې کومه ننګونه نه بولي.
- ښوونکې د ښوونې او تدريس په اوږدو کې مشارکتي، هراړخيزه، د اغيزمن تفکر، د شخړو حل او د توپير لرونکو نظرونو ته د درناوي ميتودونه کاروي.
- تاسې ورسره نور څه زياتوئ؟

### څلورم معيار: د زده کړو د لاسته راوړنو ارزونه

د زده کړو د لاسته راوړنو د ارزونې لپاره مناسب ميتودونه او لارې چارې کارول شوي.

- د ارزونې او ارزيابۍ ميتودونه څرګند، باوري او د زده کوونکو لپاره ويرووونکي نه دي.
- د زده کوونکو لاسته راوړنې په سمه توګه منل شوي، د کورسونو په ترسره کولو سره لازم اسناد ورته پرته د کوم تبعيضه ورکول کيږي.
- د زده کړې ارزونې په دوامداره توګه د پوهنې ورته والى او مناسبتوب ازمايي، لکه د بازار (اقتصاد) د بدليدونکو شرايطو په وړاندې ورته او مناسبه حرفوي او تخنيکي پروګرامونه.
- تاسې ورسره نور څه زياتوی؟
- په مناسبه او منظمه توګه د مسؤليت پيژنده تابيعت، پخلاينې، د منازعې د محرکاتو او بدلون، د تابيعت مسالې، د تاوتريخوالي د نشتوالي په اړه – چې له مخکې نه په ټولګي ورته ښودل شوي دي – ارزول شوي دي. که چرته شوني وي، د ځان د ارزولو داسې ميتودونه ور ګډ کړئ چې زده کوونکي د خپلو انګيرنو، ارزښتونو، کړو وړو او د مهارت د ارزونې او ارزيابۍ لپاره وهڅوي. د ليوالتيا او تشويق لپاره د ځان د ارزولو ميتودونه ورګډ کړئ، چې زده کوونکي وهڅوي
- د داخلي بې ځايه شويو او کډوالو لپاره د پوهنې کارول شوی نصاب او ازموينې د د واړو، کوربه (ځايي) او ميلمه هيوادونو لخوا منل شوي دي.
- تاسې ورسره نور څه زياتوی؟

## د آيي اين اي اي لږ تر لږه معيارونو څلورم څپرکی: ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي

### لومړی معيار: ګومارنه او ټاکنه

په کافي اندازه يو شمير تکړه ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي د يوې رڼې او عادلانه پروسې له مخې، او د برابرۍ او د تنوع د اصولو سره سم ، ټاکل شوي او ګورمال شوي

- د کارکوونکو لپاره واضحه، مناسب او د تبعيض پاکې د دندو لايحې جوړې شوي دي.
- د يوې ټاکل شوي کميټې له مخې د شفافيت او وړتياوو، د ټولنې منښت، د جنډر او تنوع معيارونه په بنسټ ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي ټاکل او ګورمال شوي.
- د راتلونکي لپاره د ښوونکو ځای پر ځای کول او ليږد د يوې ډلې (د پلوی د مخنيوي لپاره
- د ځينې کارونو په ترسره کولو سره لکه په خدمت کې دننه روزنه، سيمه يزه ټاکنه، د بيرته راستنو شويو وګړو د تصديق پاڼو په رسميت پيژندل، او د ښوونکو د مربيانو د پروګرام له لارې کولای شو چې د راتلونکي لپاره د ښوونکو د ليږد او ځای پر ځای کولو کې د کومې ځانګړې ډلې نژادي، قومي، پرګنيو، ژبني او جنسيتی) د پلوی او طرفدارۍ مخنيوي وکړو.
- د پوهنې برخه وال د يو اوږد مهاله، عادلانه، د بشري سرچينو او امتيازاتو د سيستم د رامنځته کولو لپاره د پوهنې د ورازت سره همغږي او مرسته وکړئ.
- د ښوونکو د ګومارنې (جلب) او د ټاکنې د پروسو په جوړولو کې د ښوونکو اتحاديو او د مسلکي ټولنې راګډې دي.
- د ښوونکو د ليږد پاليسي واضحه، رڼې، د ښوونکو د اړتياوو، غوراوي او په مثبتو انګيزو ولاړې دي، نه په جريمه ډوله او جزايي توګه، لکه نورو سيمو ته د متاهل ښوونکي نه ليږد، ښوونکو ته تشويقيه او نور مکافات ورکول ترڅو د اړتيا وړ سيمو ته په تګ راضي شي
- تاسې ورسره نور څه زياتوی؟

دویم معیار:
کاري شرايط

ښوونکو او د پوهنې نور کارکوونکو ته د کار شرايط په ښکاره او واضح ډول بيان شوي او مناسب تنخا او معاش ورکړل کيږي

### شرايط او ضوابط

- د کار واضحه شرايط او اجوره په قراردادونو کې تشريح شوي دي.
- د ملي (ځايي) ښوونکو په څير، لږ تر لږه د کډوالو ښوونکو لپاره هم د کار کولو فرصت، ورته کاري شرايط او د خونديتوب فرصتونه برابر کړی.
- د کومې ډلې د ځانګړتياو پرته، ښوونکي او د پوهنې نورکارکوونکي دا حق لري چې د کاراو د ترون په شرايطو بحث اوخبرې وکړي.
- د ډلو تر منځ د کشاليو د مخنيوي لپاره د پوهنې د برخه والو تر منځ د اجوري سيستم او کاري شرايط همغږه شوي دي. که چرته شوني وي، اجوره او ادائينه بايد د ورته سکتور د کارکوونکو د اداينې سره پرتله شي (د داخلي بې ځايه شويو او ملي وګړو لپاره)
- د ستونزمنو بستونو لپاره د اداينې او اجوري بشپړوونکي پلانونه (استوګنځای، بخشش، کاري شرايط او سهميه) جوړ شي.

### ادائينه او تاديه

- تاديه او ادائينه مساوي، مناسبه، پر وخت او د ډلو تر منځ د توپير پرته ورکول کيږي.

### نور

- د دولت سره د مرستې په مهال د ښوونکو تنخا او اجوري ته لومړيتوب ورکړی، او دې ته چمتو واوسي چې د ټولنې ملاتړ د ځايي دولت په ملاتړ بدل کړی.
- تاسې ورسره نور څه زياتوی؟

دريم معيار: ملاتړ او څارنه (سپرويژن)

د ښوونکو او د پوهنې نور کارکوونکو د څارنې او مرستې لپاره جوړ شوي ميکانزمونه په اغيزناکه توګه کار کوي.

### ملاتړ

- ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي په مسلکي ودې کې راګډ دي تر څو ټولګي کې دننه د منازعې د حساسيت تمرينونو او کړنلارو د مهارتونو په هکله خپلې وړتياوې لوړې کړي.
- په ټولو سيمو کې ښوونکي او د پوهنې نور کارکوونکي د تبعيض پرته اړونده ټولنيزې هوساينې او رواني ملاتړ او مرستې ته لاس رسی لري.

### څارنه (سپرويژن)

- سيمې يا د ډلې د ځانګړنو پرته د ښوونکو او د پوهنې د نور کاکوونکو د پرله پسې ارزونې، نظارت او څارنې لپاره يو روڼ، مسؤليت منونکي او بې پلوه ميکانزم شتون لري.
- د ښوونکو او د پوهنې د نورو کارکوونکو د کړنو او اجراتو وخت پر وخت ارزونه ترسره کيږي.
- د ښوونځي کميټه او د ټولنې غړي په دوامداره توګه د ښوونکو او د پوهنې د نورو کارکوونکو د کړنو په اړه، په ځانګړې توګه په ټولګي کې د منازعې د حساسيت تمرينونو په اړه د نظر ورکولو موقع لري.
- د ښوونکو د دندو د لايحې او کړو وړو مقرراتو په اړه د ښوونکي، د ګومارونکي او د ټولنې ترمينځ هوکړه شوې ده، او د ښوونځي کميټه همدغه چوکاټ د ښوونکي د کړنو او اجراتو د ارزونې لپاره کاروي

## د آيي این اي اي لږ تر لږه معیارونو پنځم څپرکي
## د پوهنې پالیسي

**لومړی معیار:**
**قانون او پالیسي جوړول**

د پوهنې چارواکي د پوهنې کیفیت، پایښت او د بیا رغونې ترڅنګ د پوهنې هراړخیزه او ورپیا کولو ته لومړیتوب

### څرنګه

- د بشري حقونو او بشر پالنې اصولو په رڼا کې د پوهنې ملي پالیسی، قانون او مقررات د زده کوونکو، ښوونکو، د پوهنې نور کارکوونکو او د پوهنې د اسانتیاوو د خوندیتوب ډاډ ورکوي.
- د پوهنې ملي پالیسی، قانون او مقررات د زده کړې حق ځای پر ځای کولو تر څنګ درناوی او ساتنه یې کوي، او د تبعیض پرته د ټولو ډلو لپاره د خوندي او معیاري پوهنې پایښت او دوام باوري کوي.
- ملي پالیسی، قانون او مقررات د محتوا او شرایطو د شنني، د منازعې لاملونو او د حساسیت په اساس ولاړ، او په هر اړخیزه او مشارکتي ډول ترسره کیږي.
- د پوهنې ملي پالیسي د هغه کاري پلانونو، اصولو او بودیجې ملاتړ کوي چې د ټولو ډلو لپاره د تبعیض پرته د منازعې سره حساسه پوهنه وړاندې کوي.
- ملي پالیسی، قانون او مقررات نادولتي کارکوونکي اداري لکه ملګري ملتونه او نادولتي ادارو ته اجازه ورکوي چې په منازعه ځپلي او نازکو شرایطو او محتواو کې د پوهنې خدمتونه پیل کړي.
- د ملي پوهنې سکتوري پالیسی او ستراتیژۍ د بیلابیلو سیمو او ډلو د اړتیاو په پام نیولو سره په پراخه کچه د سکتوري همغږۍ (د سولې د راوستنې کارکوونکو په ګډه) ډاډ ورکوي.
- ملي پالیسی جورونکي او برخه وال هغه ستراتیژیو ته لومړیتوب ورکوي چې بې برخې او پاتې سیمې او وګړي د پوښښ لاندې راولي.
- د ټولنیزې پخلاینې/سولې راوستنې لپاره د پوهنې ملي پالیسي د یو لړ پراخه ملي پلانونو سره تړاو لري. په واضحه ډول ملي پلانونو کې د پوهنې موخې او نخښې ځای پر ځای شوي.

### څه (د سیسکارډ ۲۰۱۲: ۲۰ – ۲۱ څخه راخیستل شوی).

- د منازعې سره د حساسې پوهنې او د منازعې د شنني له لارې په ډاګه شویو لاملونو په ګوته کولو لپاره سیاسی هوډ، میل او وړتیا هڅول شوې ده.
- په هره کچه پوهنې ته مساوي لاس رسی پیاوړی شوی.
- نصاب، ښوونه او د پوهنې ژبه د منازعې سره حساسه ده.
- د منازعې او شخړې بیرني حالاتو لپاره چمتووالی پوهنې ته مخامخ ګواښونه او بریدونه په ډاګه کوي.
- د منازعې د شنني ملي پروسه کې نورې مهمې مسلې په ډاګه شوي.
- د پوهنې ملي سکتور منځ مهاله/اوږد مهاله ستراتیژۍ جوړوي (تر څو د خدمتونو د نیمګړتیاو له امله د کشالیو او خپګان مخنیوی وشي)، لکه بشري سرچینې، د اداینې سیستم، مالي مدیریت او د ښوونکو څارنه.
- تاسې ورسره نور څه زیاتوی؟

**دویم معیار: پلان جوړونه او پلي کول**

د پوهنې کارونه د پوهنې ملي او نړیوالې پالیسۍ، قوانین، معیارونه، پلانونه د ځېل شویو وګړو د پوهنې اړتیاوې په پام کې نیسي.

- د تبعیض پرته، د ټولو لپاره د زده کړې برابرولو کې ملي او نړیوالو قانوني چوکاټونو او پالیسیو ته انعکاس ورکړل شوی دی.
- د پوهنې د کارونو شننه، پلان او تطبیق کې د منازعې شننې ته انعکاس ورکړل شوی او نورو پلانونو لکه د سولې راوستلو، د فقر له منځه وړلو او د بې برخه او پاتې سیمو او ډلو د ښه پوښښ لاندې راوړلو پلانونو کې ځای پر ځای شوي دي.
- د پوهنې ملي او ځایي پلانونه د منازعې محرکاتو ته ځواب وايي، او لنډمهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله غبرګون لپاره چمتووالی نیسي.
- په کافي اندازه مالي، تخنیکي او بشري سرچینې شتون لري چې په اغیزمن ډول د ډلو او سیمې د ځانګړنو پرته د منازعې سره د حساسې پوهنې پروګرامونو پلي کړي.
- پلان جوړول او پلي کول د بودیجې د تخصیص، د نوم لیکنې او د ښوونکو د ګومارنې او لیږد د معلوماتو پورې تړلي.
- د نادولتي ادارو د څارنې او مدیریت لپاره د پوهنې د سکتور د همغږۍ وړتیاوې پیاوړې شوي دي، ترڅو په مساوي ډول ټولې سیمې د ښه پوښښ لاندې راولي.
- د څارنې، مرستې او ملاتړ میکانزمونه دا ډاډ ورکوي چې د پوهنې ملي قوانین، مقررات او پالیسۍ په ټولو سیمو کې په برابره توګه پلي شوي.
- تاسې ورسره نور څه زیاتوی؟

# دویمه ضمیمه

## د منازعې شننه ترسره کولو فعالیتونه او وسیلې

### د شخړې څیره (پیژندنه)

ملي یا هم سیمه یز سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري انځور لاندې پوښتنو ته ځواب وایي.

- د پوهنې سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري شرایط څرنګه دي؟
- د پوهنې پورې تړلي او رامنځته کیدونکي سیاسي، اقتصادي، سیمه یز او ټولنیزې مسلې کومې دي؟
- منازعه ځپلې جغرافیایي سیمې کومې دي

### سرسري شننه

دا د منازعې یا کشالې اوسني او احتمالي لاملونه او اړیکي په ډاګه کوي. په دې کې د منارعې د رامنځته کیدو اونږدیوالي اساسي لاملونه/جوړښتونه شامل دي.بنایي چې د لاندې پوښتنو د ځواب او د ورته تمرین د ترسره کولو لپاره ' د ستونزو ونه' (Problem Tree) وکاروی.

- د کشالې او کړکیچ اصلي سرچینې او لوی لاملونه ( اقتصادي او ټولنیزې بابرابری، کمزورې حکومتولي او د بشري حقونو څخه سرغړونه) او جوړښتونه کوم دي؟
- د منازعې ریښې او غټ (جوړښتي) لاملونه کوم یو دي؟ اصلي لاملونه هغه عاملونه دي چې د پالیسی له لارې د ټولنې جوړښتونو پورې خپرېږي.
- کومې مسلې د منازعې نږدې لاملونه ګڼل کیږي؟ نږدې لاملونه هغه عوامل دي چې یو ځانګړی چاپیریال کې د تاوتریخوالي د رامنځته کیدو یا هم د زیاتیدو لامل وګرځي، ځینې وخت د یوې درنې کشالې او مسلې سبب هم ګرځیدای شي.
- کومې لمسوني او پاروني د منازعې د رامنځته کیدو/یا هم د زیاتیدو لامل ګرځي؟ لمسوني او پاروني هغه کړنې،کلیدي پیښې یا وړاندوینې دي چې منازعه رامنځته کوي یا یې نوره هم زیاتوي.
- کوم عوامل(په ځانګړې توکه د پوهنې) دسولې په راوستلو او ټینګولو کې مرسته کوي؟

### د برخه والو شننه

دا هغه مهم ځایي، ملي او نړیوال ممثلان او کارکوونکي په ګوته کوي چې یا پر منازعه اغیزه لري او یا هم د منازعې څخه اغیزمن شوي، د دوی پوهه اوپیژندنه (خوښی، اړتیاوې، موقف او سرچینې) او اړیکي (د یو بل سره، او نورو سره) تحلیل او تجزیه کړی. دا د برخه والو سره د کار کولو فرصتونه هم په ډاګه کوي.

- څوک اصلي ممثلان (د پوهنې او نور) او کارکوونکي دي؟
- د دوی موقف، خوښی او موخې څه دي؟
- د هغوی ظرفیتونه او سرچینې کومې دي؟
- د ټولو ممثلانو او کارکوونکو ترمینځ اړیکي څه دي، او یو بل سره څنګه تړلی دی؟

- د سولې راوستلو او ټینګولو لپاره کومې بنیادي او تاسیساتي وړتیاوې (په ځانګړې توګه د پوهنې اړونده) په ډاګه شوي دي؟
- کوم ممثلان او کارکوونکي د ورانکارو په توګه پیژندل شوي؟ ورانکاري هغه ډلې ډلګۍ دي چې د شخړې په حلولو کې خنډونه اچوي.

## د منازعې د محرکاتو(ډاینامک) شننه

دا د ډول ډول برخه والو او د بیلابیلو لاملونو تر مینځ اړیکي څیړي، او د مناسبه پوهنې اړونده پروګرامونو د وړاندې کولو فرصت په ګوته کوي.

- لمسوني او راپاروني به د منازعې لاملونو، د پوهنې په پروګرامونو، پالیسیو او برخه والو لپاره کومې شوني پایلې لري؟
- د منازعې د لامل اصلي میکانزمونه کوم یو دی؟ د پوهنې سره څه تړاو لري؟
- د منازعې میلان او تمایل په کوم لوري دي، او د پوهنې د پالیسی سره څه تړاو لري؟
- د پوهنې د پروګرامونویا هم د پالیسیو پلي کولو لپاره کومې د پیل احتمالي نقطې دي؟
- د منازعې د پیژندنې (پروفایل)، لاملونو، ممثلانو او کارکوونکو د تحلیل او شننې څخه کوم پوهنیز نکلونه او سناریو تر لاسه کیدلای شي؟

*سرچینې ( د یونیسیف، ۲۰۱۲:۳۹ څخه راخیستل شوی)*

## د منازعې د شننې لارښودونه (د تفصیل لپاره لاندې د ماخذونو لیست وګورئ)

- د سولې میزان: په جنګي سیمو کې په پراختیایي پروژو کې، د سولې او منازعې د اغیزو ارزونه (PCIA)، بوش، ک، ۲۵-۳۱ مخ.
- د منازعې د حساسیت لارښود، د منازعې د حساسیت د کنسورشیم لخوا ۴-۶ مخ.
- د پراختیا، بشري مرستو او سولې راوستنې لپاره د منازعې د حساسیت کړنلارې: د ای ایف پي او ایت ال (AFPO et.al.) لخوا د سرچینو ټولګه، دویم فصل
- د منازعې شننه ترسره کول: د ستراتیژۍ او د پروګرام د پراختیایی چوکاټ، د یوایس ایډ (USAID) لخوا، ۳۸-۴۱ مخ.
- د منازعې شننه ترسره کول: لارښوونکي یاددښتونه، د ډیفیډ (DFID) لخوا
- د سولې او منازعې د اغیزو د ارزونو لپاره لاسي کتاب، د سي پي آر شبکې (CPR Network) لخوا
- د منازعې شننه او د لومړیتوبونو وسیلې، د ملګرو ملتونو د کارکوونکو پوهنځي لخوا

## موردي لوست:
## په سیرالیون کې د شنني پروسه

## راپور ورکوونکی:
کیرولین والچن، د پوهنې کارپوه، بیړني حالات او سوله راوستنه، یونیسیف

### شرایط او پخوانۍ تاریخچه

په کال ۲۰۱۲ کې سیرالیون کې جنګ په رسمي توګه پای ته ورسید. خو بیا هم د منازعې لاملونه، لکه : د سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او د پوهنې د چارو څخه د ځوانانو بې برخه کیدل او ویستنه، په روغتیایي او پوهنیز خدمتونو کې نابرابرۍ او توپیرونه، میراثي او فاسده حکومتولي، د طبیعي زیرمو استثمار، لرې پرتې سیمې د پامه غورځول او داسې نور. دا په پراخه کچه منل شوې چې د ۱۹۸۰-۱۹۹۰ په اوږدو کې د پوهنې نابرابره، ځانګړدوله او اشراف پلوه سیستم په سیرالیون د واک او ځواک ناانډوله ویش او د منازعې د رامنځته کیدو اصلي لاملونه وو. د شخړې د رامنځته کیدو نه مخکې د پوهنې ړنګ شوی سیستم د ښوونځیو د ترلو، د ښوونکو د غیرحاضرۍ، د ښوونکو د تنخا نشتوالي او د نیوکو او احتجاجونو لامل وګرځیدو. دا دې لامل هم وګرځیدو چې قهرجن، راپاریدلي او ناقانع ځوانان په اسانه د وسله والو ډلو سره یوځای شي.

همدغه شرایط وو چې په کال ۲۰۱۲ کې یونیسیف په منازعه ځپلې سیمو کې د سولې راوستنې، پوهنې او ملاتړ په نوم نوی پروګرام پیل کړ چې د نیدرلینډ د دولت لخوا تمویل شوی وو.

### پلې کول

په دې موخه چې د سیرالیون لپاره یو داسې پروګرام جوړ شي چې د منازعې او سولې په لاملونو او د پوهنې د پالیسیو سره د شرایطو د اړیکو او تړاو پوهه ولري، 'د سولې راوستنې، پوهنې او ملاتړ پروګرام' لومړی کار د محتوا یوه بشپړه او هراړخیزه شننه وه. دا شننه د آیي این اي اي لړ تر لړه مغیارونو: د شنني د لومړي معیار ـ چې پر وخت، هراړخیزه او شفافه ارزونه دې ترسره شي ـــ په بنسټ ولاړه وه، او لاندې شپږ (۶) کارونه په کې شامل وو.

١. د یونیسیف د مرکزي دفتر لخوا د دوه (۲) خپاره شویو لارښوونکو سندونو د 'سولې راوستنې، پوهنې او ملاتړ ـ تخنیکي یاددښتونه' او 'د هیواد لپاره د شنني او د چمتووالي لارښود' په بنسټ د سیرالیون چمتوکوونکو د شنني په اړه د موجوده شننو او اسنادو څخه **لومړنی نقشه ویستنه** پیل کړه، ترڅو دا جوته کړي چې دا شننه په اوسني پوهاوي او پروسو ولاړه ده، او د تکثیر او تکرار مخنیوی کوي.

٢. **د ګردي میز کتنه** کې د لاندې علمي او ادبي اسنادو ارزونه شامله وه: ملګري ملتونه، نړیوالې اداري، د دوه اړخیزه او څو اړخیزه بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) پالیسی، پلانونه، ستراتیژۍ او چوکاټونه، د دولت اړونده پالیسی او سکتوري پلانونه، په هیواد کې د بوخت نړیوالې بشري مرستندویه ادارو او د ښار د نړیوالو ادارو راپورونه، اکاډیمکي تبصرې، د ریښتینولی او پخلاینې د کمیسون په راپور کې، او د سیرالیون په هکله رانکل شوي واقعیتونه، د ماشومانو، ځوانانو او د ټولنې د غړو لخوا جوړشوي انځورونه.

۳. د ګردي میز د کتنې په پایله کې، د مرکزي دفتر د کارکوونکو په مرسته د یوبیسف ځایی دفتر **د شننې طرح جوړه کړه**. د جغرافیایي پوښښ له مخې، درې (۳) ورکشاپونه د ولسوالیو په کچه په فریې ټاون، کنو او پیجون کې دایرشو وي وو، د سیمې په کچه دوه (۲) ورکشاپونه د لوکو پورټ لپاره په شمال کې او د بو لپاره په ختیځ او سهیل کې دایر شوي وو. د دې ترځنګ د هیواد په ټولو ولسوالیو کې د ماشومانو، لویانو او د درې (۳) پوهنتونونو د متخصصانو سره سلامشورې، د ولت د لوړپوړو چارواکو سره غونډې ، د بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) او د ملګرو ملتونو د ځایي کارکوونکو سره هم خبرې اترې او سلامشورې ترسره شوي وې. د سلامشورې په پروسه کې یو لړ بیلابیل میتودونه او کړنلارې کارول شوي وې، لکه د ټولنیزو، سیاسی او اقتصادي لاملونو، د پوهنې رول او په ورته محتوا کې د پوهنې د سکتوري پلانونو شننه شامله ده. دې کړنلارو دا فرصت برابر کړو چې: په ورته محتوا کې پوهنې ته په هغه چوکاټونو او پروسو کې ځای ورکړي کوم چې کولای شي د سولې راوستنه جوته کړي او د پیل نقطې په ګوته کړي، او د پوهنې سکتور دننه د منازعې د حساسیت، د یوځای کیدنې/او سولې کړنلارې معلوماتي او پیاوړې کړي.

۴. **د اوضاع په شننه کې ګډون کوونکي ټاکل شوي وو** چې د نورو ډلو ډلګیو نمایندګي وکړي: لکه ملي او نړیوال کارکوونکي (ممثلان)، دولتي د پوهنې چارواکي او نور کارپوهان، د امنیت کارکوونکي، نادولتي ادارې، مدني ټولنې، د ټولنو او د ماشومانو نمایندګان، ماشومان او لویان شامل وو.

۵. د مرکزي دقتر په مرسته د یونیسیف د دفتر ځایي کارکوونکو په هراړخیزه ډول د **سلامشورې او ورکشاپونه** پلي کړل، د دوه نادولتي ادارو په مرسته (اکشن ایډ او ورلډ ویژن) په مرسته یی د ماشومانو او لویانو سره ډله ییزه مشورې تر سره کړې. د ورکشاپ په اوږدو کې په موجوده علمي او ادبي لیکونو او راپورونو کې د منازعې د اصلي لاملونو او ریښې راڅرګنده شوې، او بیا وروسته د سولې او یا هم د منازعې په اړه د پوهنې د رول او نقش وڅیړل شو. د ماشومانو او لویانو سره د ډله ییز بحث او ورکشاپونو په اوږدو کې د سیرالیون راتلونکي په هکله خبرې اترې وشوې. د سلامشورې په پروسو کې د بیلابیلو برخه والو د موافقه همدومره اړینه وه لکه څومره چې د سلامشورې پایلې مهمې وې. په همدې اړه، په محتاط ډول د ورته پروسو طرح کولو لپاره مخکې له مخکې چمتووالی او تیاری ډیر اړین دی.

۶. **د موندنو په ستراتیژیک ډول وړاندې کول او کارول:** موندنې د پوهنې او سولې لپاره په یو تحلیلي راپور کې ځای په ځای شوې وې، او یو لړ څواړخیزه اوریدونکي ته وړاندې شوې. د برخه والو سره په همغږۍ، هغه شننه بیا دسیرالیون لپاره 'د سولې راوستنې، پوهنې او ملاتړ پروګرام' د جوړولو لپاره، د بنسټ په توګه وکارول شو، په دې ډاډ چې د پروګرام کارونه به د منازعې اصلي لاملونو ته غبرګون ښایي.

## ننګونې او د حل لارې چارې:

د سیرالیون د پوهنې او سولې لپاره د اوضاع شننه په ترسره کولو کې یو لړ ننګونې راپورته شوې وې. یو څو یی لاندې ذکر شوي دي.

- د نوي پروګرام د پیل لپاره د لږ وخت او دباو له امله، د 'یونیسیف د ځایي دفتر د منازعې لپاره د چمتووالی لاربښونو' ځینې برخې له سره تیره او یا هم رالنډې شوې وې. که نه نو، د یو غښتلې شننې د ترسره کولو لپاره باید ټول پړاوونه په سستیماتیکه ډول تعقیب شي.

- په سيراليون کې جنګ لس کاله مخکې پای ته رسيدلی وو، خو په اوسني محتوا او شرايطو کې د 'منازعی' او 'سولی راوستنی' لغاتونه يو ډول بې ځايه او نامناسبه بريښي. د دا ډول ننګوني له منځه وړلو لپاره، او د ځيني نورو حساسيتونو په توپير چې د ټاکنو په کال ډيرې لوړې وې، ورته اصطلاحګاني او مفهوم يې د برخه والو سره د سلامشورې له مخې واضح او ځرګند شوی وو، خو ټول ټال شننه د سولې په ټينګښت او په روغه جوړه کې د پوهنې د رول شننه وه. د بسپنه ورکوونکو(ډونرانو) او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو نيمګړې برخه اخيستنه يوه بله ننګونه وه. د ورکشاپونو موخه دا وه چې په پراخه کچه يو لړ ممثلان اوهغه کارکوونکي چې په روغه جوړه او د پوهنې په وړاندې کولو کې بوخت دي، سره راغونډ او يو ځای کړي. که څه هم بسپنه ورکوونکي او د ملګرو ملتونو نورې ادارې ورکشاپونو ته رابلل شوي وو، خو بيا هم د دوي ونډه کمه وه. دا دې لامل شو چې د ورکشاپ موضوع د ګڼو سکتورو د نه شتون له امله رالنډه شوه. د دې ننګوني د حل لاره دا وټاکل شوه چې د تحليلي راپور لپاره ليکلي کتني او فيډ بک راغونډ، او د بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) او د هيواد د ملګرو ملتونو ډلی د معلوماتو لپاره برابر شي.

## زده کړه او پند (ښه تمرينونه او لوستونه):

- که څه هم ورکشاپونه د سلامشورې او بحثونو له اړخه غني وو، خو بيا هم په ستراتيژيکه کچه د مينځګړيتوب او د منازعې د اصلي لاملونو د تړاو په پرتله، يوازې د پوهنې فعاليتونه په ګوته کولو پورې محدود وو. په ستراتيژيک ډول فکري تشويق لپاره، بحثونه بايد د نورو سکتورونو (سياسي، ټولنيز او اقتصادي) سره د پوهنې تړاو او اړيکي په مفکوري ډول انځور او نقشه کړي. ترټولو اړينه دا چې دې ننګونې د شنني د پروسې لپاره د پلان جوړولو اهميت په ډاګه کړو، تر څو په پراخه کچه د ملګرو ملتونو او نورو برخه والو ګډون او ونډه اخيستنه جوته کړي.
- د ' لنډ او ترلی سکتوري کلتور' له منځه وړل يوه بله ننګونه وه، د روغې جوړې او پوهنې د سکتور د کارکوونکو تر منځ همغږي او لاس ورکړه څه نا څه کمزوري وه. که څه هم د وخت د کمی له امله دا ستونزه رامنځته شوې وه، خو بيا هم ښايي چې په سيراليون کې د روغې جوړې په پروسو کې د پوهنې د نقش په اړه د ژمنو او قدردانی نشتوالی ته انعکاس ورکوي. ښايي چې په راتلونکي د پيل څخه د اړونده برخه والو سره په ګډه کار کولو لپاره د پروسو داسې يو چوکاټ رامنځته کړي چې د سولې د راوستنې او د پوهنې د متخصصين لپاره يو شان وي. دا ډيره اړينه ده چې د شنني او د پوهنې ځانګړې پاملرنو ته د روغې جوړې چوکاټونو، ستراتيژيو او شننو سره تړاو ورکړي. په دې پروسه کې د ملګرو ملتونو کارکوونکو او د دولت لوړپوړو چارواکو ونډه اخيستنه ښايي چې ډيره اغيزناکه او ارزښت ولري
- د بيلابيلو برخه والو لپاره په ورکشاپونو کې د ځوانانو او ماشومانو مناسب ګډون او غږ ته ځای ورکول يو څه نا څه ستونزمن وو. لکه څرنګه چې د سيراليون کې تر سره شوه، د ورته ستونزې د حل لاره دا وه چې د هغه نادولتي ادارو سره، چې په ټاکلي سيمه کې د کار کولو تجربه لري، په ګډه کار وکړي

## موردي لوست:
## په سهيلي سوډان کې د منازعې سره د حساسې پوهنې وړاندې کولو لپاره د آیي این اي اي د لږ تر لږه معیارونو کارول

### راپور ورکوونکې:
مارتا ریسی، د انټرساس د پوهنې افسره

د اګست ۲۰۱۱ نه راپه دیخوا، د سودان بلونیلی ایالت د سوډاني انقلاب پاله جبهې او د سوډان د وسله څواکونو تر منځ نښته کې د بلو نیلي ایالت ډیر زیان لیدلی وو. د روان تاوتریخوالي له کبله ګڼ شمیر کډوال د بلو نیلي نه د مبان مرکز د پاسني نیلي ایالت ته په تیښته مجبور شول، کوم چې په نوي رامنځته شوي سهیلي سوډان کې بشري بحراني حالت نور هم زیات کړ. د کډوالو ٪۴۷ سلنه برخه زده کوونکي دي، او ډیری زده کوونکو په خپل ټاټوبي کې د ناامنۍ له امله د ښوونځي یو کال او ازموینه له لاسه ورکړی. همدې سره مل بله پیچلې مسله د زده کړې او ښووني ژبه ده، څکه چې یو شمیر ګڼ زده کوونکي د عربي سوډاني-نصاب څخه د سهیلي سوډان د انګریزی-نصاب ته راووښتي وو.

د انټرساس د پوهنې او د ماشوم ساتنې ټیمونه په ګډه کارکوي ترڅو د زده کوونکو رواني او فزیکي هوساینې لپاره داسې اغیزناکې ټولنیزې کړنلارې جوړې کړي، چې وټلي زده کوونکي بیرته ښوونځي کې شامل کړي. د انټرساس د غبرګون د پروګرام په اوږدو کې د جمام او د ګیندراسه کیمپونو کې د ماشومانو لپاره د زده کړې خوندي او هوسا ځایونه، د ښوونځي څخه مخکې زده کړې، د لومړنۍ زده کړې، د لویانو زده کړې (د ښځینه او نارینه و لپاره غیررسمي زده کړې) او د ماشوم ساتنې په اړه یې ورپیژندني میکانزم رامنځته کړ.

**پلې کول**

د انټرساس د غبرګون په پروګرام کې ډیر کارونه شامل وو، د منازعې سره د حساسې پوهنې او د آیي این اي اي معیارونو ته ورته ځینې کارونه لاندې ذکر شوي دي.

- د آیي این اي اي د معیارونو په رڼا کې چې، د زده کوونکو او ښوونکو لپاره د زده کړې چاپیریال او ځایونه باید خوندي او هوسا اوسي، او دا چې په پوهنه د منازعې منفي اغیزې راکمې کړي، انټرساس د زده کوونکو د رواني هوساینې ملاتړ، د معیوبو او معلولو ماشومان د ګډون او د جنسیتي زوررونو او تاوتریخوالي له منځه وړلو په موخه یو شمیر ښوونکي او رضاکاران وروزل. د تاوتریخوالي له امله د ځپل شویو خلکو د ټولنیزې او رواني هوساینې اړتیاوې ترسره کول اصل کې د منازعې سره د حساسې پوهنې بیلګه ده.
- د آیي این اي اي د لږ تر لږه معیارونو له مخې، باید ټول وګړي باکیفیته پوهنې ته په مساوي ډول لاسرسی ولري، او دا چې د میلمه او کوربه ټولنو تر منځ باید پیاوړی ټولنیزې اړیکې وي. په همدې مرخه د انټرساس دفتر ځایي او کډوال ماشومان په مساوي توګه د پوښښ لاندې راوستل. پوهنې ته د دواړو، د ځایي او کډوالو ماشومانو مساوي لاسرسی د منازعې سره د حساسې پوهنې کلیدي فعالیت ګڼل کیږي.

- د آيي اين اي اي لږ تر لږه معيارونو له مخې، بايد د پوهنې اسانتياوې د نورو خدمتونو سره ونښلول شي، او د منازعې له لاسه د زيانمن شويو ماشومانو راز راز نيمګړتياوې پوره شي. د انټرساس د ماشوم ساتنې ټيم د هغو نادولتي ادارو سره چې روغتيايي، تغذيوي (بې پولې ډاکټران، او آيي ايم سي IMC) او د ټولنيزې رواني هوساينې مرستې (د کډوالو لپاره د امريکا ټولنه) يې وړاندې کولې، په ګډه د ورپيژندلو خپل منځه ميکانزم جوړ کړ. سربيره پر دې، د انټرساس د ماشوم ساتنې ټيم په کيمپونو کې بې وزله او د ښوونځيو څخه وتلي او پاتي ماشومان د انټرساس پوهنې پروګرام ته ورپيژندل. د پوهنې له لارې نورو ټولنيزو خدمتونو ته مساوي لاس رسي پيدا کول، په يو ډول د منازعې سره د حساسې پوهنې وړاندې کول دي.
- د ټولنې د ونډې اخيستنې په هکله د آيي اين اي اي د لږ تر لږه معيارونو له مخې د ټولنې وګړو او د پوهنې چارواکو په پراخه کچه د پوهنې د پروګرام په ورځنۍ څارنه کې برخه اخيسته وه. لکه د دې خبرې ډاډ ترلاسه کول چې لنډمهاله د زده کړې ځايونه خوندي او مصؤن دي. د ځايي خلکو او د پوهنې چارواکو سره همغږي د منازعې سره د حساسې پوهنه په هکله وړتياوې او برخه اخيستنه پياوړې کوي
- د ښوونکو د روزنې او ملاتړ په هکله د آيي اين اي اي د لږ تر لږه معيارونو له مخې، انټرساس ښوونکو او رضاکارانو ته د دندې اړوند د روزنې فرصتونه برابر کړل. د منازعې سره حساسې پوهنې د لارښوونو له مخې د ماشومانو حقونو، د پخلاينې، د ښوونکو د دندو لايحو، د رواني ملاتړ او د جنډر اړونده موضوع ته په کې ځانګړې پاملرنه شوې وه.

## ننګونې او د حل لارې:

- يو شمير ګڼ ماشومان (په ځانګړې توګه نجونې) د کورني کارونو له لاسه له دې مخکې ښوونځي ته نه وو تللي. انټرساس دا ننګونه د آيي اين اي اي د سرچينو په کارولو سره په ګوته کړه، او د پوهنې د حق په اړه او بيا يې د پوهنې د حق په اړه يې د خبراوي او پوهاوی زيات کړو.
- د کيمپ دننه د انګريزۍ ژبې د ښوونکو کمښت او د کيمپ بهر د مسلکي ښوونکو نه شتون يوه لوبه ننګونه وه. انټرساس د ښوونکو لپاره د دندو اړونده او د جوړښتي روزنو او ټريننګ په برابرولو سره دا ستونزه حل کړه.
- ښوونکو او رضاکارانو لپاره د تنخا او اجورې ټاکل يوه بله مهمه ستونزه وه. د کډوالو او د ځايي خلکو ترمنځ د خپګان مخنيوي لپاره، انټرساس د پوهنې د وزارت او د پوهنې په برخه کې د نورو ادارو د تنخا د معيار سره سم، ښوونکو او رضاکارانو لپاره تنخا وټاکله. ښوونکو او رضاکارانو په کيمپ کې نورو بوختو ادارو او د بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) سره د همغږۍ په مياشتنۍ غونډې کې هم برخه اخيسته وه. د دې ترڅنګ د کډوالو ښوونکو لپاره په روزنيز ورکشاپونو کې ځايي او دولتي رضاکارو ښوونکو ته په کې هم ځای ورکړی شوی وو ترڅو يو بل سره ښه لوستونو او تمرينونه شريک کړي.

## پایلې او لاسته راوړنې:

- اوس مهال له ۶۰۰۰ څخه زیات ماشومان د انټرساس لخوا برابرې شوې د پوهنې مرستو ته لکه د ښوونځي څخه مخکې زده کړې، لومړنی زده کړې او د روزنې هوسا ځایونه ته لاس رسي لري.
- ټولو زده کوونکو ته د ښوونې، روزنې او نور اړونده توکي په وخت ورکړل شوي وو.
- په کیمپ کې د نیمایي څخه زیات ښوونکو او رضاکاران روزل شوي وو.
- د پوهنې په پروژه کې د ټولو بوختو وګړو خوندیتوب او مصؤنیت ته ځانګړې پاملرنه شوې وه.



*د نژادي تاوتریخوالي له امله بې ځایه شوي ماشومان د انګلیسي ژبې په ی ټولګي کې زده کړه کوي دي. یاد هوسا او خوندي ټولګی د یونیسف په ملاتړ په سهیلي سوډان کې د جونګلیی په ایالت کې د پایبورپه کلي کې په یو خیمه کې پرمخ بیول کیږي © یونیسف/NYHQ ۲۰۱۲ - ۰۱۵۱/برین سکول*

## موردي لوست

## په کولمبیا کې د شخړو د لاسه ځپل شویو ځوانانو لپاره د سولې شاګرد پاله پوهنه

### راپور ورکوونکی:

اوسکار روډریګویز، د پوهنې د پروګرام مدیر، د ناروی د کډوالو کمیټه (این آر سي)

### شخړه او د شخړې تاریخچه

د کولمبیا هیواد د ۴۵ میلیونو وګړو د اټکلي شمیرله مخې، د ځلورو لسیزو را په دیخوا د پوځ، ګوریلا او د مخالفه ډلو تر منځ په ځمکنی پولو او د مخدره موادو د قاچاق په سر د وسلوالو نښتو او تاوتریخوالي له امله ډېر اغیزمن شوې دی. دې نښتو ملکي وګړي د مرګ ژوبلې، کوچیدلو، په اجباري ډول د جنګ لپاره د ماشومانو جلبولو او د جنسیتي زورونو د ګواښونو سره مخامخ کړل. د دولتي راپور له مخې ځلور میلیونه ځپل شوي وګړي د کولمبیا د ټولو وګړو ٪۱۰ سلنه برخه جوړوي.

کولمبیایی ځوانان او ماشومان د بې ځایه کیدو سره سره پوهنې ته د نه لاس رسۍ د ستونزی سره مخامخ وو. د بې ځایه شویو وګړو ٪۶۴ سلنه د ځلورویشتو (۲۴) کالو څخه د ټیټ عمر لرونکي وو، او د منځنۍ زده کړې د وروستی سویو د داخلي عمومي کچه ٪۱۱ سلنه ده. منځنۍ زده کړو ته د لاسرسۍ په وړاندې بې ځایه شوی خلک او ځوانان د ډیرو ستونزو سره مخامخ وو، چې یو لړ ستونزی د بې ځایه شویو ځوانانو د پوهنې لپاره د ځانګړي سیستم نه شتون له امله رامنځته شوي وې. د بیلګې په توګه، ډیری وخت بې ځایه شوي ځوانان د کورنۍ د چلولو لپاره څه نا څه کاربار ته اړه لري، د یو ښه کار کسب موندنې په موخه هغوي ته باید د حرفوي زده کړو کورسونه برابر شي. د دوديز ښوونځیو په نصاب او مهال ویش کې دا ډول روزنې ځای نه لري، او نه زده کوونکي دې ته پریږدي چې په ورته وخت کې هم ښوونځي ته راشي، او هم کارکسب وکړي. په کولمبیا کې د منازعې د منځه وړلو لپاره دوديز او کلتوري تاوتریخوالي هم بې ځایه شوي ځوانان اغیزمن کړي وو، او ډیری ځوانانو دا وړتیا نه درلوده چې د منازعې او شخړی پر ځای د روغې جوړی او سولې ټینګولو لپاره کار وکړي.

په کال ۲۰۰۶ کې، د ناروې کډوالو اداري د ځایي مؤسسې ابزرویټریو پارا لاپاز سره په ګډه د ښوونې او زده کړې لپاره یوه ځانګړې کړنلار غوره چې د منازعې له لاسه ځپل شوي ځوانان بیرته د پوهنې سیستم کې راګډ او د شخړو په سوله یزه ډول د حل لارې چارې په ګوته کړې. نن ورځ دا کړنلاره د پوهنې د وزارت، این آر سي، ابزرویټریو پارا لاپاز او د عامه پوهنتونونو په ملاتړ 'د سولې د عالي ښوونځي پروګرام' (چې په هسپانوي ژبه کې بیچلیریتو پاسیکولتر) په توګه کارول کیږي. اوس مهال 'د سولې د عالي ښوونځي پروګرام' له مخې د جنګ ځپلو ځوانانو لپاره چې عمرونه یې د ۱۵ او ۲۵ کلونو ترمنځ دی، د نصاب او د زده کړې خدمتونه وړاندې کیږي.

### پلي کول

د ښوونې او زده کړې په هکله د آیي این اي اي د لږ تر لږه معیارونو له مخې، این آر سی د خپل ګډلوري ابزرویټریو پارا لاپاز سره په ګډه د منازعه ځپلو ځوانانو د ځانګړو اړتیاو ترسره کولو په موخه نصاب او د زده کړې مواد برابر کړي. این آر سي د خپل ګډلوري سره د منازعې د حساسې پوهنې په اړه لاندې کارونه ترسره کړي:

- د سولې لپاره د عالي ښوونځي د پروګرام نصاب په جوړولو، منلو او د برخه والو د ملاتړ په موخه ټولنو او د زده کوونکو د کورنيو سره خبرې اترې ترسره شوې وې. همدا ډول، هغه ځوانان چې په جرمونو کې ښکيل وو، په ټولنه کې د هغوی د بېرته ګډون او پخلاينې پروسې پياوړې کړی. د ټولنې د خبراوي فعاليتونو له مخې د زده کوونکو والدينو ته هم د تدريس په کارونو کې برخه ورکړل شوې وه تر څو د زده کوونکو اړتياوو ترسره کولو لپاره مدني ټولنو ته لاس رسی پيدا کړي.
- هغه ځوانان چې ټولنيزې او کورنۍ اړيکې يې کمزورې وې، د هغوی سره رواني او د ټولنيزې هوساينې مرستې ترسره شوې وې.
- په نصاب کې د شخړو د حلولو محتويات هم ور اضافه شوي وو. د مثال په ډول، زده کوونکو هغه ستونزې په ګوته کړې چې د دوی ټولنې يې اغېزمنه کولې. په مشارکتي ډول زده کوونکو د ټاکلې ستونزې بېلابېل اړخونه وڅېړل. ښوونکو هغه ډلو ته په بحثونو کې ډېره ونډه ورکوله چې پامه غورزيدلې يا هم بې برخه پاتې شوې وې، لکه ښځينه، بومي وګړي او ايفرو-کولمبيايي وګړي. د درس په پای ګډونکوونکو د ټولنې لپاره داسې لارې چارې وړاندې کړې چې په ګوته شوې ستونزې له منځه يوسي.

## ننګونې او د حل لارې چارې:

- د سولې لپاره د عالي ښوونځي د پروګرام له مخې د ښوونکو روزنه يوه غټه ستونزه وه. ښوونکي د دوديزنصاب د ښوونې سره ارام او هوسا وو، او د زده کوونکو د اړتياو پوره کولو لپاره په خپلې پيډاګوژۍ او دوديز نصاب کې يې د بدلون نه راوړلو په هکله ټينګار کولو. ځينې وګړو د لوړ عمر لرونکو او هغه ځوانان چې په جرمونو کې ښکيل وو، په ښوونځي د نه داخليدو په اړه يې هم ټينګار کولو. د دې ستونزې له منځه وړلو لپاره اين ارسي او ابزرويتريو پارا لاپاز د ځايي او عامه پوهنتونو سره لاس يو کړ او يو شمير ګڼ نوي فارغ شوي محصلين چې غوښتل يې د بې ځايه شويو خلکو او بې وزله ځوانانو لپاره خدمت وکړي، وروزل.
- د سولې لپاره د عالي ښوونځي پروګرام په هکله د پوهنې د وزارت د مرستې او ملاتړ پرته، بې ځايه شوي ځوانان د پوهنې يوې بلې ستونزې سره مخامخ وو. دولتي ازمويني: د بې ځايه شويو ځوانانو او ماشومانو لپاره د دولتي ازمويني محتويات د دوی د ټولنيز او کلتوري اړخونو سره سم نه وو، چې ډيری بې ځايه شوي خلک يې د لږکيو ډلو غړيتوب کولو (په کولمبيا کې ۲۹٪ سلنه وګړي يا اصلي او بومي دي او يا هم ايفرو-کولمبيايي دي). په نتيجه کې هغه ځوانانو چې دسولې تعليمي پروګرام پای ته رسولی وه،دولتی ازموينه يې لوړو زده کړو د پوه کولو لپاره يو مهمه ستونزه منله، اودوی اکثرا کله به \چې د دولتي ازموينو څخه بيرته راستانه شول نو ډير زيات به اغيزمن وه. په پايله کې، هغه ځوانانو چې د سولې لپاره د عالي ښوونځي زده کړې سرته رسولې وې، هغوی دولتي ازموينې د لوړو زده کړو په مخ کې يو خند ګڼلو، او د ازموينې د پايلو په رارسيدو سره ځوانان نور هم زړه تورن شول.
- د توماکو په ښار کې (سهيل لوديزه کولمبيا) پوهنه د وسله والو نښتو له امله ډيره اغيزمنه شوې وه. د عامه ښوونځيو ښوونکي د تېښتونې او نورو ګواښونو سره مخامخ وو، په ښوونځيو د بمبارۍ له لاسه زده کوونکي قرباني شول. د اوضاع د شننې او د پوهنې سره د تړاو د ارزونې په موخه د منازعې شننه ترسره شوه. په دې اړه ډير کارونه تر سره شول، لکه:
  - د دوامداره ښوونيز کارونو لپاره د زده کړې ځايونه (د زده کوونکو کورونه يا هم د ټولنې کوم خونديي او مناسب ځای) وار په وار سره بدل شوي وو. د زده کړې ځايونه د منازعې د شننې او معلوماتو په اساس داسې ټاکل شوي وو چې ټولو ته د لاسرسۍ وړ وو.
  - اين ار سی ښوونکو او زده کوونکو ته د پيژندلو توکي (بنيانونه او پيژند کارتونه) ورکوي.
  - د ښوونکو سره د خبرواترو له لارې د اوضاغ او شرايطو په کره څارنه کيږي او د خونديتوب په اړه ښکاره او لازم ګامونه اخيستل کيږي.

## لاسته راوړنې:

- د لیسي د سولې پروګرام له مخې د ۱۰۰۰ فارغانو څخه ٪۶۰ سلنه بې ځایه شوي ځوانان وو(۲۰۱۲-۲۰۰۸). دا ټول ځوانان په داسې لرې پرتو سیمو کې ژوند کوي چیرې چې وسلوالې نښتې او نور جرمونه په دوامداره توګه رامنځته کیږي.
- د پوهنې وزارت اوس په رسمي ډول د لیسي د سولې پروګرام قبول کړی دي. دا کار دا په ډاګه کوي چې د پوهنې وزارت د لیسي د سولې د پروګرام نصاب، د زده کړې او د ښوونکو د روزنې مواد د رسمي پوهنې برخه ګڼي، او اوس مهال یاد پروګرام د کولمبیا په بیلابیلو سمیو کې پلي کیږي.



*په سنتا ماریا کې د لیسي د سولې پروګرام د فارغانو سره د این ار سي د غونډې انځور. اندریه نیلیتو/۲۰۱۲/ د ناروې د کډوالو اداره*

## **څلورمه ضمیمه:** د موضوع له مخې ماخذونه

### د منازعې شننه


AFPO، CECORE، CHA، Fewer، International Alert و Safeworld (۲۰۰۴). د بشرپاله مرستو، سولې راوستنې او پرمختګ لپاره د منازعې د شننې کړنلارې : د وسیلو کڅوړه http://www.saferworld.org.uk/resources/view- resource/148 on 20 October 2012.

د سولې اندازه او معیار: په منازعه ځپلې جغرافیوي سیمه کې د پراختیایي پروژو په سولې او شخړې د تاثیر ارزونې منازعې د بوش ک لخوا (PCIA) لومړی سند. http://www. confictsensitivity.org/sites/default/fles/Measure_of_Peace.pdf on 20 October 2012

د منازعې د حساسیت کنسورشیم،(۲۰۱۲)،د منازعې حساسیت څرنګه اداره کړو ،(۴، ۴۲، ۴۴)

www.conflictsensitivity.org/content/how-guideon15October2012.

د سی پی ار شبکه (۲۰۰۵)سولې او شخړې د تاثیر ارزونې (پی سی آی ای)لارښود کتاب ۲,۲ګڼه

http://toolkit.ineesite.org/toolkit/INEEcms/uploads/1053/Peace_and_ Conflict_Impact_Assessment.pdf on 15 November 2012

DFID. (۲۰۰۴) د منازعې شننه ترسره کول: د لارښود کتاب څخه راخیستل شوی.
http://www.swisspeace.ch/fleadmin/user_upload/Media/Topics/ Peacebuilding_Analysis___Impact/Resources/Goodhand_Jonathan_Conducting_Confict_ Assessments.pdf on 14 November 2012

د ملګرو ملتونو د کارکوونکو پوهنځی. (۲۰۱۱) د منازعې د شننې او د لومړیتوبونو وسیله http://www.unssc.org/home/themes/peace- and-security/e-learning-0 on 18 November 2012

USAID (۲۰۰۵)د منازعې شننه ترسره کول ــ د پروګرام پراختیایي چوکاټ. د http://www.gsdrc.org/go/display/document/ legacyid/1425 on 20 October 2012. څخه راخیستل شوی.


### په عمومي ډول د منازعې حساسیت


انډریسن، م. (۱۹۹۹) زیان نه رسول: بشري مرستې څرنګه روغه جوړه یا هم منازعه رامنځته کوي. کولوراډو: د لینی رینر خپروني

AFPO، CECORE، CHA، Fewer، International Alert و Safeworld (۲۰۰۴). د بشرپاله مرستو، سولې راوستنې او پرمختګ لپاره د منازعې د شننې کړنلارې : د وسیلو کڅوړه http://www.saferworld.org.uk/resources/view- resource/148 on 20 October 2012.

د منازعې د حساسیت کنسورشیم،(۲۰۱۲)،د منازعې حساسیت څرنګه اداره کړو ،(۴، ۴۲، ۴۴)-www.conflictsensitivity.org/content/how guideon15October2012 څخه راخیستل شوی

ګیګلز، سی. او لیونهارډټ، م. (۲۰۰۰) د بشرپاله مرستو، سولې راوستنې او پرمختګ لپاره د منازعې د شننې کړنلارې: International Alert، Safeworld، IDRC. بر ګرفته از -http://www.confictsensitivity. org/sites/default/fles/Confict Sensitive_Approaches_to_Development.pdf on 14

حيدر، ايچ. (۲۰۰۹) د روغي جوړې لپاره په نازکه او منازعه ځپلي شرايطو کې ټولن بنسټه کړنلارې: Issues Paper. Birmingham: International Development Department, University of Birmingham. Retrieved from http://www.gsdrc.org/go/.display&type=Document&id=3679 on 14 November 2012

OECD. (۲۰۱۰). په نازکه سيمو/هيوادونو کې د کار کولو نوی هوکړه، نړيوالې خبرې اترې ، ۲۰۱۰. برگرفته از http://www.oecd.org/document/22/0,3746, en_21571361_43407692_49151766_1_1_1_1,00.html on 17 November .2012

يونيسف، (۲۰۱۲). د يونيسف دننه د منازعې حساسيت او سوله راوستنه: تخنيکی يادداښت. په نومبر ۲۰۱۲ کې د يونيسف څخه ترلاسه شوی، چې په انټرنيټ نه تر لاسه کيږي.

ووډرو، پی. و شيگاس، ډی، (۲۰۰۹).د منازعې حساسيت او سوله راوستنه. د http://www.frient.de/ publikationen-service/dokumente/library/a-distinction-with-a-difference-confict-sensitivity- and-peacebuilding.html on 21 October 2012 څخه راخيستل شوی.

## د منازعې سره حساسه پوهنه

سيسگارد، ام. (۲۰۱۲). د منازعې سره د حساسې پوهنې پاليسي: څغلنده کتنه. دوها: پوهنه تر ټولو مخکې. د http://protectingeducation.org/sites/default/fles/ documents/eaa_confict_sensitive_education_policy.pdf on 4 October 2012 څخه راخيستل شوی.

يونيسکو – IIEP، (۲۰۱۱). د پوهنې د پلان جوړونکو لپاره لارښود يادداښتونه: د پلان په سکتور کې د منازعې او د طبعي افاتو راکمول. پاريس: د پوهنې لپاره د پلان جوړونې نړيوال انستيټيوټ. پاريس: د http://www.iiep.unesco.org/fleadmin/user_upload/News_And_Events/ pdf/2011/IIEP_Guidancesnotes_EiE_en.pdf 12 November 2012 څخه راخيستل شوی.

## په منازعه ځپلو او نازکه شرايطو کې څارنه او ارزونه

DFID. (۲۰۱۰). په نازکه او منازعه ځپلي حالاتو کې په اغيزمنه توگه کارکول: لومړی تشريحی سند:څارنه او ارزونه. لندن: د نړيوال پرمختگ څانگه. د http://www.dfd.gov.uk/Documents/publications1/governance/building- peaceful-states-I.pdf on 12 December 2012 څخه راخيستل شوی.

OECD. (۲۰۰۸). د روغې جوړې او منازعې فکټ شيټ ارزونه ۲۰۰۸. د http://www.oecd.org/dac/evaluationofdevelopmentprogrammes/ dcdndep/39289596.pdf on 20 October 2012 څخه راخيستل شوی.

د سويډن پراختيايي اداره (SDC). (۲۰۰٦). د منازعې سره د حساس پروگرام په اړه لنډ لارښود.د http://www.sdc.admin.ch/ index.php?navID=92682&langID=1 on 14 November 2012 څخه راخيستل شوی.

.

## د منازعې او د پوهنې خپل منځه اړيکی

بوش، ک. و سالتاريلی، دی. (.Eds) په قومي شخړو کې د پوهنې دوه څيرې: د سولې په لور د ماشومان لپاره پوهنه. فلورانس، ايتاليا: د اينوسنتی يونيسف څيړنيز مرکز. د http://www.unicef-irc.org/publications/pdf/insight4.pdf on 20 October 2012 څخه راخيستل شوی.

ډراېډن – پيټرسن، ايس. (۲۰۰۹). په منازعه ځپلو هيوادونو کي لومړنی زده کړو ته د لاس رسی په وړاندي خنډونه: علمی کتنه. لندن: د ماشوم ساتني نړاله اتحاديه International Save the Children Alliance. بر د
http://resourcecentre.savethechildren.se/content/library/documents/ barriers-accessing-primary-education-conflict-affected-fragile-states-fna on 12 December 2012 څخه راخيستل شوی.

ډراېډن – پيټرسن، ايس. (۲۰۱۱). شپږم فصل: کډوال ماشومن د راتلونکي په تمه: د معيشيت سره د پوهني نښلونه مندی، ک. او پيټرسن، ايس. (Eds.)، په منازعه ځپلو سيمو کي ماشومانو ته پوهنه وړاندي کول: ځيرنه، پاليسی، او په سيستم کي بدلون راوړلو لپاره. د جيکی کرک څخه په منني (پی پی. ۸۵ – ۹۹). نيويارک، نيويارک: د ښوونکو د پوهنځي مطبوعات، د کولمبيا پوهنتون.

يوروټرينډز. (۲۰۰۹). په منازعه ځپلي حالاتو کي د پوهني د ننګونو مديريت: موردي راپور. د
http://capacity4dev.ec.europa.eu/governance/ document/study-governance-challenges-education-fragile-situations-0 on 4 October 2012 څخه راخيستل شوی.

INEE (۲۰۰۹). د بي ځايه کيدو، بيا رغونه او په نازکو شرايطو کي د ښوونکو د اجورې په هکله د INEE لارښود يادداښتونه - د
http://toolkit.ineesite.org/ toolkit/INEEcms/uploads/1023/INEE_Guidance_Notes_Teacher_Compensation.pdf on 22 October 2012 څخه راخيستل شوی.

مندی، ک. او پيټرسن، ايس. (Eds.)، په منازعه ځپلو سيمو کي ماشومانو ته پوهنه وړاندي کول: ځيرنه، پاليسی، او په سيستم کي بدلون راوړلو لپاره. د جيکی کرک څخه په منني (پی پی. ۸۵ – ۹۹). نيويارک، نيويارک: د ښوونکو د پوهنځي مطبوعات، د کولمبيا پوهنتون

نوويلی، ايم. (۲۰۱۱). څلورم فصل: آيا اوس مونږ ټول پوځي عسکر يو؟ منازعه او پوهنه خونديي کول. مندی، ک. او پيټرسن، ايس. (Eds.)، په منازعه ځپلو سيمو کي ماشومانو ته پوهنه وړاندي کول: ځيرنه، پاليسی، او په سيستم کي بدلون راوړلو لپاره. د جيکی کرک څخه په منني (پی پی. ۴۹ – ۶۵). نيويارک، نيويارک: د ښوونکو د پوهنځي مطبوعات، د کولمبيا پوهنتون.

Save the Children (۲۰۱۰). راتلونکی نن دی: په منازعه ځپلو هيوادونو کي پوهنه. لندن:International Save the Children Alliance. د
http://www. savethechildren.org.uk/resources/online-library/the-future-is-now-education-for-children-in- countries-affected-by-confict on 12 December 2012 څخه راخيستل شوی

يونيسکو. (۲۰۱۱). پوهنه د ټولو لپاره ـ نړيوال راپور ۲۰۱۱:پټ ناورينونه: وسله والي شخړي او پوهنه. پاريس: يونيسکو. د
http://www.unesco.org/ new/en/education/themes/leading-the-international-agenda/efareport/reports/2011-confict/ on 20 October 2012 څخه راخيستل شوی.

نړيول بانک ، (۲۰۱۱). د نړيوال بانک پراختيايی راپور ۲۰۱۱: منازعه، امنيت او پرمختګ. واشنګټن ډی سی: بانک د http://go.worldbank.org/ QLKJWJB8X0 on 14 November 2012 څخه راخيستل شوی.

## د پوهني، سولي او منازعي خپل منځه اړيکو په اړه موردي لوستونه

کريک، ډي. (۲۰۰۲). "الف" برای الله، "ج" برای جهاد. د پاليسی نړيوال ژورنال ۱۹ (۱)، ۹۰ – ۹۴.

د پوهنې په اړه د INEE کاري ډله. (۲۰۱۱ الف). په نازکه حالاتو کې د پوهنې په نقش پوهیدل: افغانستان، بوسنیا هرزګوینه، کمبوډیا، لایبریا. د IIEP, Paris, France لخواخپور شوی. د http://unesdoc.unesco.org/images/0019/001915/191504e.pdf on 18 November 2012 څخه راخیستل شوی.

د پوهنې په اړه د INEE کاري ډله. (۲۰۱۱ ب). په کمبوډیا کې نازکه حالات او پوهنه. د IIEP, Paris, France لخواخپور شوی. د http://unesdoc.unesco.org/ images/0021/002110/211049e.pdf 23 November 2012 څخه راخیستل شوی.

کینګ، ای. (۲۰۱۱). نهم فصل: د پوهنې او د منازعې خواړخیزه اړیکې: د روواندا د زده کوونکو او ښوونکو انعکاس. مندی، ک. او پیټرسن، ایس. (Eds.)، په منازعه ځپلو سیمو کې ماشومانو ته پوهنه وړاندې کول: څیړنه، پالیسی، او په سیستم کې بدلون راوړلو لپاره. د جیکی کرک څخه په مننې (پی پی. ۱۳۷ – ۱۵۱). نیویارک، نیویارک: د ښوونکو د پوهنځي مطبوعات، د کولمبیا پوهنتون.

جیکي کرک، و وینتراپ، آر. (۲۰۰۷). د کډوالو لپاره د پوهنې پراختیا: په شمالي ایتهوپیا کې د ښوونکو د پرمختګ ملاتړ. د پوهنې نړیواله کتنه، ۵۳، ۷۱۵ – ۷۲۳.

کونز، سی. (۲۰۱۲). په ډنیډا سهیلي سوډان کې په بیړني حالاتو کې د Save the Childrenپوهنې شپږم راپور، چې تراوسه نه دی چاپ شوی.

کونز، سی. (۲۰۱۲). په سهیلي سوډان کې د آیي این اي اي لږ تر لږه معیارونه.. نیویارک، نیویارک: INEE. د https://sites.google.com/site/southsudaneducationcluster/ minimum-standards-for-education-in-emergencies on 21 October 2012 څخه راخیستل شوی.

میګل، سی. (۲۰۱۰). په بوسنیا او هرزګوینیا کې پوهنه او منازعه. پاریس: IIEP- یونیسکو. د http://www.iiep.unesco.org/fleadmin/user_upload/Info_Services_ Publications/pdf/2010/Bosnia-Herzegovina.pdf on 20 October 2012 څخه راخیستل شوی.

مګومبا، ایف. او سکی، ایس. (۲۰۱۲). د راتلونکي لپاره فرصتونه: په درداب کې د کډوالو ځوانانو لپاره لومړني حرفوی ټریننګونه: اوسلو: د ناروی د کډوالو کمیټه.

مک کینډلس، ای. (۲۰۱۲). د سولې لپاره ټولنیزی او اداري مرستې. د UNPSO لخوا جوړ شوی. د http://www.un.org/en/peacebuilding/pbso/pdf/peace_dividends.pdf on 18 November 2012 څخه راخیستل شوی.

موبرګ، ایل. او جانسن – ډیمن، ای. (۲۰۰۹). د بیارغونې لپاره د ځوانانو د پوهنې په اړه لنډ (YEP): په لایبیریا کې د ناروی د کډوالو اداري لخوا د ځوانانو د پوهنې پروګرام.

Save the Children. (۲۰۰۹). په نیپال کې د راتلونکي لپاره د منځنی ارزونې راپور بیا لیکنه مارچ ۲۰۰۹. د http://resourcecentre.savethechildren.se/content/library/ documents/rewrite-future-global-evaluation-nepal-midterm-country-report on 20 October 2012 څخه راخیستل شوی.

سمیتهـ ، ایم. (۲۰۱۰). څوارلسو فصل، ښوونځي د امن او خوندیتوب ځایونه: په ملکي نا ارامی او وسله والو شخړو کي پوهني ته د لاسرسي په اړه د نیپال موردی لوست. د بریدونو څخه د پوهني خوندي ساتل: (پي پی. ۲۲٦ – ۲۷۸) پاریس: یونسکو. د http://unesdoc.unesco.org/images/0018/001867/186732e.pdf on 14 November 2012 څخه راخیستل شوی.

سپینک، جی. (۲۰۰۵). په افغانستان کي پوهنه او سیاست: د سولي او بیارغوني لپاره د پوهني اهمیت. د سولي او پوهني ژورنال، ۲ (۲)، ۱۹۵ – ۲۰۷.

یونیسف. (۲۰۱۱). په فلسطین کي د اسرائیلي وسله وال بریدونو په ترڅ کي زیانمن شوي ماشومان (oPt) جولای ۲۰۱۱. د http://www.unicef.org/oPt/protection_6446.html on 14 November 2012 څخه راخیستل شوی.

وینټروپ، آر. او جیکي کرک. (۲۰۰۸). د یو ځلانده راتلونکي لپاره زده کړه: وسله والي شخړي، ښوونځي او د ماشومانو رواني هوساینه. د پوهني مقایسوی کتنه ، ۵۲ (۴)، ٦۳۹ – ٦٦۱.

## د تابیعت او روغې جوړې نصاب

تر ټولو مخکي پوهنه. (۲۰۱۲). د نړیوال ښارندوی پوهنه. دوها: د http://www.slideshare.net/jbernard44/eaa-education-for-global-citizenship on 14 November 2012 څخه راخیستل شوی.

INEE. (۲۰۰۴ - ۲۰۰۸). د سولي د زده کړو پروګرام. د وسیلو ټوله کڅوړه دلته تر لاسه کولای شی: http://toolkit.ineesite.org/toolkit/Toolkit.php?PostID=1117

## د ځوانانو او ماشومانو سره د سلامشورې لارښود

Save The Children. (۲۰۰۳). ښه! تاسي غواړئ چي د ماشومانو سره سلامشوره کړئ. د http://resourcecentre.savethechildren.se/content/library/documents/so- you-want-consult-children-toolkit-good-practice on 14 November 2012 څخه راخیستل شوی.

Save The Children. (۲۰۰۸). د ماشومانو لپاره د زده کړي د هوسا ځایونو مینول/لارښود. د http:// resourcecentre.savethechildren.se/search/apachesolr_search/child%20friendly%20 spaces%20manual Accessed on 14 November 2012 څخه راخیستل شوی.

یونیسف. (۲۰۰۷). اوس وخت چي مونږ ته غوږ ونیسی (د چمتوکوونکو لپاره لارښود). د ماشومانو نجونو په وړاندي د هر ډول تاوتریخوالی مخنیوی. د http://www.unicef.org/adolescence/fles/ Itstimetolistenus_EN(1).pdf on 14 November 2012 څخه راخیستل شوی.

یونیسف. (۲۰۰۲). د ارزوني تخنیکی یاددښتونه: ماشومان په څیړنه، څارنه او ارزونه کي راګډ دید: ستاسي مسئولیتونه: د یو مدیر په توګه ستاسي کړه وړ او مسئولیتونه.د http://www.unicef.org/evaluation/fles/TechNote1_Ethics.pdf on 14 November 2012 څخه راخیستل شوی.

# پنځمه ضمیمه: لارښود لړلیک


لاس رسی ۱۱

افغانستان ۲۵

مساوي لاس رسی ۲۵-۶

کینیا ۲۶

چټک ماخذونه۴۶

تفکري پوښتني ۲۸

افغانستان:مساوي لاس رسی ۲۵

دشخړو تحليل، دشخړو ديناميک، د تحليلونو محتويات، برخه اخيستونکي

ارزونه

د محتوياتو تحليل ۱۵-۱۶-۲۴-۴۳

د زده کړي لاسته راوړني ۵۰-۳۳-۳۲-۲۹

بوسنيا او هرزګوينا:۳۱ نصاب

موردی لوستونه:

کولمبيا:ارامه تعليم۶۲-۴

منابع ۶۷-۹

سيراليون:د تحليلونو پروسس ۵۶-۸

سويلي سودان:تعليم کول پالیسي ۶۱-۵۹-۴۰

عمومي تحليلونه ۵۴

د ماشومانو حفاظت

د ښاروندی نصاب ۶۹

کولمبيا: د سولي تعليمات ۴ – ۶۲

د ټولني اشتراک ۲۱

نيپال ۲۲

چټکي منابع ۴۵

تفكري پوښتني ۲۴

ټولنيزې منابع۲۲

شخړو ځپلې او نارامه محتواوې:تعريف ۱۲

د شخړو تحليل ۱۸-۱۶

فعاليتونه او وسايل ۵۴-۵

تعريف ۱۲،۱۶

منابع ۶۵

سويلي سودان۱۹

شخړې او تعليم ۸

منابع ۶۶-۹

د شخړې د محركاتو شننه ۵۵

د شخړو ځانگړتياوې ۵۴

د منازعي سره حساسه پوهنه

تعريف ۱۲،۱۳

منابع ۶۶

د شخړو حساسيت ۱۳

منابع۶۵-۶

له ماشومانو او ځوانانو سره مشوره كول۲۰-۱۵

د شخړو تحليل ۱۶-۱۵

د محتوياتو تحليل ۴۳-۲۴-۱۶-۱۵

د زده كړې لاسته راوړني ۵۰-۳۳-۳۲-۲۹

بوسنيا او هرزگوينا:۳۱ نصاب

اړخيزه مطالعات:

كولمبيا:ارامه تعليم۶۲-۴

منابع ۶۷-۹

سيراليون:د تحليلونو پروسس ۵۶-۸

سويلي سودان:تعليم کول پالیسي ۶۱-۵۹-۴۰

عمومي تحليلونه ۵۴

د ماشومانو حفاظت

د ښاروندی نصاب ۶۹

د ټولني اشتراک ۲۱

نیپال ۲۲

چټکي منابع ۴۵

تفکري پوښتني ۲۴

ټولنيزې منابع۲۲

شخړو ځپلي او نارامه محتواوې:تعریف ۱۲

د شخړو تحليل ۱۸-۱۶

فعاليتونه او وسايل ۵۴-۵

تعريف ۱۲،۱۶

منابع ۶۵

سويلي سودان۱۹

شخړې او تعليم ۸

منابع ۶۶-۹
د شخړو ځانګړتیاوې ۵۴
تعريف ۱۲،۱۳
منابع ۶۶
د شخړو حساسيت ۱۳
منابع۶۵-۶
له ماشومانو او ځوانانو سره مشوره کول۲۰-۱۵
د شخړو تحليل
ایتوپیا:دښوونکو انتخاب ۳۵

ارزونه ۱۵،۱۹،۲۰

چټکي منابع ۴۴

منابع ۶۶

ای ان ای ای معيار ۹،۱۰،۱۱

لاس رسی او روزونکی چاپیریال ۱۱،۲۵،۸،۷،۴۶
د تعلیم کولو پالیسي ۱۱،۳۸-۴۱،۳-۵۲
اساسي معیارونه ۱۱،۱۵-۲۴،۶-۴۳
ښوونکی ا و تعلیمي پرسونل ۱۱،۷-۳۴،۱-۵۰
روزنه او روزل ۱۱،۲۹-۳۳،۴۸-۵۰
د محتویاتو تحلیل ۱۵-۱۶-۲۴-۴۳
د زده کړي لاسته راوړني ۲۹-۳۲-۳۳-۵۰
بوسنیا او هرزگوینا:۳۱ نصاب
اړخیزه مطالعات:
کولمبیا:ارامه تعلیم۴-۶۲
منابع ۹-۶۷
سیرالیون:د تحلیلونو پروسس ۸-۵۶
سویلي سودان:تعلیم کول پالیسي ۴۰-۵۹-۶۱
عمومي تحلیلونه ۵۴
د ماشومانو حفاظت
د ښاروندی نصاب ۶۹
د ټولنې اشتراک ۲۱
نیپال ۲۲
چټکي منابع ۴۵
تفکري پوښتني ۲۴
ټولنیزې منابع۲۲
شخړو ځپلي او نارامه محتواوې:تعریف ۱۲
د شخړو تحلیل ۱۶-۱۸
فعالیتونه او وسایل ۵-۵۴
تعریف ۱۲،۱۶
منابع ۶۵

سویلي سودان۱۹

شخړې او تعلیم ۸

منابع ۶۶-۹

د شخړو ځانګړتیاوې ۵۴

تعریف ۱۲،۱۳

منابع ۶۶

د شخړو حساسیت ۱۳

منابع۶۵-۶

له ماشومانو او ځوانانو سره مشوره کول۲۰-۱۵

د شخړو تحلیل

منابع:

اړخیزه مطالعات ۶۴-۵۴

چټکي منابع ۵۳-۴۳

د موضوعاتو په اساس منابع۶۵-۹

د ځواب ورکونې کړنلاره ۱۵،۱۸

چټکي منابع۴۳

تفکري پوښتنې ۲۴

د تعلیم کولو حق ۸-۷

واندا:ارامه تعلیم۳۲

خدمتونه ۲۵،۲۷

تفکري پوښتنې ۲۸

سیرا لیون ۲۷

تعلیم او تولنیز خدمتونه

د تحلیل پروسس ۵۶-۸

سومالیا:د ښووونکو مرسته۳۶

سویلي سودان

لایبریا ۳۰

چټکي منابع ۴۹

تفکري پوښتنې ۳۳ ارامښت ۲۶-۲۵-۷

چټکي منابع۴۷

تفکري پوښتنې ۲۸

**INEE**

An international network for education in emergencies
Un réseau international pour l'éducation en situations d'urgence
Una red internacional para la educación en situaciones de emergencia
Uma rede internacional para a educação em situações de emergência
الشبكة العالمية لوكالات التعليم في حالات الطوارئ

## د منازعې سره د حساسې پوهنې لپاره د INEE لارښود یادښتونه

د یادداښتونو دا لارښود د منازعې سره د حساسې پوهنې لپاره د پالیسیو او پروګرامونو د جوړولو او پلي کولو لپاره ستراتیژۍ وړاندې کوي. په بیړنیو حالاتو کې د پوهنې لپاره د INEE د لږ تر لږه معیارونو *(تیارسی، غبرګون او بیا رغونه)* په بنسټ ولاړ، په دې لارښود کې د هر ډول منازعې په هر پړاو کې د پوهنې خدمتونه او آسانتیاوې برابرولو په هکله ګټورې لارښوونې، غوره کړنې او کړندودونه بیان شوي دي. دا په منازعه ځپلو او نازکه حالاتو کې د پوهنې د کارکوونکو، پالیسۍ جوړونکو او څیړنکو لپاره د کار وړ توکي دي. په دې لارښود کې ورکړل شوې ستراتیژۍ او سرچینې د کومې وړاندیز شوې نسخې په مانا نه، بلکه دې لپاره راوړل شوي چې فکر پرې وشي، خو چاپیریال او حالاتو سره یې عیارول ډیر اړین دي.

د یادداښتونو دا لارښود د INEE لږ تر لږه معیارونو، په منازعه ځپلو او نازکه شرایطو کې د منازعې سره دحساسې پوهنې د برابرولو لپاره د INEE انعکاسي توکو او په پالیسیو او پروګرامونو کې د منازعې سره د حساسې پوهنې ورګډولو لپاره د INEE د لارښوونکو اصولو سره همغاړی دی، چې د INEE په ویب پاڼه یې ترلاسه کولای شۍ. www.ineesite.org/toolkit.